لري، چې ترهماغې پورې درسره درومي اوبس . ﴿ نه خپلوځانونوته دګټې او زيان رسولولو واك لري، نه ورسره د مرګ اوژوند اونه د بيا ژوندي کولوتوان شته ﴾.الفرقان۲۵:۳

﴿اى پيغمبره!الله اوهغه مومنانان، چې په تاپسې روان دي درته کافي دي﴾. الانفال۸:۶۴

﴿ توکل وکړه پر هغه ژوندي ذات چې مرګ نه لري﴾.الفرقان۲۵:۵۷

﴿ بېشکه د الله په مقابل کې دوي له تا څخه دفاع نه شي کولاى﴾. الجاثيه۱۹:۴۵

شاعر وايې : ته دې خپل لاسونه د الله تعالٰى په رسى ـ اسلام ـ ټينګ کړه ځکه چې کله درسره نورو ستنو ـ د اميدځايونو- جفا وکړه، نو دا رسى يوه کلکه ستنه ده .

***

## پر خپل مال پام کوه

پيغمبر(ﷺ) وايي : (( نېستمن به نه شي هغه کس، چې په مال لګولو کې له منځ لارى څخه کار اخلي )) .

هغه فلسفه چې خلکو ته وايي خپل مالونه بې ځايه ولګوي يا ببخي څوك مال ټول نه کړي، دا دواړه سم نظرونه نه دي، دا په اصل کې د هندي عبادت کوونکواو ناپوهه صوفيانو فلسفه ده . اسلام خو انسان عزتمن کسب يا دې ته رابولي چې پاك مال ترلاسه او په يوه ښه لار کې يې ولګوي، چې بياهمدغه انسان پخپل مال وياړمن اوسي . رسول الله (ﷺ) وايي : (( ښه اونېك مال هغه دى چې د نېك بنده په لاس کې وي )). حديث حسن .

د غمونو او اندېښنو يو لامل هم د پورونو زياتوالى يا سخته او تباه کوونکي نېستي ده . رسول الله (ﷺ) وايي : (( ايا تاسو د سرکشې شتمنى او يا د نابودې نېستى انتظار نه کوئ )) .

له همدې امله به رسول الله (ﷺ) د کفرترڅنګ له فقرڅخه هم پناه غوښته او ويل به يې : (( اى الله ! زه له کفر اونېستى څخه تاته پناه دروړم )).

بل حديث دی : (( نژدې ده چې نېستي کفر وګرځي )). د يادونې وړ ده چې پورتنی حديث له هغه بل حديث سره په ټکرکې نه دی چې" ابن ماجه " روايت کړی، چې رسول الله (ﷺ) وايي : (( له دنيا څخه بې پروايي غوره کړه، نو د الله به خوښ شي او د خلکو له شتمنيوڅخه مړه خوا اوسه، نود خلکوبه خوښ شی )).

سره له دې چې په دې حديث کې کمزوري هم شته، خومعنا يې دا ده چې له تاسره بايد دومره د ضرورت وړ څه شی وي، چې تا د خلکو نه له مرستې غوښتوڅخه وژغوري، او دومره څه درسره وي چې ته دهغوی په مخ کې له سپکاوي څخه خوندي شې . حديث شريف دی : (( څوك چې له خلکو څخه بې پروايي غوره کړي، نو الله تعالی به يې شتمن کړي )). ( البته يا حقيقي شتمني چې مال او يا معنوي چې هغه د زړه مړښت دی) .

شاعروايي : ماخپل لاس هېڅکله هم د همدغه لاس له خالق څخه پرته بل چا ته نه دی اوږد کړی او نه مې له منت کوونکي انسان څخه کله کوم دينار غوښتی دی .

(( بېشکه که ته خپل وارثان شتمن پرېږدې غوره به وي له دې نه چې هغوی نېستمن پاتې شي او بيا له خلکو نه ګدايي کوي )). صحيح حديث دی.

شاعر وايي : زه په مال سره هغه څه بندول غواړم، چې نوروتباه کړي، اونيمګړي يې پرېښي، چې هغه د خلکوهغه برخې دي چې په بندولو يې نه دي توانېدلي . يو بل شاعر د نفس د مړښت او درنښت په اړه وايي : غوره وينا مې دا ده چې تاته ووايم واخله، او بدترينه وينا مې دا ده چې تاته ووايم، هېڅکله نه او شايد بېنوا دې ولېږم ).

صحيح حديث دی چې : (( جګ لاس له ټيټ لاس څخه غوره دی، له جګ لاس څخه موخه مرسته کوونکی او له ټيټ لاس څخه اخيستونکی- سوال کوونکی- دی )).

﴿ له دې امله چې له سوال څخه ډډه کوي، نوناخبره خلك پرې د شتمنو ګومان کوي ﴾. آل عمران ۳:۲۷۳

نچوړ دا، په دې خاطرچې څوک مال درکړي او يا درته د خرڅ څه لار برابره کړي، نوهېڅ چا ته تملق - چاپلوسي- مه کوه، حال دا چې الله تعالی د خپل

مخلوق د روزۍ، اجل، پیدایښت د ټولوذمه واري کړې ده، اودا کارله دې امله هم ښه نه دی، چې د ایمان درجه خورا لوړه ده، د ایمان خاوندان د شرف څښتنان دي، عزت د همدوی دی، د دوی سرونه تل لوړ او پوزې یې هسکې وي . ﴿ آیا له کافرانوسره عزت غواړي؟ بېشکه ټول عزت له الله سره دی ﴾. النّسآء۱۳۹:۴

" ابن الور دي " وايي : زه هېڅکله د چا لاس ښکلول نه خوښوم، بلکې د لاس غوڅول له ښکلولوڅخه ډېرغوره ګڼم، ځکه که هغه ما ته ددې کړنې ـ لاس ښکلولو- څه بدله راکړي، نو زه به د هغه د دې ښېګڼې منت باریم، او که څه را نه کړي نوهماغه خجالت مې هم بس دی .

***

## له الله پرته بل چا پورې ځان مه نښلوه

چې د ژوند، مرګ او روزۍ ورکولو څښتن یواځې یو الله دی، نو بیا له خلکو څخه وېره او پرېشاني د څه له پاره !؟ زه چې ګورم د اندېښنواوغمونو ترټولوسترلامل په خلکو پورې ځان تړل، دهغوی خو شحالي او رضا لاس ته راوړل، همدغوخلکو ته ځان نژدې کول، د هغوی د ستاینې شوق او ورپسې په بده وینا خفه کېدل دي، چې دا ټول د توحید د پوهې د کمښت نښه ده .

شاعروايي : نور ژوند دې تریخ وي، خو ته دې خوشحاله اوسې اوچې ته راڅخه راضي شې، نورخلك دې په قهروي . (زه يې پروانه لرم) کله چې ستامینه راسره ښه پخه شوه ـ ته مې په خپل رحمت کې ډوب کړې ـ بیا نورهرڅه اسانه دي، ځکه چې د ځمکې پر سرټول شیان خاورې کېږي .

***

## د سینې د پراختیا لاملونه

ابن القیم (رحمه الله) څو داسې مسئلې لیکلي، چې د سینې تنګوالی پای ته رسوي، ترټولو مهم یې توحید یعنې الله تعالیٰ په عبادت، ربوبیت، صفاتو او حسنی نومونو کې یوګڼل دي، دا ځکه د بنده توحید چې څومره پاك، خالص اوسپېڅلی وي، نوپه هماغه کچه به یې زړه هم پراختیا مومي، چې دا بنده به ورسره د دنیا له پراختیاڅخه هم د ډېرې پراخۍ احساس کوي، خومشرك اوملحد انسان په حقیقت کې مړدی او ژوند نه لري . الله (ﷻ) وايي : ﴿ څوك چې زما له

قرآن نه مخ واړوي، نوپه دنیا کې به یې ژوندتنګ وي، او د قیامت په ورځ به یې وړوند راپاڅوم ﴾. طه ۲۰:۱۲۴

﴿چا ته چي الله د هدایت لار پرانیزي، نود هغه سینه د اسلام په لور پراخوي ﴾. الانعام۶: ۱۲۵

﴿ الله (ﷻ) چې د چا سینه د اسلام په دین پراخه کړه بیا نو همدغه کس د خپل رب له خوا په روښانه لار روان وي﴾. الزّمر ۳۹: ۲۲

څوک چې د الله (ﷻ) دښمنان دي، نوهغوی ته الله (ﷻ) د سیني د تنګېدو، وېرې، پرېشانۍ او روحي ناقرارۍ اخطار ورکوي : ﴿ موږ به ډېر ژر دکافرانوپه زړونوکي ډار واچوو، ځکه چي له الله تعالی سره یې هغه څه شریك کړي، چې الله پرې کوم دلیل نه دی رالیږلی﴾. آل عمران ۳:۱۵۱

﴿ هلاك شول هغه خلك چې د الله له ذکرڅخه یې لا زړونه نورهم سخت غافله شول ﴾. الزّمر۳۹:۲۲

﴿ الله چې د چا د بېلارۍ اراده وکړي، نوسینه یې داسې ورتنګه کړي لکه اسمان ته چې خېژي﴾. الانعام ۶:۱۲۵

بل هغه څه چې سینه پرانیزي، ډاډه کوي یې او حوصله یې ډېروي، ګټورعلم دی، ځکه چې په ټولوخلکو کې دینپوهان د پراخو او ډاډه سینو څښتنان، زیات خوښ اوهوسا دي، ځکه چې دوی د نبوي میراث څښتنان دي . ﴿ تاته یې هغه څه دروښول چې پخوا پرې ته نه پوهېدې﴾. النّسآء ۴: ۱۱۳ ﴿ ای پیغمبره! پوه شه چې له الله نه پرته هېڅوك دعبادت وړ دي ﴾. محمد ۱۹:۴۷

د سینې د پراختیا او ډاډ له لارو چاروڅخه یو هم نېک عمل دی، ځکه چې نېك عمل زړه ته نور اومخ ته ځلاورکوي، د انسان روزي پراخوي او دخلکو په زړونوکې ځای نیسي . ﴿ نوهرومرو به یې په اوبو خړوبه کړو﴾. الجن ۷۲:۱۶

بله لاره یې زړورتیا ده، ځکه چې شجاع ـ زړه ور ـ انسان د پراخ فکراو قوي زړه څښتن وي، بنیاد یې ټینګ وي، په دې باور وي چې بخښوونکي رب ته ورګرځېدونکی دی، نوله دې امله نه هغه د پېښو اوستونزو پروا کوي، نه یې دروغجنې ډنډورې لړزوي او نه یې د راتلونکي وخت په اړه خطر او ډارونکي

اندېښنې وېروي . همدا رنګه د سينې د پراختيا بل لامل له ګناهونوڅخه ځان ژغورل دي،ځکه چې ګناهونه روان ژوند خړوي،تورې تيارې او وحشت خپروي.

شاعر وايی : زه دا ګڼم چې ګناهونه زړونه وژني اوبېشکه همېشه ګناهونه خپل خاوند ته سپکاوی په مېراث کې پرېږدي . اود دغو لاملونوله جملې څخه يو بل د مباحو شيانو، لکه زياتې خبرې، زيات خوراك، ډېرخوب او بنډار

څخه ځان ژغورنه ده .﴿ مؤمنان هغه کسان دي چې له بې معنا کارونو څخه مخ اړوي، يعنې ځان ساتي﴾. المومنون ۳:۲۳

﴿هېڅ خبره د انسان له خولې وتلې نه وي، مګردوه څارونکي ليکلوته حاضر او تيار وي ﴾.ق ۱۸:۵۰

﴿ خورئ، وڅښئ اوزياتی مه کوئ ﴾.الاعراف ۳۱:۷

يوشاعر وايي : ای د بسترملګريه ! تا ډېرخوب وکړ، بېشکه د دنيا له ژوند څخه وروسته يو بل اوږد خوب ( راحت ) راتلونکی دی .

***

## الٰــهي پرېکړې سرته رسېدلي دي

يوکس چې د اندېښنواوتشويشونو پر ناروغۍ اخته و، د روحي او عصبي ناروغيو له ځانګړي طبيب څخه يې د درملنې پوښتنه وکړه، هغه طبيب چې مسلمان و ورته يې وويل : ته بايد پوه شې چې د ټول مخلوق د پيدايښت پرېکړه په ازل کې شوې ده ان تردې چې هېڅ حرکت او اشاره هم د الله تعالیٰ له ارادې او امرڅخه پرته نه شي ترسره کېدای، چې داسې ده نوبياغم او پرېشاني د څه له پاره؟

رسول الله (ﷺ) وايي : (( الله تعالیٰ د مخلوقاتو په اړه ټولې پرېکړې د هغوی له پيدايښت څخه پنځوس زره کاله پخوا ليکلي دي )) .

" متنبی " وايي : پست انسان ته واړه کارونه هم سترښکاري، خود ستر انسان په سترګو کې لوی کارونه هم واړه ښکاري .

***

## د خپلواکۍ خوند

"راشد" په خپل کتاب "المسار"کې وايي : هغه څوك چې درې سوه شپیته ډوډۍ، یوه بوشکه غوړي اوشپاړس سوه داني خورما په کور کې ولري، نوهېڅوك هغه د ځان غلام کولا ی نه شي . یو پخوانی دینپوه وايي، چا چې په وچه ډوډۍ او اوبوګوزاره وکړه، نو دی له الله تعالٰی پرته د نورو ټولو له غلامۍ څخه خوندي شو .﴿ د هېڅ کارانګېزه یې دا نه وي چې د چا د ښېګڼې ځواب ووایي﴾.اللّیل ۹۲:۱۹

شاعر وايي : ما د خپلوهیلواوغوښتنو ومنل، هیلو زه خپل غلام کړم، خو که ما قناعت او ګوزاره کړې وای، نو زه به اوس یوخپلواک انسان وای .

بل شاعر وايي : زه چې ګورم نو بدمرغه کسان له دنیا څخه تنګ نه دي، حال دا چې دوی په کې بربنډ او وږي دي، زه دا منم چې دنیا کله کله خلک خوشحالوي، خودا په حقیقت کې د اوړي هغې وریځې ته ورته ده چې له راتلو نه لږه شېبه وروسته بېرته خوره شي .

هغه کسان چې په مال، څوکۍ او دنده کې نېکمرغي لټوي، ډېر ژر به دوی پوه شي چې په حقیقت کې دوی سخت زیانمن شوي، او له اندېښنواوغمونو پرته یې نور هېڅ نه دي ترلاسه کړي .

﴿ نن ماته لغړ راغلئ، لکه څرنګه مې چې په لومړۍ ورځ پیداکړي وئ اوله تاسوڅخه هغه شیان پاتې شول، چې موږ درکړي وو﴾. الانعام ۶:۹۴

﴿ تاسود دنیا ژوند ته ډېره پاملرنه کوئ، په داسې حال کې چې د آخرت ژوند غوره او تلپاتې دی ﴾.  الأعلی ۸۷:۱۶-۱۷

***

## د سفیان ثوري بالښت له خاورو و

" سفیان ثوري " چې یوپخوانی نامتوفقهي عالم دی دحج مراسم یې تر سره کول په مزدلفه کې یې د خاورې یوې ډېرۍ ته تکیه کړې وه، خلکو ورته وویل، ته خود ټولې دنیا د حدیثواستاد یې، خاورو ته دې ولې تکیه کړې ده، هغه

ورتهوویل، بېشکه زما دا بالښت د وخت د خلیفه "ابوجعفر" له بالښت څخه غوره اوستر دی .

شاعر وایي : کاشکې هغه لاس چې تاته په ذلت سره دراوږدیږي، تاته تر رسېدو مخکې په توره غوڅ شي .

﴿ ووایه - ای پیغمبره- موږ ته له هغې پېښې پرته چې الله راته لیکلې وي بله نه رارسیږي ﴾. التّوبه ٩:٥١

***

## د ډېرورچیانوڅنګ ته مه ورځه

دروغجنې ژمنې، ناسم او ناکام اټکلونه چې ډېرخلك ترې په و پره او تشویش کې وي له وهمونواو اندېښنو پرته نورڅه نه دي . الله (ﷻ) وایي : ﴿ شیطان تاسو له فقرڅخه ډاروي اود بدۍ په لور مو بولي، اوالله پاك د بخښنې او د پراخۍ ژمنه درسره کوي، الله پراخ اوپه هرڅه پوه دی ﴾. البقره ٢:٢٦٨

پرېشاني، ساه تنګي اود معدي زخم د ناهیلۍ، ناکامۍ اووروسته پاتې کېدو سترې پایلې دي .

شاعر وایي : ته موږ ته سزا مه راکوه ځکه موږ ته پرېشانۍ، چې د شپې په تیارو کې يې زموږخوب تېښتولی دی سزا راکړې ده .

***

## ستغې سپورې تاته هېڅ زیان نه شي رسولی

د امریکې پخواني ولسمشر" ابراهام لینکولن " به ویل، زه هغه لیکونه چې ماته راځي او له ستغو سپورو ډک وي نه لولم او نه يې پرانیزم، ځواب خویې لا پرځای پرېږده، ځکه که زه پردغه کارځان بوخت کړم، نوبیا خوبه زه خپل ولس ته نورهېڅ وړاندې نشم کړای . ﴿ نومخ ترې وګرځوه ﴾. السّجده ٣٢:٣٠

﴿ له دوی نه په ښه ډول څنګ وکړه ﴾. الحجر١٥: ٨٥

﴿ ای پيغمبره ! مخ ورځخه واړوه او ورته ووايه چې ستاسو له شرنه پناه غواړم ﴾. الزخرف ۸۹:۴۳

حسّان (رضی الله عنه) وايي : د سپکوخلکو ستغې سپورې اود خلکو د ابرو په اړه خبرې کول نه څه زيان رسولای شي او نه څه ارزښت لري، زړور مسلمان ته په کار دي چې هيڅ پاملرنه ورته ونه کړي .

په دويمه نړيواله جګړه کې د امريکا د سمندري ځواکونوعمومي قوماندان يوه وتلې څېره وه، ترځان ټيټو کسانوسره به يې عادي چارچلند درلود، په داسې حال کې چې هغوی به د ده د اهانت ـ سپکاوي ـ ترڅنګ هغه ته په کنځلوهم اړ نه وو، تردې چې ويل به يې اوس زه د خلکو له نيوکوسره عادي شوی يم، هيڅ اغيز رابانديې نه کوي، ځکه چې عمرمې زيات شوی او زما باور دی چې د خلکوخبرې د چا ارزښت او درنښت له منځه نه شي وړلای، او نه يو کلك ديوال نړولی شي . شاعران له ماڅخه څه غواړي، حال دا چې زماعمر له څلويښتوکلونوڅخه ډېر شوی دی ؟. عيسیٰ (عليه السلا م) ويلي دي : تاسو له خپلو دښمنانو سره محبت وکړئ يعنې دا چې هغوی ته هراړخيزه بخښنه وکړئ، چې تاسو له غچ اخيستلواو له هغې کينې او دښمنی څخه بچ شئ، کوم چې ستاسو ژوند له منځه وړي .

﴿ متقيان خلکوته بخښنه کوي او الله نېکان خوښوي ﴾. آل عمران۳:۱۳۴

د مکې د فتحې په ورځ رسول الله (ﷺ) مشرکانوته وويل : (( ځئ ولاړشئ ! تاسو خلاص ياست )) . يوسف (عليه السّلام) خپلو ورونوته وويل : ﴿ نن پرتاسو کومه پړه نشته ﴾. يوسف ۹۲:۱۲ ﴿ الله له پخوانيوګناهونوڅخه درته تېرشو﴾. المآئده۵:۹۵

***

## په کائـنـاتو کې د ښکلا درس ولوله

د ذوالـجلال والاکرام ذات د مخلوق مطالعه اود هغه په پرانيستي کتاب ـ کائناتو ـ کې ځيرکېدل او ورڅخه خوند اخيستل سينه پراخوي، الله تعالیٰ د طبيعت اوپيدايښت په اړه وايې :

﴿موږ د باران په اوبو ښايسته باغونه رازرغون کړي دي ﴾. النّمل ۶۰:۲۷

﴿دا د الله پيدايښت دی ماته وښا يئ، چې له الله تعالی پرته نورو خدايانوڅه پيداکړي دي ﴾. لقمان ۱۱:۳۱

﴿ ای محمده ! ورته ووايه هغه دلايل په غور وګورئ، چې په اسمانونو او ځمکو کې دي ﴾. يونس۱۰۱:۱۰

زه به ځو پاڼې وروسته تاته د الله تعالی د کائناتو په اړه يوڅه رانقل کړم، چې هغه دالله تعالی په لويوالي اوحکمت دلالت کوي : ﴿ هغه ذات چې هرشي ته يې خپل جوړښت ورکړ اوبيا يي ورته ښودنه وکړه﴾. طه۵۰:۲۰

شاعر وايي : د فضا په کتاب کې زه ځيني داسې حالات لولم، چې تر اوسه ما په خپل کتاب کې نه دي لوستلي، لکه، ځليدونکی لمر،روښانه ستوري، نهرونه، وياله، غونډۍ، ونې، بوټي، مېوې، رڼا،هوا، اوبه .

﴿ الله تعالی د برکت ښتن او له ټولوپيداکوونکوڅخه ښکلی پيداکونکی دی﴾. المؤمنون ۱۴:۲۳

شاعر وايي : د مخلوقاتو په هرڅه کې د الله تعالی د قدرت نښه شته، ټولې نښې په دې دلالت کوي چې الله (ﷻ) يو دی او شريك نه لري .

"ايليا ابوماضي" وايي : ای له ناروغۍ څخه سرټکونکيه ! ته هېڅ ناروغي نه لرې، که ته په رېښتيا ناروغ شې، نوبيا به ته څرنګه يې؟ ته په ګلاب کې اغزيو ته ګورې، خو له دې وړوند يې چې له پاسه يې له شبنم څخه جوړتاج ووينې، هغه څوک چې خپل نفس يې له ښکلا څخه خالي وي، نوهغه به په نړۍ کې بل هېڅ ښايسته شی ونه ګوري .

***

## ايا دوی اوښ ته نه ګوري، چې څه رنګه پيدا شوی دی؟

"اينشتاين" وايي: څوك چې نړۍ اوموجوداتو ته ښه ځيرشي، نو پوهيږي چې پيداکونکی يې يوحکيم ـ پوه ذات ـ دی چې هغه لوبې نه کوي .

﴿ الله هغه ذات دی چې د هرشي جوړښت يې په ډېرښه ډول پيدا کړی دی﴾. طه ۵۰:۲۰

﴿ موږځمکه او اسمان په ناحقه نه دي پيدا کړي ﴾. الدّخان ۳۹:۴۴

﴿ايا تاسوګومان کوئ چې تاسومې بې هدفه پيدا کړي ياست﴾. المؤمنون۱۱۵:۲۳

يعنې دا چې هرڅه په څرګند حساب، حکمت، ترتيب او نظام سره منځته راغلي، نو هرڅوك چې دغه الٰهي نظام ته ځيرشي پوهيږي، چې داسې يو ذات شته چې هغه د قدرت څښتن دی اود ټول عالم کارونه په اټکل نه کوي .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ لمراوسپوږمۍ په يوه حساب دي ﴾. الرّحمن ۵:۵۵

﴿ له لمرسره نه ښايي چې سپوږمۍ ونيسي او نه شپه له ورځې نه لومړۍ کېداشي، ټول په خپل محورکې څرخيږي ﴾. يس ۴۰:۳۶

***

## حرص ګټه نه لري

رسول الله (ﷺ) وايي : (( هېڅکله به يونفس ترهغې پورې مړنه شي، چې خپله روزي او د ژوند نېټه يې نه وي بشپړه کړې )).

چې داسې ده، نوبيا ولې فريادونه، لالهاندي او ولې دا ډول حرص وشي؟ ﴿ الله هرشي په اندازه کړي ﴾. الرّعد۸:۱۳

﴿ د الله تعالیٰ هرکار په اندازه فيصله شوی دی ﴾. الأحزاب ۳۸:۳۳

***

## ستونزې ستا ګناهونه رژوي

شاعر"ابن المعتز" وايي : په الله تعالٰی باندې د باوري شخص سپرلۍ خومره ښه ګام اخلي، او تک يې څومره ګړندی دی ! صحيح حديث دی چې رسول الله (ﷺ) وايي : (( داسې يومؤمن بنده به نه وي چې هغه ته څه پرېشاني، غم، درد، ستوماني او ناروغي ورسيږي، ان تردې که کوم اغزی هم ورچوخ شي، نو الله (ﷻ) يې په بدل کې واړه ګناهونه رژوي )).

خو دا دهغه چا له پاره ده چې زغم ولري، له الله تعالىٰ څخه بدله وغواړي، الله (ﷻ) ته بېرته په توبه ويستلوسره وروګرځي، او په دې وپوهيږي، چې دغه تعامل او ورکړه راکړه يې له داسې ذات سره ده چې ورکړه يې بې منته ده . "متنبي" په خپلوحکميانه بيتونوکې چې د بنده قوت او ډاډ لا پسې ډېروي وايي : يعنې ته له خپلې زمانې سره ترهغه وخته بې پروا چلېږه، چې ستا په بدن کې روح وي، ځکه هغه خوښي چې تا خوشحالوي تلپاتې نه ده، او نه ستا خفګان ستا ورك شوى شى تاته راګرځولاى شي .

﴿په دې خاطرچې پرهغه شيانوخفه نه شئ، کوم چې ستاسوله منګولو نه وتلي وي او نه په هغه څه خوښ شئ، چې تاسوته يې درکړي دي﴾.الحديد ۵۷:۲۳

***

## الله موږ ته کافي دى اوهغه ښه کارجوړونکى دى

کله چې ابراهيم (عليه السلام) اور ته واچول شو، نودا کلمه يې زمزمه کوله ﴿حسبنا الله ونعم الوکيل﴾، الله تعالىٰ ورته اورسوړکړ اوهمدا کلمه زموږ پيغمبر(ﷺ) د اُحد په غزا کې وويله، نوالله (ﷻ) يې مرسته وکړه . کله چې کافرانو ابراهيم (عليه السلام) په ټال راوځړوه، نو جبرائيل (عليه السلام) ورغى او ورته يې وويل : ايا ماته څه اړتيا لرې ؟ ابراهيم (عليه السلام) ورته وويل، تاته مې هېڅ اړتيا نشته، خوالله تعالىٰ ته اړتيا لرم . د سمندر ځانګړتيا ډوبول او د اور سوځول دي، خو په (حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ) سره سمندر موسىٰ (عليه السلام) ته وچ او اور ابراهيم (عليه السلام) ته سوړشو . موسىٰ (عليه السلام) چې وليدل مخې ته سمندر اوشاته دوښمن دى، نو ويې ويل : ﴿ نه هېڅکله نه! بېشکه له ماسره مې خپل رب دى او ژر دى چې لاره به راته وښايي ﴾. الشّعرآء ۲۶:۶۲

نوالله تعالىٰ خلاص کړ . د سيرت په کتابونوکې يادونه شوې، چې رسول (ﷺ) له مشرکينوڅخه د ثورغارته پناه يوړه، نوالله (ﷻ) يوه کوتره د دې له پاره وګومارله، چې د غار په خوله کې خپله ځاله جوړه کړي او غڼې ته يې دا دنده وسپارله، چې پرهماغه ځاى خپل کورجوړکړي، کله چې مشرکين غارته ورسېدل، نو ويې ويل : ناشونې ده چې محمد غار ته ننوتى وي .

شاعروايي : دوى دا ګومان درلود چې کوترې او غڼې چې دا ځاله جوړه کړې، نو ناشونې ده چې محمد (ﷺ) دې دلته ننوتى وي، د الله تعالىٰ پاملرنې هغه له

دې ځخه بې پروا کړ اودې ته يې اړ نه کړ، چې زغرې - جنگي لباس - چمتو کړي، او يا لوړې مانۍ او برجونه جوړکړي . دا الهي پاملرنه او ساتنه ده، خو چې بنده يې د زړه په سترگو ويني او دا نظر ولري چې داسې رب شته، چې هغه زورور، مرستندوی، له رحمت نه ډک ملگری اورحم کوونکی ذات دی، چې بنده ورته بېرته ورگرځي .

شاعر"احمدشوقي"وايي : کله چې د الـهي پاملرنې سترگې تاته دروارړي نو بيا ته قرار ويده شه، ځکه چې بيا ټولې ستونزې له امن نه ډکې دي .

﴿ بېشکه چې ته زموږ د سترگوترڅارلاندې يې﴾. الطّور ۴۸:۵۲

﴿ الله ښه ساتونکی اوله ټولورحم کونکوڅخه ښه مهربان دی﴾. يوسف ۶۴:۱۲

***

## د نېکمرغۍ جوړونکي اسباب

امام ترمذي دا حديث رانقلوي : (( چاچې په خپل استوگنځي کې له امن نه ډکه شپه تېره کړه، په ځان روغ او د هماغې ورځې خوراک ورسره و، لکه ټوله دنيا چې ورته د نعمتونوسره ورکړل شوې وي )).

کله چې انسان د خوراك، څښاك او استوگنځي په لاسته راوړلو وتوانېده اوله دې سره سره ډاډمن اوپه بدن روغ و، بېشکه چې له ټولوڅخه غوره نېکمرغي ښه خوښي اوخيرونه يې ترلاسه کړي، اودا ډول پېرزوينه د ډېروخلکو په برخه ده خوهغوی ورته نه گوري او نه په کې غورکوي، الله (ﷻ) خپل پيغمبرته وايي :

﴿ پرتاسو باندې مې خپلې پېرزوينې بشپړې کړلې ﴾. المائده ۳:۵

نوالله تعالیٰ پرخپل پيغمبرباندې څه لوربېنه کړې ده ؟ ايا هغه مادي پېرزو وه، غذا وه، مانۍ او که کورونه، سپين زر او که سره زر وو؟ حال دا چې هغه هېڅ هم نه درلودل ؟ بېشکه دغه پيغمبربه په يوه داسې ختينه کوټه کې ويده کېده، چې چت يې د خورما له لختوڅخه جوړ و، هغه به د لوږې له امله په خېټې پورې دوه تيږې ترلې وې، د خورما په پزکي باندې به يې ډېره لګوله، چې ډډې

مبارکې به يې تغمې کېدې او د دېرش لپو وربشو په بدل کې يې خپله زغره په يوه يهودي ګروکړې وه، هغه مبارك به درې ورځې ګرځېده، خوخرابه خورما به يې هم نه موندله چې ځان پرې موړکړي . ليکوال دا موضوع په شعرکې داسې انځور وي : ته په داسې حال کې وفات شوې چې ستا زغره د لږو وربشو په بدل کې ګرو وه، او ستا د وفات ترنېټې پورې هغه ګانه همداسې پاتې وه، ځکه چې په تا کې د يتيمۍ خوږې اوغوره معناګانې پرتې دي، ان تردې چې ای اتله ! ته د يتيمانو پلار ونومول شوې . همدارنګه په بل شعر کې يې داسې ويلي دي : تا د لوړوستنولرونکو مانۍ پرځای په يوه ختېنه کوټه کې ګوزاره وکړه، تا د ښېګڼو داسې هسك برجونه جوړ کړي، لکه د خيمو په څېر چې ترټولوښکلې خېمې دي .

﴿ ستا له پاره آخرت له دنياڅخه غوره دی، ډېرژربه ستا رب هغه څه درکړي چې ته پرې خوښېږې ﴾. الضّحیٰ ۹۳:۴

﴿ ای پيغمبره ! موږ تاته د کوثرحوض درکړی دی﴾. الکوثر ۱۰۸:۱

***

## د لوړ منصب کړاوونه

د ژوند له ستومانيوڅخه يوه هم لوړمنصب او څوکۍ وي،"ابن الوردي" وايي، د منصب کړاوونو زما قوت کمزوری کړ، حيرانتيا ده زما ستونزو ته چې زه يې له ټيټوخلکو سره په ټيټ او پاس کې ګالم . نچوړ دا چې د منصب باج ډېر لوړدی، ځکه چې د مخ اوبه، روغتيا اوسوکالي له انسان څخه اخلي، او ډېرکم داسې خلک به وي، چې هغوی له دغو ستونزوڅخه خلاص وي، چې هره ورځ يې دوی د خپلو وينو، خولو، شان، راحت، عزت، ابرو اوشرف په قيمت اخلي .

رسول الله (ﷺ) يوه صحابي ته وايي : (( ته امارت - سرمشري - مه غواړه )). بل حديث دی چې : (( امارت ښه شودې وروونکې او ناوړه شودې پرې کوونکې موړده )). يعنې پيل يې خوندور او پايله يې ترخه ده. ﴿ واك مې له منځه ولاړ﴾. الحآقّه ۶۹:۲۹

شاعروايي : ته داسې وګڼه چې د دنيا مال تاته پرېمانه راځي، خو ايا د دې دنيا پای بيا هم ورکېدل او فنا کېدل نه دي ؟ ﴿ يواځې ستا دعزتمن او لوی رب مخ به پاتې شي ﴾. الرحمن ۵۵:۲۶

یوه نېك عمله سړي خپل زوی ته نصیحت کاوه چې ای زویه ! ته ځان له مشرۍ څخه وساته، ځکه چې مشري ډېردردونه منځته راوړي، یعنې ته هېڅکله مشري اوصدارت مه خوښوه، ځکه چې د خلکو انتقادونه ـ نیوکې- کنځلې، تنکول او باج یواځې همدغوخلکوته مخامخ وي . شاعروايي : بېشکه نیمايي خلك د چاړواکو دښمنان وي او هغه هم په داسې حال کې چې هغوی عدل او انصاف وکړې، که نه نو بیا خو یې ټول دښمنان وي .

***

## لمانځه ته مخه کړه

﴿ ای مؤمنانوپه صبراولمانځه سره مرسته وغواړئ ﴾. البقره ۲:۱۵۳

رسول الله (ﷺ) چې به کله کوم کارته اندېښمن شو، نولمانځه ته به یې مخه کړه او وبه یې ویل : (( ای بلاله ! موږ په لمانځه سره قرارکړه)). یعنې د لمانځه له پاره اذان وکړه، چې لمونځ وکړو او هوسا شو . کله به یې داسې هم ویل (( زما د سترګو یخوالی په لمانځه کې پروت دی )).

کله چې سینه تنګه، کارستونزمن شي، چلونه ډېرشي، نوجومات ته منډه کړه اولمونځ وکړه . کله چې ستاورځې تورې تیارې او شپې ګډوډې شوې، او ملګري بدل شي، نو تا ته په کار دي چې لمونځ وکړې . رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به په خپلو لویوتکلارو کې په لمانځه سره زړه تنګي له منځه وړله . لکه د بدر، احزاب او نورو مهموغزاګانو اوحالاتو په وخت کې .

د فتح الباري د لیکوال "حافظ ابن حجرالعسقلاني" په اړه ویل شوي چې هغه یو وخت په مصرکې یوې قلا ته روان و، په لار کې غلو راګېر کړ، په دې وخت کې هغه په لمانځه پیل وکړ او د لمونځ په برکت الله تعالی هغه له غلوڅخه وژغوره . "حافظ ابن عساکر" او "ابن القیم" په خپلو کتابونو کې یادونه کړې، چې یونېك سړي ته د شام په لاره کې یو غل راووت، غل ورپسې وسله راواخیسته چې مړ یې کړي، نوهغه نېك سړي ورڅخه لږ وخت وغوښت چې دوه رکعته لمونځ و کړي، د لمانځه په حالت کې ورته دا ایت وریاد شو : ﴿هغه ذات څوك دی چې د ارانسان سوال قبلوي﴾.النّمل۲۷:۶۲

نوهمدغه ایت یې درې ځله تکرار کړ، په دې وخت کې یوه پرېښته له اسمانه راغله نېزه ورسره وه او هغه غل یې پرې وواژه، بیا یې وویل ، زه د هغه چا استازی یم چې کله ورڅخه یو اِرانسان غوښتنه وکړي هغه یې قبلوي .

﴿خپلې کورنۍ ته د لمانځه امر وکړه اوپه خپله هم پرې کلك اوسه﴾. طٰه۲۰:۱۳۲

﴿ بېشکه، لمونځ د فحشآء او ناروا کارونومخه نیسي﴾. العنکبوت۲۹:۴۵

﴿ بېشکه لمونځ پرمؤمنانوپه ټاکلو وختونوکې فرض شوی دی﴾. النّسآء ۴:۱۰۳

د سینې د پراختیابل لامل چې پرېشاني اوغم له منځه وړي، پرپیغمبر(ﷺ) باندې درود ویل دي :

﴿ ای مؤمنانو! تاسوپرپیغمبرباندې درود اوسلام ووایاست ﴾. الاحزاب۳۳:۵۶

د امام ترمذي په صحیح روایت سره، رسول الله (ﷺ) ته اُبی بن کعب (رضی الله عنه) وویل : زه په خپله دعاء کې پرتا باندې د درود له پاره څومره برخه ځانګړی کړم ؟ پیغمبر(ﷺ) ورته وویل، څومره چې ستا خوښه وي، هغه ورته وویل، څلورمه برخه ؟ رسول الله (ﷺ) ورته وویل، څومره چې ستا خوښه وي، خوکه له دې څخه دې ورزیاته کړه نوغوره به وي، ابی بن کعب وویل، له درېو څخه دوه برخې ؟ رسول الله (ﷺ) وویل، څومره چې ستا خوښه وي، خوکه له دې څخه دې هم ورډېره کړه نو ښه به وي، هغه وویل، که ټوله دعاء ستا له پاره ځانګړی کړم ؟ رسول الله (ﷺ) ورته وویل، که داسې دې وکړل نو ګناه به دې وبخښل شي اود غم له پاره به دې همدا بس شي. په دې حدیث کې ښکاره خبره دا ده چې په رسول الله (ﷺ) باندې د درود اوسلام ویلو له امله هم غم او پریشاني له منځه ځي، رسول الله (ﷺ) وایي : (( چا چې پر ما یوځل درود وویل، نو الله پاک به پرې لس ځله درود وایي )). بل حدیث کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ویلي چې : (( تاسو پرما باندې د جمعې په شپه او د جمعې په ورځ زیات درود ووایاست، ځکه ستاسو درود ماته رارسېږي، اصحابو وویل ته خوبه خاورې شوی یې، زموږ درود به څرنګه تاته دررسېږي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل : بېشکه چې الله تعالٰی په ځمکه باندې دپیغمبرانو جسدونه خاورې کول حرام کړي دي .

هغه کسان چې د رسول الله (ﷺ) په پل او په هغه څه پسې روان دي چې ورباندې نازل شوی دی، نو د دغو لارویانو سینې به پراخې، رتبه او عزت به یې

لوړ او نوم او شان به یې اوچت شي . ابن تیمیه (رحمه الله) وايي پر رسول الله (ﷺ) ترټولو بشپړدرود (ابراهیمي درود) دی . (( ای الله ته رحمت راولېږه پر محمد (ﷺ) باندې، د هغه پرکورنۍ باندې، لکه څرنګه چې تا پر ابراهیم (علیه السلام) او د هغه پر اهل باندې درود استولی دی، او ای الله ! ته برکت نازل کړه پر محمد (ﷺ) او دهغه پر کورنۍ باندې، لکه څرنګه چې تا برکت نازل کړی پر ابراهیم (علیه السلام) او د هغه پر کورنۍ باندې، بېشکه چې ته د ستاینیې وړذات او د لویئ څښتن یی )). شاعر وايي : موږستاپه مینه کې هر ارزښتناك شی هېرکړي، نن ته تر هغوشیانوڅخه چې له موږ سره دې خورا ارزښتناك يې، موږ ستا د محبت له امله ملامتیږو، موږ ته همدا درنښت او ارزښت بس دی چې ستا د مینې له امله بې ګناه ملامتیږو .

***

## صدقه اوخېرات د سینې پراخي ده

په هغوشیانوکې چې نېکمرغي منځته راوړي، پرېشانې او اندېښنه له منځه وړي، ښېګڼه کول، خیرات ورکول او نورو ته خیر رسول شامل دي . دغه خویونه له ټولو هغو نوروکارونوڅخه چې سینه پرانیزي غوره دي . ﴿ د الله په لار کې هغه مال ولګوئ،چې موږ درکړی دی ﴾. المنافقون ۶۳: ۱۰ ﴿خېرات کوونکي سړي اوخیرات کوونکي ښځې ﴾. الحدید۵۷:۱۸

رسول الله (ﷺ) بخیل اوسخي له هغو دوه سړو سره پرتله کړی، چې پر هغوی باندې دوه چپنې وي، سخي سړی چې ترڅوپورې صدقه ورکوي اوخرڅه کوي په هماغه کچه به پرې خپله چپنه او اوسپنیزه زغره پراخیږي او دا چاره به ترهغې روانه وي، چې په دغه سخي سړي کې د سخا نښې ورکې شي، او بخیل چې څومره خپل مال له نورو څخه ایساروي په هماغه کچه به پرې چپنه تنګیږي، ترهغې چې بخیل زندی کړي او روح يې پرې تنګ کړي .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ د هغوکسانومثال چې خپل مالونه د الله تعالٰی د خوښې د ترلاسه کولواو د خپلونفسونو د کرښت له پاره لګوي دهغه باغ په څېر دی، چې په لوړه ځمکه جوړشوی وي که دېرباران پرې وشي، نو مېوه دوه چنده ورکوي اوکه دېرباران نه وي نونری اوربښت اوپرخه يي هم بس وي ﴾. البقره۲:۲۶۵

﴿ خپل لاس له غاړې سره مه تړه ﴾. الأسراء۱۷: ۲۹

د لاس بندول اوتړل ـ بخل ـ د روح د تنګېدو یوبل لامل دی، بخیل خلك ترهرڅا بې سکونه اود تنګو سینوخښتنان وي، ځکه چې هغوی د الله (ﷻ) په مهربانی او فضل باندې هم بخیلي کوي، که هغوی پوه شي کوم شی چې دوی یې خلکو ته ورکوي په حقیقت کې دهغوی د نېکمرغۍ د لاس ته راوړنې لامل کېږي نو هرومرو به دې ښه کار ته وروځغلي .

﴿ که تاسوله الله تعالیٰ سره نېک قرض وکړئ، نوستاسومال به زیات کړي، اوګناهونه به مو وبخښي ﴾. التغابن ۶۴:۱۸

الله (ﷻ) وايي : ﴿څوك چې خپل زړه له کنجوسۍ څخه وژغوري، نو هماغه ډله بریالۍ ده ﴾. التّغابن ۶۴:۱۷

﴿ اوپرهېزګاران زموږ د ورکړي مال څخه خیرات ورکوي ﴾. البقره ۲:۳

یو شاعر وايي : الله تعالیٰ تاته مال درکړی، نوته ورڅخه خلکوته لږڅه ورکړه، ځکه چې مال یوامانت اوعمر تلونکی دی، مال د اوبو په څېردی، که ته هغه بندې کړې نو بدبویه کېږي اوکه رواني وي خوږې او صافي بهېږي .

"حاتم طایي" وايي : قسم پرهغه ذات، چې له هغه پرته بل څوك په غیبو نه پوهېږي اوهغه ذات چې خاورې شوي سپین هډوکي بیا راژوندي کوي، زمابه خوراک ته زړه کېده خومابه خپله ګېډه له دې وېرې تړله چې بله ورځ ونه ویل شي "حاتم" کم اصله او بخیل انسان و . همدغه سخي سړي به خپلې مېرمنې ته امر کاوه، چې مېلمانه ورته راوغواړي او وګوري که داسې څوك ومومي چې ورسره ډوډۍ وخوري، ورسره اشنا شي او په پای کې پرې خپل زړه خوشحاله کړي، هغه ورته وايي، کله چې دی خواړه تیارکړل، نو کوم خوړونکی هم ورته راوګوره، ځکه چې زه یې یواځې نخورم، بیا ورته خپله روښانه فلسفه چې د ریاضي څرګندې او اسانې معادلې ته ورته ده په ډاګه کوي، ته خو ماته یو داسې سخي انسان راوښایه، چې هغه له خپلې نېتې څخه مخکې مړشوی وي، نو زما زړه به هم خوښ او ډاده شي، یا ماته داسې یو بخیل کس راوښایه، چې هغه (د بُخل له امله) تل ژوندی پاتې وي، ایا د مال ټولول او ډېرول د چاعمر زیا توي، او یا د مال لګښت د مال د څښتن عمرکموي؟ یوه هم سمه نه ده .

***

## مه غصه کېږه !!

الله (ﷻ) وايي : ﴿ كه د شيطان له لوري كومه وسوسه درپيښه شوه، نوالله پاك باندې پناه وغواړه، هغه ښه اورېدونكى اوپه هرڅه پوه دى ﴾. الأعراف٧:٢٠٠

رسول الله (ﷺ) يو صحابي ته لارښوونه كوله : (( مه په قهرېږه، مه په قهرېږه، مه په قهرېږه ! يعنې درې ځلې يې ورته وويل)) .

يو چا د پيغمبر(ﷺ) په مخكې بل شخص ته په قهرشو، نو رسول الله (ﷺ) ورته امر وكړچې له رټل شوي شيطان څخه په الله (ﷻ) باندې پناه وغواړه .

﴿ اى ربه د شيطانانوله راتګ نه تاته پناه دروړم ﴾. المؤمنون ٩٨:٢٣

﴿ بېشكه كله چې پرهېزګارانو ته د شيطان له لوري كومه وسوسه پېښه شي، نوهغوى ژر پند اخلي، او په اسانۍ سره د حق لارهويني﴾.الاعراف٧:٢٠١

ګرمېدل او قهرهغه څه دي، چې خلكو ته خفګان، پرېشاني او د مزاج خړپړتيا ورپه برخه كوي، چې د دې ناروغۍ ښه درمل له محمد (ﷺ) سره شته .

١ : د غوسې د ختمېدو له پاره له نفس سره لاس او ګرېوان كېدل:

﴿ پرهېزګاران قهر زغمي ﴾. آل عمران ١٣٤:٣ ﴿كله چې په قهرشي نوبخښنه كوي﴾ . الشّورى ٣٧:٤٢

﴿ كله چې د موسىٰ (عليه السلام) قهرسوړ شونوبيايې هغه تختې راواخيستې چې تورات پرې ليكل شوى و﴾. الاعراف ١٥٤:٧

٢ : اودس هم قهرسړوي، ځكه چې غوسه په اصل كې د اورسكروټه ده او اورپه اوبو وژل كېږي . حديث شريف : (( پاكوالى د ايمان برخه ده)).بل حديث شريف دى : (( د مؤمن وسله اودس دى )).

٣ : كه يوكس په قهر وي، نو كه ولاړ وي بايد كښېني اوكه ناست وي ډډه دې ووهي .

٤ : د غوسې په حالت کې دې سکوت یا چوپتیا غوره کړي اوهېڅ خبره دې نه کوي .

٥ : د قهرپه حالت کې دې دهغوخلکو اجراوثواب په زړه کړي، چې هغوی قهرزغمونکي او نورو ته بخښنه کوي او ورسره خوا کې له نرمښت څخه کار اخلي .

***

## سهارنۍ دعاګانې

څودعاګانې دربښیم چې هرګهیځ یې ووایې، نو نېکمرغي به درته مخه کړي، د هرانساني او پېریاني شیطان له شرڅخه به په امن کې یې اوټوله ورځ تر ماښامه پورې به ستا ساتونکی وي .

د دغو دعاګانوله جملې څخه چې له رسول الله (ﷺ) څخه په صحیح روایتونوکې رانقل شوي، څویې په لا ندې ډول دي :

١ : (( موږ اوټولې نړۍ یواځې یوالله ته ماښامی وکړ، ټولې ستاینې الله تعالی لره ښایي، یواځې یوالله د عبادت وړدی، شریك نه لري، پادشاهي یواځې د الله ده، ټولې ستاینې الله لره ځانګړې دي، او هغه په هرڅه باندې قدرت لري، ای زما ربه ! زه له تاڅخه ددې ننۍ او سبانۍ شپې د خیرغوښتنه کوم، د دې شپې او سبانۍ شپې له شرڅخه پرتاباندې پناه غواړم، زما ربه ! له تمبلۍ او بد بوډاتوب څخه پرتاباندې پنا غواړم، ای زما ربه ! د دوزخ او قبرله عذاب څخه تاته پناه دروړم )).

٢ : ((ای الله! ته په پټواوڅرګندو پوه یې، د اسمانونواوځمکوپیداکوونکی یې، د هرڅه پالوونکی او واکمن یې، زه ګواه یم چې له تا پرته بل څوک دعبادت وړنشته، زه تاته دخپل نفس د شراو دشیطان له شراوشرك څخه پناه دروړم اوله دې څخه هم پناه غواړم چې زه په خپله څه ګناه وکړم او یایې بل مسلمان ته ورسوم )).

٣: (( شروع کوم په نامه دهغه الله چې له نوم سره یې هېڅ شی په ځمکه او اسمان کې زیان نه شي رسولای او الله (ﷻ) اورېدونکی او پوه دی )). دا دعاء درې ځله هرسهار ویل کیږي .

٤ : (( ای الله ! بېشکه په داسې حال کې سهار راپاڅېږم چې ته، ستا د عرش وړونکي او نورې پرېښتې اوستا ټول مخلوق پرځان ګواه ګرځوم، چې بېشکه همدا ته الله یې، له تا پرته بل هېڅ څوک دعبادت وړ نشته، او محمد (صلی الله علیه وسلم) ستا استازی دی )).  دا دعاء به هرسهارڅلور ځلې وایې .

٥ : (( ای الله ! زه په تا با ندې له دې څخه پناه غواړم چې له تاسره په داسې حال کې څه شی شریك کړم، چې زه پرې پوهېږم اوله تاڅخه دهغه کار بخښنه غواړم چې زه پرې پوه شوی نه یم )). (درې ځله)

٦ : (( د اسلام په فطرت، د اخلاص په کلمه، د نبي (ﷺ) په دین اوزموږد پلار ابراهیم (خلیل الله) په ملت موږسهار راپاڅېدو، چې ابراهیم (علیه السّلام) حق ته ورمات مسلمان و او دمشرکانوله ډلې څخه نه و )).  (درې ځله)

٧ : ( الله (ﷻ) لره دخپل مخلوق، د عرش د دروندوالي، دهغه دخپل نفس د خوښې او د خپلوکلماتود مشوانۍ په اندازه سره پاکي اوستاینه ده)). (درې ځله)

٨ : (( زه د زړه له تله خوښ یم چې الله مې رب، اسلام مې دین او محمد (ﷺ) مې پیغمبردی )) .

٩ : (( د الله تعالٰی په پوره کلماتو باندې دهغه څه له شرڅخه چې الله تعالٰی پیداکړي دي پناه غواړم  )).

١٠: (( ای الله ! یواځې ستا په نوم سهاراومابنام کوو، ستا په نوم ژوندي کېږو- راپاڅېږو-، ستا په نوم مړه کېږو- ویده کېږو - اویواځې تاته زموږ درتګ دی )).

١١: (( له الله تعالٰی پرته بل څوك دعبادت وړنشته، هغه شریك نه لري، واک یواځې د الله (ﷻ) دی، اوستاینې ټولې د الله دي، هغه پرهرڅه قادر- برلاسی- دی )).  (سل ځله ویل کېږي).

***

## لنډه دمه

ټولودينپوهانو په دې خبره هوکړه کړې، چې سپکاوی دا دی چې الله پاک ستا نفس تاته يواځې درپرېږدې، او توفيق دا دی چې الله تعالىٰ ستا نفس تاته ونه سپاري، بلکې مرسته درسره وکړي، اوپه هرحالت کې درسره مل وي، نو ټول بنده ګان په دغو دووحالتونو کې اوړي راوړي، بلکې داسې هم پېښيږي چې يو بنده به کله په دواړوحالتونوکې ولوېږي، اوهغه داسې چې دالله بنده ګي وکړي، راضي يې کړي، ذکريې وکړي، شکريې پرځای کړي، اودا ټول به د الله په توفيق سره دغه بنده ته په برخه کيږي، خو لږ وروسته همدا بنده له الله (ﷻ) څخه سرغړونه وکړي، رب په قهرکړي، ورڅخه بې پروا شي، لامل يې دا وي چې الله (ﷻ) هغه کس پرېښی وي، نو دا انسان د الله تعالىٰ د توفيق او پرېښودو په منځ کې ولوېږي، نوکله چې بنده دغه حالت په خپله وګوري او د همدغه حالت حق يې تر سره کړ، نوبايد پوه شي چې په هروخت او د سترګوپه رپ کې له هرې ساه اخيستو سره د الله تعالىٰ توفيق ته اړدی، او د ايمان او وحدانيت پالنه يې د الله تعالىٰ په لاس کې ده . که الله تعالىٰ ورڅخه د سترګو د رپ په اندازه هم خپل توفيق لرې کړي، نود توحيد بام به يې راپرېوځي او د ايمان چت به يې په ځمکه وغورځيږي، ځکه چې د ايمان ساتونکی هغه ذات دی چې اسمان يې پرځمکه بانـدې له را پرېوتوساتلی دی.

***

## قرآن کريم ... مبارك کتاب دی

دنېکمرغۍ اوسيني د پراختيا له لاروچارو څخه يوه بله لاره په ژور ډول د قرآنکريم لوستل دي، ځکه چې الله پاک خپل کتاب دلاربښوونې وسيله، نور اود زړونو د ناروغيوله پاره يوه درملنه او د بشرله پاره يې رحمت ګرځولی دی.

﴿ ايا دوی په قرآن کريم کې سوچ نه کوي؟ که له الله پرته د بل چا له لوري نازل شوی وی، نو ډېراختلاف به يي په کې موندلی وی﴾. النّسآء۴:۸۲

﴿ايا دوی په قرآن کې ډوب فکرنه کوي اوکه نه د دوی په زړنوقولفونه پراته دي﴾. (محمد۲۴:۴۷)

﴿دا مبارك کتاب موږتاته درلېږلی، چې په ايتونوکې يې دوی فکروکړي﴾. ص۲۹:۳۸

یو دینپوه د دې اٰیت په اړه وایي: دا کتاب د تلاوت،دعمل کولو، پرېکړې او د استنباط ـ د احکامو د راڅېړلو ـ له پلوه بنسټیزه سرچېنه ده .

یونېک شخص وایي، یو وخت مې په زړه کې ډېرسخت غم تاوېده راتاوېده چې له الله پرته بل څوك پرې نه پوهېده، نوما قرآنکریم راواخیست اوپه تلاوت مې پیل وکړ، زما دې په الله (ﷻ) قسم وي چې غم راڅخه یونا ځاپي لرې او ښه خوښي راپه برخه شوه . ﴿ الله (ﷻ) په قرآن سره هغه چاته د سلامتیا لاره وربښايي، چې د الله په خوښې پسې ګرځي﴾. المآئده ۵:۱۶

﴿ای پیغمبره! همدارنګه موږتاته له خپل اړخه قرآن درکړی دی﴾.الشورئ۵۲:۴۲

***

## شهرت ته لېوال نه شی، د خفګان اواندېښنې غوندې پایلې لري

دهغوشیانوله ډلې څخه چې زړه دانه وانه کوي،ارامتیا، پاکي اوسوکالي یې له منځه وړي د شهرت او ځان ښودنې لېوالتیا اودخلکوپه خوښیوپسې ګرځېدل دي . ﴿ په ځمکه کې لویي اوفساد نه غواړي﴾. القصص ۲۸:۸۳
خو شاعرد تکبراوشهرت پر ضد وایي : چاچې خپل نفس پټ او نا څرګند وساته ګواکې هغه یې ژوندی، تر اوتازه کړ او خپله شپه یې له پرېشانۍ پرته تېره کړه، ځکه کله چې بادونه راوالوځي تېز او طوفاني شي، نوبیا له لوړو ونو پرته نورې نه راغورځوي . رسول الله (ﷺ) وایي : (( چاچې یو نېک عمل د ځان ښودنې په موخه وکړ، نوالله تعالٰی به یې ورته سزا ورکړي اوچاچې خلکو ته د ځان ښودنې په موخه نېك عمل وکړ، نوالله تعالٰی به یې د خلکو په مخ کې رسوا کړي )).﴿ خلکوته ځان ښايي ﴾. الماعون ۱۰۷:۶

﴿ دوی ـ ځان ښودنه ـ خوښوي چې په هغه کار وستایل شي چې هغه کاریې هېڅ کړی هم نه وي﴾.آل عمران۳:۱۸۸ ﴿ دهغوخلکوپه شان مه کېږئ، چې د ویاړنې اوخلکوته دځان ښودنې له پاره له کورونو راوتلي وو﴾. الانفال ۸:۴۷

شاعروایي : ریا داسې جامه ده چې بدن ورڅخه ښکاري،نوکله چې ته هغه واغوندې په حقیقت کې تا ځان بربنډ کړ.

***

## ښه ژوند

د نېکمرغۍ کوم لاملونه چې زه يې دلته څېړم اوليکم، په دغو کې له ټولونه غټه اومنل شوې قضيه پرالله (ﷻ) باندې ايمان لرل دي اوله دې پرته نور لاملونه، معلومات اوګټې چې د نېکمرغۍ په اړه ما راټول کړي، که هغه يو داسې چاته ورکړل شي چې پرالله تعالىٰ ايمان نه لري اوله دې قيمتي شتمنۍ څخه بې برخې وي، نودابه ورته په هېڅ وخت کې ګټه ونه رسوي اونه دې هسې خپل ځان د نېکمرغۍ په لټون کې ستومانه کوي .

بېشکه بنيادي بنسټ د ايمان دا دی، چې الله تعالىٰ خپل رب، محمد(صلی الله عليه وسلم) پيغمبراواسلام خپل دين وګڼي . شاعر"اقبال لاهوري" وايي ، کافرهمېش تردې اندازې پورې سرګردانه وي، چې پراخه نړۍ ورته تياره ښکاري،خو مؤمن انسان چې ګورم نوهغه يوه داسې نړۍ ده چې ټوله نړۍ په کې سرګردانه ده .

له دې څخه هم لوی او رېښتونی دليل د ايت دی : ﴿ هرنارينه اوښځينه مؤمن چې ښه کارونه وکړي، نوموږ به پاك ژوند ورکړواوپه آخرت کې به د هغوی د نېکو کړنوبدله هرومرو ورکوو﴾. النّحل۱۶: ۹۷

د پاک او نېکمرغه ژوند تېرولو دوه شرطونه دي : ايمان او نېک عمل .

﴿بېشکه هغه څوک چې ايمان لري اوښه کارونه يې کړي وي الله به دخلکوپه زړونوکې له هغوی سره مينه پيداکړي ﴾.مريم ۱۹:۹۶

له پورتنۍ څېړنې څخه دوه ګټې لاسته راځي : په دنيا اوآخرت کې ښکلی ژوند. او د الله په وړاندې لوی اجراوثواب : ﴿ د دنيا اوآخرت په ژوند کې دوی لره زېری دی ﴾. يونس۱۰:۶۴

***

## ازمېښت ستاپه ګټه دی

غميزو اوپېښوته مه وارخطا کېږه ! رسول الله (ﷺ) وايي : (( بېشکه چې الله (ﷻ) ته چې کوم قوم ګران شي، نو پرهغوي ازمېښت راولي، که څوک د الله تعالىٰ په

دې پرېکړه خوښ شو، نوهغه ته به د الله تعالیٰ خوښي ورپه برخه شي اوڅوك چې پرې ناخوښه و، هغه ته به د الله تعالیٰ قهر ورپه برخه شي .

***

## په عاجزۍ اوماته غاړه بنده ګي

د ایمان له غوښتنوڅخه یوه دا هم ده، چې ته د الله(ﷻ) د خیراوشرپه وېش باندې خوښ اوسې .

﴿ موږ به هرومرو تاسو په وېره، لوږه، د مالونو، ځانونو اومېوو په کمښت سره وازمایو، او زېرې ورکړه د زغم خاوندانو ته ﴾. البقره ۲:۱۵۶

دا یوحقیقت دی چې الٰهي وېشونه اوفیصلې تل زموږ له غوښتنوسره جوړښت نه مومي، ځکه چې زموږدعمل او بنده ګی له امله په الٰهي پرېکړو کې د اختیارحق نه لرو، موږ خو د نیوکو او وړاندیزونو په مقام کې نه یو، بلکې یوازې د بنده ګۍ او سر ابښودنې په ځای کې پراته یو، نوپرهمدې بنسټ بنده د خپل ایمان په کچه ازمایل کیږي . د رسول الله (ﷺ) وینا ده : (( زه د تبې له امله دومره سختي تېروم، لکه تاسوچې دوه نفره هغه سختي پرځان تېروي )).

بل حدیث دی : (( په خلکوکې ترټولو زیات ازمېښت کې پراته کسان پیغمبران او بیا نېك کسان دي )).

﴿ نو ای پیغمبره! د هغه پیغمبرانوپه شان هرڅه وزغمه چې د ټینګ عزم څښتنان وو ﴾ .الاحقاف ۳۵:۴۶

تعالیٰ خیر وغواړي، نوهغه ته ستونزه ورپېښوي . ﴿ موږ به هرومرو تاسو وازمایو، ترڅو ستاسو مجاهدین او صابرین سره وپېژنو ﴾. محمد ۳۲:۴۷

﴿ بېشکه موږ له دوي نه مخکې قومونه هم ازمایلی دي ﴾.العنکبوت ۳:۲۹

***

## له پادشاهۍ څخه ترکانۍ ته

دعباسي خلیفه "مامون" زوی "علي" چې په یوې ښکلې ماڼۍ کې اوسېده، مال او دولت ورسره پرېمانه و، یوه ورځ یې د ماڼۍ له دویم پوړڅخه ځار کاوه، ګوري چې یو مزدورپه کار بوخت دی، چې ځاښت مهال شي اودس وکړي د نهرپه غاړه دوه رکعته لمونځ وکړي، کله چې ماښام نږدې شي نوخپل کورته روان شي . یوه ورځ یې هغه راوغوښت او د ژوند پوښتنه یې ترېنه وکړه، هغه ځواب ورکړچې د دوه خویندو، یوې مېرمنې او مورسرپرستي ورپه غاړه ده، هغوی ته د روزۍ پیداکولو له پاره ستونزه ګالي اوپه بازارکې له دغې مزدورۍ پرته بله کومه سرچېنه نه لري، هره ورځ روژه نیسي، د مزدورۍ له لارې چې څه ترلاسه کړي په هغې باندې روژه ماته کړي . " علي بن مامون " ورڅخه وپوښتل چې ایا په دغه حالت کې ناخوښ نه یې ؟ هغه وویل نه ! شکر دی، د الله تعالیٰ ستاینه کوم او په خپل کارکې خوښ یم، نو" علي بن مامون " د دغه مزدور له خبرو څخه سخت اغېزمن شو، نو له همدې امله له ماڼۍ او امارت دواړوڅخه لاس په سرشو، د خراسان خوا ته کوم ناڅرګند ځای ته ولاړ او هلته یې د لرګیو په کار پیل وکړ، څو کاله وروسته په یوه ځای کې مړ وموندل شو، دا ځکه چې هغه نېکمرغي د لرګیو په کار او بار کې وموندله، نه په پادشاهۍ اوماڼۍ کې . ﴿ چاچې سمه لاره موندلې ده، الله یې لاپسې ښه لارښوونه کوي او نوره پرهېزګاري هم ورپه برخه کوي﴾.محمد ۱۷:۴۷

دا قېصه ماته د اصحاب کهف قېصه را یادوی، چې له پادشاهۍ سره سره په ماڼیوکې اوسېدل، خوهغوی په خپلوماڼیوکې د هوساینې پرځای ناقرار، ګډ وډ او زړونه یې رپېدل، ځکه چې پر ماڼۍ باندې کفرحاکم و، کفر دوی اړ کړل چې قصر پرېږدي، نو د بل استوګنځي په اړه د هغوی له ډلې یوه داسې وویل :﴿غارته پناه یوسئ، ستاسو رب به پرتاسو دخپل رحمت لمن پراخه او ستاسو د کار له پاره به لارې چارې برابرې کړي ﴾ الکهف ۱۸:۱۶

شاعروایي : یوه ساده کوټه چې بادونه په کې لګېږي، له یوې هسکې ماڼۍ څخه هم ماته غوره اوخوښه ده . ولسي متل دی : له دوستانوسره د ستنې سوری میدان دی . نچوړدا چې تنګ او لږ ځای له محبت او ایمان سره پراخیږي، او د زیاتو خلکوځای پیداکوي، په دې اړه داسې هم ویل کیږي چې زموږ د سترګو بانه زموږ د مېلمنو له پاره کاسې دي .

***

## له وزګاروا وناپوهو خلکوسره صحبت د پرېشانۍ بل لامل دی

امام احمد (رحمه الله) وايي : له بېروسو يا تنګوونکو خلکو څخه موخه د بدعت خاوندان، يعنې هغه کسان دي چې په دين کې له ځانه نوي کارونه رواجوي او ياهغه څوک دي چې له دين څخه بې پروا وي .

ويل کېږي چې مطلب ترې ناپوهه او بېعقله خلك دي او ځينونورو لا ويلي، چې له تنګوونکوڅخه موخه هغه څوک دي چې خړ مزاج ولري، د څښاک چېنه يې خړه او په خپلوکړنو کې سوړ وي .

﴿ دوی لکه د لرګو ډډونه داسې دي ﴾. المنافقون۶۳:۴

﴿ داخلك دې ته نژدې نه دي چې په خبره پوه شي ﴾. النسآء ۴:۷۸

امام شافعي (رحمه الله) وايي : کله کله داسې پېښېږي چې بېروس مزاجه شخص راسره کښېني، نوپه دغه مهال زه داسې انګېرم ګواکې د ځمکې هغه اړخ ته چې بېروس انسان پرې ناست دی، ځرخيږي .

اعمش (رحمه الله) چې به کله د دروند مزاج خاوند وليد، نودا ايت به يې ولوست : ﴿ يا الله له موږ څخه عذاب لرې کړه موږ مؤمنان يو﴾. الدّخان ۴۴:۱۲

يو شاعروايي : د يو قوم لوړوالی يا ټيټوالی پروا نه لري، ځکه داسې کسان هم شته چې دهغوی بدنونه د قچرو په څېرغټ وي، خوماغزه يې د چېنچنو وي . ابن تيميه (رحمه الله) به چې کله له تنګوونکي يا دروند مزاجه شخص سره کېناست نو ويل به يې : له دوی سره ناسته ګرمې تبې ته ورته ده .

﴿ که تا کله داسې څوک وليده، چې زموږ پر ايتونوګوته ږدي نومخ ورڅخه واړوه ﴾. الانعام ۶۸:۶

﴿له ناپوهانو اوپه زړه بوج راوړونکوسره مه کېنئ﴾.النّسآء ۴:۱۴۰
پيغمبر(ﷺ) وايي : (( د بد ملګري مثال د اور د برنۍ وهونکي په څېر دی )).

پرزړونوباندې ډېر تياره راوړونکي هغه کسان دي، چې هغوی د اخلاقو له لباس څخه بربنډ، په خويونوکې کوچنيان اود نفسي غوښتنومنونکي وي.﴿ ترهغې ورسره مه کېنئ، چې ترڅويې بله خبره نه وي پيل کړي، که نه نوتاسو هم د هغوی په شان ياست ﴾. النّسآء۴:۱۴۰

يوشاعر وايي : اى فلانيه ! ته خو دروند يې، درونديې، درونديې، په ښكاره ښه انسان يې، خوپه تله كې (حقيقت كې) فيل يي . يعنې دومره خټه مزاج لرې .

ابن القيم (رحمه الله) وايې : كه كله په يوه درونده مزاجه او تنګوونكي كس باندې پېښ شوې، هغه ته يواځې خپل جسم وسپاره او خپل روح دې ورڅخه لرې ساته، چېرته لرې يې ترې بوځه، مسافريې كړه، هغه ته غوږونه كاڼه ونيسه، سترګې دې پرې ړندې كړه، چې الله تعالٰى درته له هغه څخه نجات دركړي .

﴿ دهغه چا اطاعت مه كوه چې زړه يې موږ د خپل رب له ذكرڅخه بې پروا كړى وي، په خپلونفسي غوښتنوپسې روان او د ژوند كار يي له پولې څخه اوښتى وي ﴾.الكهف١٨:٢٨

***

## غمځپلو ته !

په صحيح البخاري كې له رسول الله (ﷺ) څخه صحيح حديث روايت شوى چې الله(ﷻ) وايي : (( د دنيا په خلكو كې چې له چا څخه زه هغه ته ګران كس، لكه ځوى، ورور... واخلم بياهغه صبروكړي او له الله تعالٰى څخه يې اجر وغواړي، نو زه به هغه ته د دې- صبر- په بدل كې جنت وركړم )).

يوشاعرد خپل دوست مړينه داسې انځوروي : ستا په ژوندون كې زما له پاره ډېر پندونه وو، خوته نن ورځ د ژوند پرتله زما له پاره خورا د وعظ لامل يې.

صحيح قدسي حديث دى چې الله پاک وايي : (( څوك چې د دواړو سترګوپه اخيستلو كې وازمايم، يعنې ( له چا څخه چې سترګې واخلم ) نوپه بدله كې به ورته جنت وركړم )).

﴿ بېشكه له الله څخه سرغړونه سترګې نه ړندوي، بلكې په سينو كې پراته زړونه ړندوى ﴾. الحج ٢٢:٤٦

امام ترمذي دا صحيح حديث روايت کړی : (( کله چې الله تعالیٰ له خپل مؤمن بنده څخه زوی واخلي، نو پرېښتو ته ووايي، تاسو زما د مؤمن بنده د زوی روح واخيست ؟ هغوی به ووايي، هو! الله (ﷻ) بيا ورته وايي، د هغه د زړه مېوه مو ترې قبض کړه ؟ هغوی ووايي : هو! الله (ﷻ) پرېښتو ته ووايي، نو زمابنده - له پېښې وروسته - څه وويل ؟ هغوی ورته ځواب ورکړي، چې ستا ستاينه يې وکړه او تاته راوگرځېد او(انّا لله وانّا اليه راجعون) يې زمزمه کړ . الله تعالیٰ به پرېښتوته ووايي تاسو زما دغه بنده ته په جنت کې يو کور ودان کړئ اوهغه کورپه "بيت الحمد" ونوموئ .

بل حديث دی : (( کله چې دغمځپلو اجر او ښه پايله د قيامت په ورځ څرگنده شي، نو يوه ډله خلك به دا ارمان کوي چې کاشکې دوی (په دنيا کې) په قيچې گانو غوڅ او ځېري شوي وای)) .

﴿ ببشکه چې صبرکوونکوته به بېحسابه بدله ورکول کيږي﴾.الزّمر۳۹:۱۰

﴿ د صبر له امله دې پر تاسو سلامتيا وي﴾. الرّعد ۱۳:۲۴

﴿ ای ربه پرموږ صبر راووروه ﴾. البقره ۲:۲۵۰

﴿ صبروکړه اوستا د صبربدله يواځې پر الله باندې ده ﴾.النّحل۱۲۷:۱۶

﴿ صبر وکړه ببشکه د الله ژمنه حق اورېښتيا ده﴾ .الرّوم ۳۰:۶۰

امام ترمذي دا حديث روايت کړی : ((څومره چې اجر ډېرېږي په هماغه کچه يې غميزه هم غټېږي، اوبېشکه الله (ﷻ) ته چې کوم قوم گران شي، نو هغه قوم ازمايي، يعنې - په کړاوونو يې اخته کوي - نو که څوك پرې خوښ شوهغه ته به د الله (ﷻ) رضاپه برخه شي او که څوك پرې ناخوښه شو، هغه ته به د الله قهر ورپه برخه شي .

د غميزوپه اړه څوخبرې دي، صبر، برخليک اوښه بدله، همدارنگه د مصيبت په وخت کې بنده بايد داعقيده ولري هغه ذات چې ورڅخه کوم شی واخيست، نو هماغه رب ورته ورکړی هم و او هغه ذات چې ورڅخه څه ونيول هماغه پرې پېرزو کړې وو . ﴿الله پاك تاسوته امرکوي چې امانتونه خپلوخاوندانوته وسپارئ ﴾ النّسآء ۴: ۵۸

شاعر وايي : مال او د کورنۍ غړي د الله تعالٰی له امانتونو پرته نورڅه نه دي، اويوه ورځ به هرومرو امانتونه خپل څښتن ته سپارل کيږي .

***

## د توحيد پړاوونه

د بل چا له اړخه يوه مسلمان ته د ضرر اوستونزې رسېدو په صورت کې له دغه مسلمان څخه د توحيد غوښتنې لومړی منظر بخښنه ده، چې د زړه سلامتي، پاکوالی او رونېوالی هغه چاته دی چې زيان يې رسولی وي، او بيا که همدغه کس ته د خير رسولوهيله ولرې، نو دا يوه لوړه درجه ده، يا دا چې ته هغه کس ته خير او ګټه ورسوې، چې دا ترټولو لوړه درجه ده اودا مرتبه د قهرپه زغملوسره پيل کيږي، په دې معنا چې ته هغه چا ته زيان ونه رسوې چاچې تا ته تاوان رسولی وي، وروسته بيا د بخښنې مرتبه منځته راځي، يعنې داچې هغه کس وبخښې، له تېروتنې يې تېر شې او بيا د احسان مرتبه ده چې ته له هغه کس سره د هغه د بدۍ پرځای نېکي وکړې .

﴿ پرهېزګاران قهرزغمي اوخلکوته بخښنه کوي، بېشکه چې الله د ښېګڼو له خاوندانوسره مينه کوي ﴾. آل عمران ۳:۱۳۴

﴿ چا چې بخښــنه او روغــه وکړه، نوبدله يې له الله سره شته ﴾.الشّوری۴۲:۴۲

﴿ بايد چې بخښنه وکړي او له تېروتنوڅخه تېرشي ﴾. النّور ۲۴:۲۲

رسول الله (ﷺ) وايي : (( بېشکه الله تعالٰی ماته د دې خبرې امرکړی چې زه له هغه چاسره خپلوي وپالم، څوک چې له ماسره خپلوي پرې کوي، او بخښنه وکړم هغه چاته چې پرمايې تېری کړی دی او بله داچې زه به هغه چاته ورکړه کوم، چې زه يې له ورکړې څخه بې برخې کړی يم. )).

۲ : د پرېکړې پړاو : د تقدير- برخليک - اوپرېکړې منظر دادی، چې ته په دې باور ولرې کړاو يا زحمت تاته د بل چا له خوا نه دررسېږي اوهغه الٰـهي پرېکړه اوبرخليک وګڼې، بنده ورته هسې يوه پلمه شي، خوحقيقي فيصله کوونکی الله تعالی دی، له دې امله ته بايد خپل رب ته په دې هکله غاړه کېږدې .

۳ : د کفّارې پړاو : لنډه دا چې زيان دورسېږد، په حقيقت کې دا ستا د ګناهونوکفاره - رژونکي- شو، د دې په واسطه به ستا ګناهونه وبخښل شي، او د الله تعالیٰ په وړاندې به دې درجه لوړه شي . ﴿هغوکسانوچې هجرت وکړ، له خپلو کورونوڅخه ويستل شوي وو او زماپه لارکې زيانمن شول، جهاد يې وکړاوشهيدان شول، نو زه به هرومرو له هغوی څخه بدي لرې کړم ﴾. آل عمران۳: ۱۹۵

له هغه پوهې څخه چې ډېرو مؤمنانوته الله تعالیٰ ورکړې وي، يوه برخه داهم ده چې د انسان له زړه څخه (بل مسلمان ته) د د ښمنی تار وويستل شي .

﴿ د بدی مخه په ښه لاره باندې ونيسه، بيابه ستا دښمن د خواخوږي دوست په شان شي ﴾ فصّلت ۴۱: ۳۴

رسول الله (ﷺ) وايي : (( د بشپړايمان څښتن هغه څوك دی، چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له زيانه خوندي وي )).

نچوړ دا شو، چا چې درسره بد چلند کړی وي، ته ورسره په ورين تندي او نرمو خبرو مخامخ شه، چې ته د دې ښېګڼې له لارې د هغه شخص له زړه څخه د دښمنۍ خبری وباسې او اور يې ووژنې .

﴿ ای پيغمبره زمابندګانوته ووايه چې تل ښې خبرې وکړي، بېشکه چې شيطان دهغوی په منځ کي دښمني اچوي﴾. الإسراء۱۷: ۵۳

يو شاعروايي : ته د خوشحاله تندي څښتن شه، ځکه د اصيل انسان دا خوی وي چې خوشحالي دهغه په مخ کې له ورايه ځليږي .

٤ : د توحيد بل پړاو دا دی چې ته خپلو نيمګړتياووته ځير شې او په دې باوري شې چې دا بل انسان ستا د خپلو ګناهونوله امله پرتا برلاسی شوی دی .

الله(ﷻ)وايي : ﴿داسې ولې کيږي ؟ کله چې تاسوته کومه غميزه دوررسيږي په داسې حال کې چې تاسوهغوی ته ستاسو د مصيبت پرتله دوه چنده مصيبت رسولی، نوتاسو بيا واياست چې دا غميزه ولې موږ ته راورسېده ؟ ورته ووايه دا مو له خپله لاسه ده ﴾. آل عمران۳:۱۶۵

﴿کوم مصيبت چې تاسوته رسيږي ستاسود خپلولاسونو کړ دی﴾ . الشّوری۴۲:۳۰

**دلته يو بل ستر پېراو هم شته، دا داسې پړاودی چې د هغې له امله د الله تعالیٰ شکر او ستاينه پرځای کړې، هغه دا چې ته يې مظلوم کړی يې، نه ظالم .**

**ځينو پخوانيودينپوهانو به دا دعاء کوله چې : ( ای الله ته ما مظلوم کړې نه ظالم ) . دا خبره د آدم (عليه الصّلاة والسّلام) د دواړو زامنو قېصې ته ورته ده، نېك زوی يې داسې وويل : ﴿ كه ته زما وژلو ته لاس راوغزوی، نوزه به خپل لاس ستا د وژلو له پاره دراوږد نه کړم، ځکه چې زه له هغه الله څخه ډارېږم چې د ټول عالم پالونکی دی ﴾.** المآئده ۵:۲۸

**دلته د رحمت يونازک پېراوهم شته، داسې چې ته په هغه چا ورحمېږې چاچې ته کړولی يې ، نو دا شخص د رحمت وړ ځکه دی چې په پرلپسې توګه يې مسلمان کړولی او د الله (ﷻ) په مخ کې يې دغه مسلمان ته په ستونزو جوړولوکې له زړه ورتيا څخه کاراخيستی، نو د دې وړدی چې زړه ورته نرم او رحم پرې وکړې او له دغه کارڅخه يې وژغورې . رسول الله (ﷺ) وايي : (( خپل ظالم او مظلوم ورور سره مرسته وکړه !)) . يعنې ظالم له ظلم نه ايسارکړه .**

**پرعائشه (رضی الله عنها) چې تهمت ولګول شو او"مِسطَح" دا خبر خپورکړ، حال دا چې ابوبکر صديق (رضی الله عنه) به نومړی سره مرسته کوله، خوکله چې يې پرناموس ورته تهمت ولګوه نو ابوبکر(رضي الله عنه) قسم وکړچې نور به له نېستمن "مسطح" سره مرسته نه کوي، نوالله(ﷻ) دهغه په اړه دا ايت راولېږه. ﴿ ستاسومهربان اومالدارخلك دې دا لوړه نه کوي، چې خپلوانو، نېستمنو او د الله په لارکې مهاجروخلکوته به څه نه ورکوي، بايدبخښنه ورته وکړي اود هغوی له تېروتنوڅخه تېرشي، ايا دا نه خوښوئ چې الله تاسوته بخښنه وکړي ﴾.** النّور۲۴:۲۲

**کله چې دا ايت نازل شو نو ابوبکر صديق وويل : هو، زه دا خوښوم چې الله تعالیٰ ماته بخښنه وکړي، چې له هماغه امله يې "مسطح" ته پخوانۍ مرستې بيا پيل اوبخښنه يې ورته وکړه ."عُيينة بن حصن" عمر(رضی الله عنه) ته وويل، ای عمره ! پر الله تعالیٰ قسم چې ته موږ ته خپل حق پوره نه راکوې او نه زموږ منځ کې په عدل پرېکړې کوې، نوعمر(رضی الله عنه) هوډ وکړ، چې د خبرې سزاورکړي، خو"حربن قيس"وويل:ای دمؤمنانومشره ښشکه الله پاک وايي:﴿عفوه وکړه،په ښوکارونوامرکوه اوله جاهلانومخ وګرځوه﴾.** الاعراف ۷:۱۹۹

"حربن قیس" وایي کله چې عمر(رضی الله عنه) د الله تعالٰی دا وینا واورېده، نو پرالله تعالٰی قسم چې بل ګام یې هم وانه خیست، هغه د الله تعالٰی په کتاب سخت عمل کوونکی و .

یوسف(علیه السلام) خپلو ورونوته وویل : ﴿پرتاسو کومه ملامتي نه شته، الله به تاسوته بخښنه وکړی اوهغه ښه بخښونکی دی﴾. یوسف۱۲:۹۲

همدا خبره رسول الله (ﷺ) د مکې مکرمې د فتحې په ورځ د یوې ډلې په مخ کې هغه چاته وکړه، چې جګړه یې ورسره کړې، هغه یې کړولی، ربړولی او له خپل ټاټوبي څخه یې شړلی هم و، ورته یې وویل : (( ځئ تاسوازاد یاست)).

محمد (ﷺ) وایي : (( هغه کس زورور نه دی چې خلک په ځمکه راچپه کوي، بلکې مېړورهغه څوک دی چې د قهر پرمهال خپل نفس قابوکړي )).

عبدالله ابن المبارك (رحمه الله ) وایي : که له داسې کسا نوسره ملګری شوې چې هغوی مینه ناک وو، نو ته هم له هغوی سره زړه خوږی شه، په هرې کوچنۍ تېروتنې باندې خلک مه نیسه، که دا تېروتنه دې وکړه نوټول عمربه بې ملګري پاتې شې . ځیني دینپوهان وایي، چې د انجیل یوقول داسې دی : (چا چې درسره یوځل غلطي وکړه نو ته ورته اووه ځله بخښنه وکړه).

﴿ چا چې بخښنه او روغه وکړه، نو الله یې بدله ورکوي﴾. الشّوریٰ ۴۲:۴۰

مطلب دا چې که چا درسره یو ځل بدي وکړه، ته باربار اووه ځله هغه ته بخښنه وکړه، ترڅو ستا دین او ناموس خوندي شي او زړه دې هوسا وي، ځکه چې په حقیقت کې ته غچ له خپلواعصابو، وینې، خوب، راحت او ناموس په بنیاد اخلې نه له نوروخلکوڅخه. هندیان په خپل هندي متل کې وایي : څوک چې خپل نفس قابوکوي دهغه چا پرتله ډېراتل دی، چې یوښارفتح کوي .

﴿ ببښکه چې نفس پربدئ امرکوي پرته له هغه چاڅخه چې پرهغه باندې زما رب رحمېدلی وي ﴾. یوسف۱۲:۵۳

***

## لنډه دمه

د یونس (علیه السلام) په دعاء کې بشپړتوحید، پاکي اوپرخپله ګناه باندې اقرارشته، چې دغم، پرېشانۍ او کړاو لرې کولو له پاره ښه درمل ده او د اړتیاوو د پوره کولو له پاره الله تعالیٰ ته ښه وسیله ده، نوتوحید او پاکي بیانول دواړه د الله پاک بشپړکمال څرګندوي، په ځان کې یې رانغاړي اوهرنقصان اوعیب د الله له ذات څخه لرې کوي . پرخپل ظلم د بنده اقرار په شریعت، ثواب، عذاب باندې د بنده ایمان څرګندوي . بنده ته لازم دي چې په مات ورمېږ الله (ﷻ) ته ورمات شي، له خپلې تېروتنې څخه توبه ګارشي اوالله تعالیٰ ته پر بنده ګۍ اونېستۍ اعتراف وکړي . لنډه دا، چې څلورمهم شیان دي چې الله (ﷻ) ته پرې د رسېدلو لاره موندلی شې چې له توحید، پاکي بیانول، بنده ګي، پرخپله ګناه او تېروتنه باندې اعتراف کولو څخه عبارت دي . ﴿ زېرى ورکړه صبرکوونکوته ! دوى هغه کسان دي چې کله ورته غمیزه پېښه شي داسې وایي، موږ ټول د الله یو اوهغه ته به ورځو . ( له دې وینا وروسته) پرهغوي د رب رحمتونه اومهربانۍ دي اوهمدغې ډلې روغه لاره پېداکړې ده ﴾. البقره ۲:۱۵۷

***

## خپل ظاهراوباطن ته زیرشه

د نفس پاکوالی د جامو په پاکوالي پو رې اړه لري، په دې اړوند یوه باریکه اوښه خبره دا هم ده، چې ځینو پوهانو ویلي دي، چا چې لباس ناولی وې نو د هغه نفس به هم چټل وي، دا یوښکاره حقیقت دی، موږ ګورو ډېرخلك داسې وي چې هغوی ته پرېشاني اود ژوند خرابوالی له دې امله پیدا شوی وي، چې دهغوی جامه یاځاني بنه پلیته وي، یا یې دفتراوپانې ګډې وډې وي او یا یې ورځنۍ چارې، ژمنې، کړنلارې وروسته وړاندې وي، اوپرخپل وخت یې سرته نه رسوي، په داسې حال کې چې ټوله نړۍ په نظام جوړه ده . څوك چې د دین له حقیقت سره اشنا وي هغه پوهېږي چې دین د بنده د ژوندانه د تنظیمولو- سمولو- له پاره راغلی دی . دا ژوند که لږ وي که ډېر، کوچنی وي که ستر، نو لنډه دا چې په دنیا کې هر څه د الله تعالیٰ له خوا په ټاکلي وخت او ټاکلي سمون سرته رسېږي .

امام ترمذي د رسول الله (ﷺ) حدیث رانقلوي : (( بېشکه الله پاك دی او پاک خوښوي )) . په صحیح مسلم کې له رسول الله (ﷺ) څخه روایت دی : (( الله

ښکلی ذات دی اوښکلا خوښوي )). بل حسن حديث دی چې: (( تاسوځانونه ښايسته پاک کړئ، چې د خلکوپه سترګوکې نښه لرونکي اوځانګړي ښکاره شئ .

شاعروايي : دوی په ګڼو اوبدل شوو ښکلوګانوکې داسې ګرځي لکه ځوان اوښان چې د نوروځوانانو اوښانو خواته ورځي .

ترټولو لومړی ښکلا داده چې د بدن پرېمينځلوته پاملرنه وکړئ، بخاري (رحمه الله) يوحديث روايت کړی چې رسول الله (ﷺ) وايي : (( مسلمان ته په کار دي چې په هره اونۍ کې يوه ورځ غسل وکړي، يعنې په اونۍ کې بايد خپل سر او ځان پرېمينځي . دا خو ډېره موده ده که نه نوځينوصالحانوخوبه هره ورځ ځان پرېمينځه، لکه دعثمان (رضی الله عنه) په اړه چې يادونه شوېده . ( دا دي د لمبلو اوڅښلو له پاره يخې اوبه ). د فطرت خصلتونه هم دښايست اوپاکوالي له جملې څخه دي چې ډېره پرېښودل، برېتونه کمول، نوکان لنډول، له بدن څخه د برسېره وېښتانوښرېيل، مسواك اوعطروهل، غاښونه پرېمينځل، د جاموپاکول اود بدن ښکاره بڼـه په کې شامل دي . دا ټول داسې شيان دي، چې د کړنې پرمهال زړه خوښ اوفکر ورسره قرارېږي او دسپينوجامواغوستل هم د پاکوالي له جملې څخه شمېرل کېږي . رسول الله (ﷺ) وايي : (( تاسوسپينې جامې واغوندئ اوخپلومړو ته ورڅخه کفنونه هم جوړکړئ )). شاعر وايي : دوی نرمې څپلۍ اوپاکې لمنې لري او د مېلې په ورځ په کشمالو باندي هرکلی کوي . امام بخاري (رحمه الله) په خپل کتاب کې د سپينو جامو په اړه يوځانګړی باب ليکلی دی، د سپينوجامود اغوستلو په اړه يې دا حديث رانقل کړی : (( له اسمان څخه پرېښتې په سپين لباس کې چې سپينې پګړۍ يې هم په سر وي راکوزيږي )).

د ښکلا بله نښه دا هم ده چې انسان له خلکو سره د ملاقات يا بل کار په اړه کړې ژمنې او يادابښتونه په يوه وړه کتابچه کې وليکي، خپل وخت د مهالوېش په بڼه برابروي چې څه وخت لوست، څه وخت عبادت او څه وخت د ارام له پاره ځانګړی کړي . ﴿ هره نېټه په کتاب کې ليکل شوې ده ﴾. الرّعد ۳۸:۱۳

﴿ داسې شی نشته چې دهغه خزانه له موږسره نه وي، خو هر شی په يوه ټاکلې اندازه راښکته کوو﴾. الحجر۲۱:۱۵

د امريکا د کانګرس په دفتر کې يوه لوحه راځړېدلې او پرهغې ليکل شوي، چې دا ټوله نړۍ په يوه ټاکلي نظام ولاړه ده . دا يوڅرګند حقيقت دی چې په ټولو اسماني دينونوکې د جوړښت اوسمون لوري ته بلنه شوی ده، الله تعالیٰ

د دې خبرورکړی چې دا دنیا هسې بې موخې نه ده پیداشوې، بلکې په یوې غوڅې پرېکړې او اندازې سره منځته راغلې او په یوه ځانګړي حساب سره روانه ده .

﴿ لمراوسپوږمۍ په یوه حساب کې ده ﴾ الرّحمن ۵:۵۵

﴿ نه د لمرپه توان کي ده چې سپوږمۍ ونیسي اونه شپه له ورځې نه مخکې کېداي شي، هر یوپه خپل مدارکې ګرځیږي ﴾. یس ۴۰:۳۶

***

## ورته ووایه چې کار وکړئ

پخوا به چې د یونان حکیمانو پر پرېشانیو، وسوساو روحي ناروغیو اخته کسانودرملنه کوله، نوهغوی ته به یې د کار یعنې بزګرۍ، باغوانۍ او د ځینو نورو کارونوکولو سپارښتنه کوله . لږ وخت به لا تېرنه و، چې هغه ناروغان به روغ او ډاډه شول . ﴿ د ځمکې په کونجونوکې وګرځئ ﴾. الملک ۱۵:۶۷

﴿ ووایه دوی ته ای پیغمبره چې کار وکړئ ﴾. التّوبه ۱۰۵:۹

بېشکه هغه خلک چې کارکوي ترټولو هوسا، آرام، نېکمرغه ژوند او ارام ذهن لري، که تاسو دغوکسانو ته په غور وګورئ، نو هغوی د پوره خوځښت، ګړندیتوب اوکارونو له امله د پراخ فکر او قوي جسمونو څښتنان دي . رسول الله (ﷺ) به دا دعاء کوله، (( ای ربه زه له ناتوانۍ اوتمبلۍ څخه په تاباندې پناغواړم)).

***

## الله تعالیٰ ته پناه یوسه

الله یو ستر او قدرمن نوم دی، په معروفو- پېژندل شوو نومونو- کې تر ټولو زیات پېژندل شوی نوم دی، په دې کې یوه باریکه معنا پرته ده، هغه دا چې د الله لفظ له (الَهَ) څخه اخیستل شوی دی، په دې معنا، چې الله هغه ذات دی چې

زړونه ورپورې نښلي اوخوښوي يې، ورباندې ډاډه کيږي، خوشحاليږي او د هغه خواته ورماتيږي . ناشوني ده چې زړه دې له الله پرته په بل څه باندې ډاډ پيداکړي او يا دې ورباندې تسلي وشي . رسول الله (ﷺ) خپلې لورفاطمه (رضي الله عنها) ته د مصيبت دعاء داسې ښودلې وه : (( الله ! الله چې زما رب دی ورڅخه مرسته غواړم، زه ورسره هېڅ شريك نه ګرځوم )). په دې هکله لاندې قراني ايتونه :

﴿ ورته ووايه ای پيغمبره، الله نازل کړی دی، خو ته دوی پرېږده چې په خپلو بېهوده خبرو مستي وکړي﴾. الانعام ۶:۹۱

﴿ الله پاك پرخپلوبنده ګانو پوره واکمن دی ﴾. الانعام۶:۶۱

﴿ الله پاك پرخپلوبندګانوخورا مهربان دی ﴾. الشّوریٰ ۴۲: ۱۹

﴿ هغوی الله په رېښتوني توګه نه دی پېژندلی، په داسې حال کې چې دقيامت په ورځ به ځمکه د الله په يوه موټي او اسمانونه به يې په ښي لاس کې نغښتي وي، الله له هغه څه نه پاك اولوړ دی، چې کافران يې ورسره شريکوي ﴾. الزّمر۳۹:۶۷

﴿ هغه ورځ رایاده کړه چې موږ اسمان داسې راونغاړه لکه ليکل چې د کتابچې په منځ کي راونغاړل شي﴾. الانبياء ۲۱:۱۰۴

﴿ بېشکه الله پاك اسمانونه اوځمکه له بېځايه کېدوڅخه ژغوري ﴾. فاطر۳۵: ۴۱

***

## الله ته مې ځان سپارلی دی

د خپل رب په لور ورماتېدل، په بشپړډول ورباندې تکيه کول، د الله دوستي، پاملرنه او روزنه ځانته کافي ګڼل هاغه سترلاملونه دي، چې د بنده نېکمرغي پراخوي . ﴿ ايا د الله کوم سيال پېژنې ﴾. مريم ۱۹: ۶۵

﴿ زما ساتونکی هغه الله دی چې قرآن يې نازل کړی اود نېکانوبنده ګانودوست دی ﴾. الاعراف ۷:۱۹۶ ﴿ خبرشئ چې د الله پردوستانوبه وېره نه وي اونه به غمجن وي﴾. يونس ۱۰:۶۲

***

## په درېوو بنسټونو يې جوړه کړې ده

ما د پرېشانۍ او ذهني ګډوډيو په اړه د پخوانيو دينپوهانو، اديبانو، روزونکو اوتاريخپوهانو ليکل شوي کتابونه ولوستل اود دې ترڅنګ مې د همدغې موضوع په اړه خپروني، له ختيځواو لوېديځو ژبوڅخه ژباړل شوي ډول ډول کتابونه او مجلې هم لوستلي دي، د دغو لوستنوپه رڼا کې دې پايلې ته ورسېدم، چې ټولوپوهانوپه دې خبره سره جوړه کړې ده، چې څوک روغتيا، درملنه، د سينې پراختيا، د زړه خوښي او ډاډ غواړي، نو درې لارې يې په مخ کې دي :

۱ : له الله (ﷻ) سره اړيکي ټينګول، دهغه بنده ګي او ورګرځېدل، چې همدا د ټينګ ايمان مسئله ده : ﴿ د الله عبادت کوه اوپرهمدغه عبادت ښه ټينګې کړه ﴾. مريم۱۹:۶۵

۲ : د تېروخت يادونه له ټولوستونزو، غمونو، اوښکو، خفګانونو، غميزو، دردونو او پرېشانيو سره سره په بشپړ ډول وتړه او له يوې نوې ورځې نه ژوند پيل کړه .

۳ : د ناڅرګندې راتلونکې په اړه بې پروايي، ځان پرې نه بوختول، د اټکلي وېروونو، اندېښنو او انتظارونو حملې ته په لا پروا نظر کتل او يواځې د نن ورځې په چوکاټ کې ژوند برابرول .

علي (رضی الله عنه) وايي : تاسوبايد له اوږدوهيلوڅخه ځانونه وژغورئ، ځکه چې اوږدې هيلې د نسيان -هېرېدو- صفت زرغونوي: ﴿ داسې ګومان يې کاوه چې موږ ته به بېرته نه راستنيږي ﴾. القصص ۲۸:۳۹

تاته په کار دي چې په ډېروړو باور ونه کړې، ځکه چې الله تعالی د خپلو دښمنانوپه اړه وايي : ﴿ هره چغه د ځان پرخلاف ګڼي ﴾. المنافقون۶۳:۴

زه ځينې داسې کسان پېژنم، چې څوکاله کيږي هغوی داسې پېښوو اوغميزو ته سترګې په لار دي، چې لا تراوسه هم نه دي پېښې شوي او تل هغوی خپل ځانونه اونورخلك له ناپېښو شويو پېښوڅخه وېروي .

پاکي ده الله لره ! دوی څومره د بد ژوند خښتنان دي ! د دغو خلکو ژوند د هغه بندي ژوند ته ورته دی چې د چين په زندانونوکې ځورول کيږي، چينايان بندي د اوبود يوه نل لاندې ودروي او بياهره دقيقه وروسته يې پر

سربانډې یو یو څاڅکې اوبه ورڅڅوي، بندي د همدغه انتظار له امله چې هرڅاڅکي ته یې تېروي د لېونتوب حالت ته رسیږي اوعقل له لاسه ورکړي . الله (عزّوجل) د دوزخیانو د ژوند حال داسې بیانوي : ﴿ نه به یي پرېکړه ژر پای ته رسیږي چې مړشي اونه به یې په عذاب کې کموالی راځي ﴾. فاطر ۳۶:۳۵

﴿ نه به په اورکې مري اونه به په کې ژوندی کیږي ﴾. الاعلی ۱۳:۸۷

﴿کله چې دهغوی پوستکي پاخه شي نوموږبه یې پوستکي وربدل کړو﴾.النّسآء۵۶:۴

***

## الله(ﷻ) ته ظالم وسپاره

شاعروایي : د قیامت په ورځ به موږ ټول د حاکم اوفیصله کوونکي ذات الله(ﷻ) په لور وردرومو، هلته به د الله په وړاندې ټول جګړه ماران راټولیږي .

د انصاف اوعدل له پلوه انسان ته همدابس دی، چې یوې داسې ورځې ته سترګې غړوي چې په هغې کې به الله (ﷻ) لومړني او وروستني ټول انسانان راټولوي او پرېښتې به ګواهي ورکوي .

﴿ موږ به د قیامت په ورځ د انصاف تله کېږدو، پرهېڅ چا به هېڅ ډول تېری ونه شي، که د چا عمل د شړشم یا د اوري د دانې په اندازه هم وي، نوموږ به یي په تله کې وراچوو او د حساب کولو له پاره موږ بس یو﴾. الانبیآء۴۷:۲۱

***

### بوډۍ ښځه او کِسرئ بادشاه

د فارس له حکیم "بزرجمهر" څخه رانقل شوي، چې د فارس یوه بوډۍ ښځه د "کسرئ" پادشاه د ماڼۍ ترڅنګ په یوه جونګړه کې له خپلي یوې چرګې سره اوسېده، یوه ورځ هغه ښځه بل کلي ته تلله نودعاء یې وکړه، چې ای ربه زه دا خپله چرګه پرتاسپارم، نوکله چې هغه ولاړه، کسرئ د خپلې ماڼۍ او بڼ د پراخولوپه موخه د بوډۍ په جونګوړه تېری وکړ او ورانه یې کړه،عسکرو یې چرګه حلاله کړه، کله چې بوډۍ بېرته راوګرځېده، نواسمان ته یې پورته وکتل او ویې ویل: ای ربه ! که زه نه وم، نوته چېرته وې؟ الله (ﷻ) یې خبرا قبوله کړه او

بوډۍ يې د حق خاونده کړه، له پادشاه څخه يې په داسې ډول غچ واخيست چې د کسرئ زوی خپل پلارپه چاقوپه خپله بستره کې وواژه .

﴿ ايا الله د خپل بنده له پاره بس نه دی، اوکافران تا له هغه خدايانوڅخه ډاروي چې له الله څخه يې پرته نيولي دي﴾. الزّمر ۳۶:۳۹

کاشکې چې موږ د ادم (عليه السلام) په دوه ځامنو کې د هغه د ښه زوی په څېرشو، چې خپل قاتل ورور ته يې داسې وويل :

﴿ قسم دی که تا زما د وژنې په موخه خپل لاس را اوږد کړ، نوستا د وژلو له پاره زه خپل لاس نه در اوږدوم ﴾. المآئده ۲۸:۵

رسول الله (ﷺ) وايي : (( ته د الله وژل شوی بنده اوسه نه وژونکی)). يعنې وژل شوي له زغم څخه کار واخيست او وژونکي له تېري څخه، ته هم بايد د تېري پرځای له زغم څخه کار واخلې (والله اعلم) . بله دا چې د مسلمان دنده، موخه او قضيه له غچ اخېستنې، کرکې، کينې او کندې ته له ټېل وهلو نه ډېره لوړه ده.

***

## کله ناکله نيمګړتيا د کمال سپرلۍ ته رسيږي

﴿ دا پېښه بده مه ګڼئ، په هغې کې ستاسوله پاره خيردی﴾. النّور۱۱:۲۴

ځينوپوهانوخپله لارپه ټينګ عزم وهلې او لامل به يې دا و، چې هغوی په ځان کې يوه څرګنده نيمګړتيا ليدله، ډېری دينپوهان مريان وو، خو بيا وروسته ازاد شوي دي، لکه : امام ابوحنيفه، عطاء، سعيدبن جبير، قتاده، امام بخاري او ترمذي(رحمهم الله)، او د نړۍ ډېرهوښياران او د شريعت سمندرونه په سترګو ړانده شوي وو، لکه، ابن عباس، قتاده، ابن اُمّ مکتوم، اعمش او يزيدبن هارون (رضي الله عنهم). په ورستنيودينپوهانوکې دوی ته ورته کسان شته، لکه : شيخ محمد بن ابراهيم آل شيخ، شيخ عبدالله بن حميد، اود سعودي عربستان پخوانی سترمفتي شيخ عبدالعزيزابن باز .

ما د ډېرو عربي مخترعينو، پوهانو او پخپل فن کې د نوميالوکسانوپه اړه ډېرڅه لوستي، چې عيبونوپرې حمله کړې وه، يو به يې ړوند، بل به يې

کوڼ، څوك به ګوډ اوڅوك به په پښو شل اوځای پرځای ناست و، خو له دې سره بیا هم هغوی د پوهې او بشري ژوند په تاریخ کې دېرسترعلوم، نوې لاسته راوړنې او موندنې ترشا پرېښې دي . ﴿ اوالله به ستاسو مخې ته رڼاکړې چې تاسو به پرې درومئ ﴾.الحدید ۲۸:۵۷

نو دېرلوړعلمي برې لیک هر شی نه دی، ته باید دې ته اندېښمن اوخفه نه شې، چې ګواکې ته د لیسانس، ماستری او یا دکتورا برې لیک نه لرې، ځکه چې هغه برې لیک هر شی نه دی، ستا په توان پوره ده چې له داسې بري لیکونو پرته هم وځلیږې او دې اُمت ته دېرخیر ورسوې . دېرداسې توریالي او نومیالي شته چې له شهادتنامو- بري لیکونو- پرته هغوی دخپل ټینګ هوډ،همت او لوړو هیلوله لارې خپلو ټاکلوموخوته د رسېدو لارې پرانیستي دي . اوسني وخت ته ځیر شوم، دېر داسې کسان مې ولیدل چې هغوی د شرعي علومو، دعوت، فکر، روزنې او ادب په برخه کې خورا اغېز درلود حال دا چې هغوی کوم نړېوال رسمي بري لیکونه نه درلودل، لکه، شیخ ابن باز، مالك بن نبي، عقاد، طنطاوي، ابوزهره، مودودي، ندوي اوداسې نور دېرپوهان . پخواني دینپوهان اوهوښیاران، چې په تېرو غوره پېړیو کې تېر شوي دي دلته نه یادوو .

پیاوړي نفس "عصام" مشرئ ته ورسوه، اوهمدې نفس ورته دجنګ په ډګرکې پر دښمن د بیا بیا یرغل چل وروښوده . د نړئ په هرکونج کې زرګونه دوکتوران شته، چې هغوی په علمي ډګرکې په نشت شمېرل کیږي او قرآنکریم داسې بیان کوي : ﴿ایا ته دهغوی د کوم یوه ګونګوسی هم اورې﴾. مریم۱۹:۹۸ قناعت ستره خزانه ده ! صحیح حدیث دی : (( هغه څه چې الله تعالیٰ درکړي دي پرې خوښ شه، نوتر ټولو به شتمن شې )) .

د خپلې کورنئ په غړو، پرخپله بودیجه، وظیفه، سپرلئ او ځامنوخوښ اوسه، نو په خپله به نېکمرغي اوډاډ ومومې ! بل حدیث دی چې : (( د نفس مړښت بشپړه شتمني ده )) . شتمني په زیات مال، سامان او لوړې پوړئ کې نه ده، بلکې د نفس په هوساینه اوکرښت، د الله تعالیٰ په ټاکلې روزئ او ژوندکې نغښتي ده . صحیح حدیث دی چې : (( بېشکه الله تعالیٰ هغه بنده خوښوي چې هغه له نوروخلکو څخه مړه خوا، او پټ پرهېزګار وي )) . بل حدیث دی چې : (( ای الله ته یې زړه موړ کړه )) .

یوکس قېصه کوله، زه له یوڅا سره د هغه په موټر کې له هوایي ډګر څخه سپور شوم او د یو ښار په لور وخوځېدو، د لارې په اوږدوکې راته څرګنده

شوه، چې موټرچلوونکی ډېرخوشحاله و، د الله (ﷻ) ستاینه یادونه او شکر یې پرځای کولو، ما ترې د کورنۍ د حال په اړه وپوښتل؟ په ځواب کې یې وویل، چې دوه کورنۍ لري، له لسوڅخه زیات ماشومان لري اومیاشتنۍ ګټه یې (۸۰۰) اته سوه ریاله ده، کورکې یې زړې کوټې دي چې له خپلې کورنۍ سره په کې اوسیږي، خوبیا هم ځکه خوښ وچې د الله (ﷻ) په وېش راضي و . قبصه کوونکی وایي، کله مې چې دا کس او نورهغه کسان پرتله کړل، چې زرګونه میلیونه ریال، لسګونه ماڼۍ اوکورونه لري، خو بیا هم د بد اوتنګ ژوند خاوندان دي، فکرمن او حیران شوم او دې پایلې ته ورسېدم، چې نېکمرغي په مال اودولت کې نه ده . زه له یوه لوی سوداګر اونامتو شتمن څخه چې زرګونه میلیونه روپۍ، لسګونه ماڼۍ اوکورونه لري خبر وم، چې ډېرسخت مزاجه، بدخویه، له خلکوسره په راکړه ورکړه کې سخت او تروش پروش و، په پای کې له خپلې کورنۍ څخه بېل او لرې مړشو، ځکه چې هغه د الله په ورکړه خوښي او بسنه نه وه کړې .

﴿بیاهم طمعه لري چې زه نورهم ورډېرکړم، نه ! هېڅکله نه ! بلکې زموږ له ایتونوسره د زړه له کومې کرکجن دی ﴾. المدّثر۷۴:۱۶

پخواني عربي انسان به صحرا یا دښتې ته په تګ او هلته لږ څه پاتې کېدولو کې د خپل فکرکرښت او سوږوالی لیده .

شاعروایي : په بېدیا کې د لېوانو غږ ته خوښ شوم او بیا یوه انسان هم غږ کړ، چې زه ( د خوشحالۍ له امله ) نژدې وم چې والوزم .

جلیل القدرصحابي ابوذر(رضی الله عنه) له مدینې منورې څخه د باندې په "ربذه" نومي کلي کې اوسېده. سفیان ثوري مشهورتابعي عالم وایي، زما دا خوښه ده چې دغرونوپه یوه ناو کې داسې ژوند وکړم، چې هیڅوک راباندې خبرنه وي . حدیث شریف دی : (( کېدای شي د یوه مسلمان غوره مال د ګډو (پسونو) هغه رمه وي، چې له فتنو څخه دخپل دین د خوندي ساتلو په موخه یې د غرونو په لوړوځوکوکې د شنو وښو له پاره څروي )).

کله چې فتنې منځته راشي په دې وخت کې دمسلمان بنده له پاره روغه او نېغه لاردا ده، چې له فتنوڅخه وتښتي، لکه څرنګه چې ابن عمر، اُسامه بن زید او محمد بن مسلمه (رضي الله عنهم) دعثمان (رضي الله عنه) له شهادت څخه وروسته وکړل . زه ډېرداسې خلک پېژنم چې دهغوی د نېستۍ، بد ژوند او نفسي ناقرارۍ بنسټي لامل دا دی، چې هغوی له الله (ﷻ) څخه ځانونه لرې ساتلي دي،

په دوی کې داسې کس هم و، چې ښه شتمن او د پراخې روزۍ او روغ بدن خاوند و، خوکله چې د الله تعالیٰ له بنده ګۍ څخه بې پروا او په لمانځه کې بې باکه شو په لویو ګناهونو یې لاس پورې کړ، نو الله (ﷻ) په نبستۍ، اندېښنو اوغمونوککړکړل، د خفګان له پاسه پرې بل خفګان او په یوه ازمېښت پسې بل ازمېښت ورباندې راغی.

﴿ څوك چې زما له ذكر- قرآن- څخه مخ واړوي، نو ژوند به يې په دنيا كې تنګ وي ﴾ طٰه۲۰:۱۴۴

﴿ دا ځكه چې بېشكه الله خپله پېرزو له يوه قوم څخه ترهغې نه ايساروي، ترڅوچې هغه قوم يې په خپله پرځانونوباندې ايساره نه كړي ﴾ . الرّعد ۱۳:۱۱

﴿ تاسوته چې كوم كړاو دررسيږي هغه ستاسود لاسونوخپله كړنه ده، او الله له ډېرو ګناهونوڅخه تېرېږي او بخښنه كوي﴾. الشّوریٰ ۴۲:۳۰

﴿كه هغوي داسلام پربنستونوټينګ واى، نوموږ به هرومروپه ډېرو اوبوخړوبه كړي وى﴾.الجنّ ۷۲:۱۶

ليكوال وايي : دا مې خوښېږي چې كاشكې يوه داسې منتري نسخه راسره وى، چې ستا د غمونو، اندېښنو اوخفګانونو له پاره مې كارولې وى، چې ټول كړاوونه يې درته په يوه غړپ سره له منځه وړي واى، خو له كومه ځايه يې پيدا كړم ؟! خو تاته به د اسلام د تكړه اوپوهانوعلماوو له كتنځي څخه يوه نسخه دروښېيم هغه داچې ته د خپل پيداكوونكي رب عبادت وكړه، پرخپلې روزۍ قناعت وكړه، الٰهي پرېكړې او برخليک ته ځان وسپاره ! له دنياڅخه بې پروا اوسه، هيلې دې لنډې كړه، ستا د رنځ همدا نسخه وه اوبس . زما د امريكا د نامتو نفسي عالم "وليم جمس" چې د امريكايانو په اند د نفسي پوهنې پلارشمېرل كيږي، هاغه خبره خوښه شوې چې وايي موږانسانان په هغوشيانوكې خپل فكر بوختوو، چې زموږ په واک كې نه دي اود الله شكرپه هغو شيانو كې نه پرځاى كوو چې زموږ په واک كې شته . موږ د خپل ژوند تور اوغمجن اړخ ګورو، خو د ژوند ځلانده اړخ ته سترګې نه غړوو، په هغوشيانوخورېږوچې نه يې لرو، خوكوم شيان چې زموږ سره شته دي پرهغې باندې ځان نه نېكمرغه كوو. ﴿ كه تاسوشكروباسئ، زه به يې هرومرو تاسوته ډېركړم﴾. ابراهيم ۱۴:۷

رسول الله (ﷺ) به دا دعاء كوله : (( له هغه نفس څخه په الله تعالیٰ پناه غواړم چې نه مړېږي )). حديث شريف دى چې : (( څوک چې ګهيځ پاڅېږي اوپه

زړه کې ورسره د آخرت اندېښنه وي، نوالله به يې کار ورتول، زړه به يې شتمن کړي او دنيا به ورته سرکوزي را روانه وي، او ځوک چې سهارپاڅېده او په زړه کې يې د دنيا اندېښنه وه، نوالله (ﷻ) به دهغه کارګډوډ کړي اونېستي به يې د سترګوپه منځ کې ځرګنده کړي، بيا به هم هماغومره دنيا په لاس ورځي ځومره چې ورته ليکل شوې وي .

الله پاک وايي : ﴿ قسم دی که ته له دغو خلکونه پوښتنه وکړې، چې اسمانونه اوځمکې چاپيدا کړي، لمراوسپوږمۍ چا تابع کړي دي؟ نوهرومرو به دوی وايي، چې الله ! نوبيا ولې دوی غولېږي ﴾.العنکبوت ٢٩:٦١

***

## ځو شېبې له احمقانوسره

" احمد حسن زيات " په " الرساله " مجله کی د کمونيزم په اړه يوه په زړه پورې مقاله هغه وخت خپره کړه، کله چې روسانو د سپوږمۍ پر لور فضايي بېړۍ وتوغوله اوبيا بېرته راستنه شوه . په هغې فضايي بېړۍ کې د "البرافد" په نوم يو کس يوې وروسی ورځپاڼې ته يوه مقاله ليکلې وه او په هغې کې يې ويلي و، چې موږ پاس اسمان ته وختو، خوموږ هلته نه الله وموند، نه جنت، نه دوزخ او نه پرېښتې .

ښاغلي " زيات " په ځوابيه مقاله کې ورته وليکل : تاسو خرو او احمقانو ته ډېره حيرانتيا ده ! ايا تاسو دا ګومان کوئ، چې تاسو به خپل رب ښکاره او د عرش د پاسه ووينئ ؟ يا به په جنت کې حورې په داسې حال کې ووينئ، چې هغوی به د ورېښمو په جاموکې ګرځي، د کوثرد حوض د اوبو شرارې به واورئ او يابه په جهنم کې د دوزخيانو د عذاب څه بوی په سپيږمو درشي !؟ که تاسو دا ګومان ولرئ، نو ښېشکه په هماغه زيان کې به پرېوځئ په کوم کې چې اوس پراته ياست، زه ستاسو دغه سرګرداني، بېلاري او حماقت له دغه کمونيزم پرته، چې ستاسو په سرونو کې يې ځای نيولی دی په بل څه نه شم ژباړلای . ښېشکه کمونيزم يوه داسې ورځ ده چې سبا نه لري، داسې ځمکه ده چې اسمان نه لري، يو داسې کار دی چې هغه کومه ځانګړې پايله نه لري، او کمونيزم د يوه داسې زيارنوم دی، چې هېڅ پايله نه لري !

﴿ ایا ته داسې انګېرې چې ډېرى کافران به اوري یابه پوهيږي؟ نه داسې نه ده! هغوى دڅارويوغوندى دي بلکې له هغوخورا بدتربېلارې دي﴾.الفرقان ۴۴:۲۵

﴿هغوى زړونه لري خو د پوهې کارترې نه اخلي، سترګې يې شته، خو حق پرې نه ويني، غوږونه يې شته، خو حق وربانديي نه اوري ﴾. الاعراف۱۷۹:۷

﴿ چاته چې الله د سپکولو اراده وکړه نو، بيا داسې څوک نه شته چې هغه ته درنښت ورو بخښي﴾. الحج ۱۸:۲۲

﴿ د هغوى کړنې په هوار ډاګ کې د سراب په څېردي ﴾. النور ۳۹:۲۴

﴿ د هغوى کړنې د ايرو په شان دي چې په سخته بادجنه ورځ پرې تېزه هوا راوالوزي ﴾. ابراهيم ۱۸:۱۴

مصري ليکوال "عُقاد" په خپل کتاب "د ناروغانوتګلاره" کې پر کمونيزم او ناولي الحاد- لاديني - باندې چې په نړۍ کې يې ځاى نيولى خپل سخت قهر څرګند کړى، چې څه ويناوې يې داسې دي : بېشکه روغ طبيعت د حق دين اسلام قبلوي، خوهغه څوک چې عقل يې کمزورى، بېلارې ، ناپاکه اولنډ فکري ناروغان دي، هغوى وروسته پاتې دي، کېداې شي هغوى د الحاد - لاديني - په سترجرم باندې اخته شي .

﴿ د هغوى پر زړونوټاپه ولګېده، نوځکه په هېڅ شي نه پوهيږي ﴾. التّوبه۸۷:۹

الحاد -لا ديني- د فکر له پاره يوغوڅوونکى ګوزار دى، دا د ماشومانو هغو نا اشنا کړنوته ورته دى، چې هغوى يې په خپله ځانګړې نړۍ (ماشومتوب) کې ترسره کوي، پردې سربېره الحاد يوه داسې تېروتنه ده چې وخت له دې څخه بله لويه تېروتنه نه پېژني، له همدې امله الله تعالىٰ وايي : ﴿ ايا د الله (ﷻ) په اړه کوم ډول شك شته ﴾. ابراهيم ۹:۱۴

لنډه دا چې په دې کارکې شك نشته، دا يوڅرګند حقيقت دى . ابن تيميه (رحمه الله) ويلي، چې الله (عزوجل) داسې يو ذات دى چې په ښکاره ډول پرته له فرعون څخه بل هېڅ چا ورڅخه انکارنه دى کړى، خو د يادونې وړده چې هغه هم په پټه کې له ځان سره اقرارکاوه، له همدې امله موسىٰ (عليه السلام) ورته وويل : ﴿ ته ښه پوهيږې چې زما معجزې د اسمانونو اوځمکې د رب له اړخه دي او اى فرعونه ! زما پوخ باور دى چې ته تباشوى يې ﴾. الإسراء ۱۰۲:۱۷

په خپله فرعون هم بیا په پای کی هغه څه څرګندکړل، چې په زړه کې يې وو او ويې ويل : ﴿ ما ومنله چې پرته له هغه يو الله نه چې بني اسرائيلوپرې ايمان راوړی بل هیڅ الـله نه شته او زه هم ورته غاړه اېښودونکی یم﴾. یونس ۹۰:۱۰

***

## ایمان د بریالیتوب لار ده

په "د تخنیك په زمانه کې د الله حقانیت لا ځلیږي " او " طب د ايمان محراب دی " کتابونو کې يو حقيقت شته چې ما هم په کې ولوستل . د بنده له پاره له غمونو اواندېښنوڅخه د خلاصون يواځينی لاره او هغه څه چې په دې اړه ورته مرستندوی ثابتېدای شي، پر الله (ﷻ) باندې ايمان اوخپلې چارې هغه ته سپارل دي. ﴿ زه خپل كار الله ته سپارم ﴾. الغافر ۴۴:۴۰

﴿ مصيبت اوغم هېڅكله نه راځي مګر د الله په امرسره او څوك چې پر الله پوخ يقين ولري الله پاك د هغه زړه ته هدايت وربخښي ﴾. التّغابن ۱۱:۶۴

څوك چې پردې خبره پوه شوچې دا هرڅه د الـهي پرېکړې او برخليک له مخې ترسره کيږي، نو زړه به يې له همدې امله د الله تعالـٰی پر پرېکړو باندې خوښ او ځان به ورته سپاري . ﴿هغه درونږ پېټی اوځنځيرونه چې پردوی باندې وو پيغمبر يې ورڅخه لرې كوي ﴾. الاعراف ۱۵۷:۷

يو شاعر وايی : زه په دې يقين لرم چې ماته د الله تعالـٰی له خوا کوم کړاو نه راپېښيږي، نو له ما څخه مخکې ځوان - پيغمبر- ته هم پېښ شوي دي .

د لوېديځ نوميالي ليکوالان، لکه :"کرسي مريسون "، " الکسيس کاريل" او" ډايل کرنيچې" هم اعتراف کوي اودې حقيقت ته رسېدلي چې د لوېديځ مادي نړۍ چې نن سبا له بد او نا ارامه ژوند سره مخ ده د ژغورنې يواځينی لار پر الله عزوجل باندې ايمان لرل دي، دا يادونه يې هم کړې چې د ځانوژنې پېښې چې نن سبا د لوېديځې نړۍ ورځنی ځانګړتيا ګرځېدلې، بنسټي لامل اوستر راز يې په دې كې نغښتی دی، چې هغوی په بې دينۍ ککړدي او له الله (ﷻ) څخه يې مخه ماديا‌تو ته اوختې ده . ﴿ دوی ته په دې سبب سخت عذاب دی، چې د آخرت ورځ يې هېره کړې ده﴾. ص ۳۸: ۲۶

﴿ چاچې له الله سره بل څوك شريک کړ، نو داسې يې وګڼه لکه له اسمانه چې راولوېږي اومرغان يې(غوښې) سره وتښتوي، يا يې باد په يو لرې او ژور ځای کې وغورځوي﴾.الحج۲۲:۳۱

د"الشرق الاوسط" ورځپاڼې په هغه ګڼه کې چې پر(۱۴۱۵/۴/۲۱هـ ق) خپره شوې وه د امريکا د پخواني ولسمشر جورج بوش د مېرمنې د يادښتونو د کتاب په حواله په کې ليکل شوي وو، چې هغې مېرمنې څوځله د ځانوژنې هڅه کړې اوخپل موټر يې په دې موخه يوې ژورې کندې ته ورغورځولی، چې مړه شي او له دې سره په څنګ کې يې څوځله د ځان ځندۍ کولو هڅه هم کړې ده .

په اُحد غزا کې د"قزمان" په نوم يوکس ګډون کړی و، چې سخته جګړه يې وکړه تردې چې خلکو وويل، جنت دې ورته دارو شي، جنت دې ورته دارو شي، پيغمبر(ﷺ) چې داخبره واورېده نو ويې ويل : ((بېشکه هغه کس د دوزخيانوله ډلې څخه دی، هماغه و، چې لږ څه وروسته په غزا کې ټپي شو، د زخم درد يې نه شو زغملای، ځان يې په خپله توره ووهه او مړ شو .

﴿ دوی هغه خلک دي چې د دنيايي ژوند ټولې هلې ځلې يې ورکې او بېځايه تللي، بيا هم ګومان کوي، چې ښه کارونه کوي ﴾. الکهف ۱۸:۱۰۴

په مخکينۍ قبصه کې د ياد شوي کس په اړه د الله تعالٰی دا وينا ښه سمون کوي، چې وايي : ﴿ څوك چې زما له کتاب نه مخ واړوي، نوبېشکه چې په دنيا کې به زړه تنګی ژوند ورپه برخه وي ﴾. طٰه ۲۰:۱۲۴

مسلمان شخص که په هرحالت کې وي، نو دا ډول کارونو ته زړه نه ښه کوي، دوه رکعته نفل لمونځ چې په مات زړه سره سرته رسيږي، د دې ضمانت کوي، چې ستا هر ډول غم، پرېشاني، د مزاج خرپړتيا او اندېښنې پای ته ورسوي او له بربادۍ څخه دې وژغوري . ﴿ د شپې په اوږدو او د ورځې په دواړو برخو- سهاراوماښام- کې تسبيح وايه(لمونځ کوه) ښايي چې ته خوښ شې ﴾ طه۲۰:۱۳۰

قرآنکريم له نړيوالوڅخه دهغوی د بېلارۍ او کږېدو په هکله پوښتنه کوي ﴿ پردغو خلکوڅه شوي، چې ايمان نه رواړي﴾. الإنشقاق ۸۴:۲۰

دوی ته دليل روښانه، حجت ورته قايم او حق ورته څرګند شوی دی، نو هغه کوم شی دی چې دوی له ايمان څخه ايساروي ؟

﴿ موږ به د کائناتو په بېلا بېلوکونجونواو د هغوی په ځانونوکې خپلې نښانې وروښايو، چې دا ورته په ډاګه شي چې قرآن حق دی ﴾. فصّلت۵۳:۴۱

يعنې دا چې محمد (ﷺ) ريښتونی، الله تعالیٰ دعبادت وړ ذات، اسلام يو بشپړدين او د دې وړدی چې د نړۍ ټول خلك يې ومني .

﴿هرڅوك چې خپل ځان الله ته وسپاري اونېك عمله وي، نوپه رېښتياچې پرکلکې رسۍ يې منګولې ولګولې ﴾. لقمان۳۲:۲۲

***

## کافران هم ځوړوله دي

د امريکې پخواني ولسمشر"جورج بوش" په خپلوياداښتونوکې چې د "مخ په وړاندې تګ" ترسرلېکي لاندې يې ليکلي دي وايي : زه د پخواني شوروي اتحاد د ولسمشر" برېژنيف " د مړينې په مراسموکې د ګډون له پاره مسکوته ولاړم، چې ورغلم نوماته يې جنازه تکه توره ځرګنده شوه، نه په کې ايمان اونه په کې روح و، "بوش" دا خبره ځکه کوله چې په خپله نصرانی و او هغه بل "برېژنېف" ملحد- بې دينه و . ﴿ د مؤمنانو په دوستۍ کې به ترهرچا نژدې هغه خلك ومومي چې وايي موږ نصرانيان يو﴾. المآئده ۵ :۸۲

نوته فکر وکړه ! سره له دې چې په خپله هم بېلارې دی، خو د دې نورو بېلاري يې پېژندلې ده، نوځکه قبصه يو ډول ورته والی لري، که "بوش" په خپله د اسلام په حقانيت پوه شي، چې د الله دين دی نو بيا به ځرنګه وايي !؟ ﴿هرڅوك چې له اسلام پرته بل دين غواړي، هېڅکله به ترې ونه منل شي اوپه آخرت کې به له زيانکارانوڅخه وي﴾. آل عمران۳: ۸۵

دا حال ماته د شيخ الاسلام ابن تيميه (رحمه الله) هاغه ليکنه را په زړه کوي، چې د يوه داسې کس په اړه يې کړې چې د صوفيـانو له يوې بېلارې ډلې "بطائحيه" سره يې تړاو درلود، وايی، "بطائحي" ماته راغی او پوښتنه يې راڅخه وکړه چې، ابن تيميه ! څه لامل کېدای شي، کله چې موږ ستاسو اهل سنتو څنګ ته راشو نو زموږ عزت اوشان تباه اوبرباد شي، خوکله چې موږ د مغولو تاتاريانو خواته ورشو، سره له دې چې هغوی کافردي، خو زموږعزت ورسره ځرګند شي؟

ابن تیمیه (رحمه الله) ورته وویل، موږ د سپینواسونو په شان یو اوتاسو د برګو اسونو په رنګ یاست او تاتاریان د توررواسونو په ډول دي، نو څرګنده خبره ده چې کله برګ اس د توررواسونو منځته ورننوځي هغه سپین ښکاري، خو کله چې د سپینو اسونو منځ ته ورګډ شي هلته بیا توربښکاري، تاسو هم چې لږه اندازه د اسلام نور او روښنایي درسره شته کله چی د سوچه کفارو منځته ورشئ، نوهغه لږه رڼا چې تاسو یې لرئ روښانه شي، خو کله چې زموږ د اهل سنتو او لویي رڼا خاوندانو خوا ته راشئ، دلته بیا ستاسوهغه تیاره او توروالی راڅرګند شي، نو دا زموږ او ستاسواو تاتاریانو مثال دی . ﴿ د چا مخونه چې سپین شول د الله په رحمت کې به وي، دوی به تل په دې رحمت کې وي ﴾. آل عمران ۳:۱۰۷

***

## فولادي هوډ

له یوه اسلامي هېواد څخه یو زده کوونکی "لندن" ته د زده کړې په موخه ولاړ، هلته یې له یوې برېتانوې کافرې کورنۍ سره د دې له پاره استوګنه غوره کړه، چې د هغوی ژبه زده کړي، هغه یو دینپاله کس و، سهار وختي به له خوبه پاڅېده او د اوبو نل ته به ولاړ په یخو اوبو به یې اودس وکړ، بیا به د لمانځه ځای ته روان شو، خپل رب ته به یې رکوع اوسجده وکړه، د الله تعالیٰ ثنا به یې وویله، په دې کورکې یوه بوډۍ ښځه وه چې هغې به هر وخت دا کس په دغه حالت کې لیده، نوڅو ورځې وروسته یې ورڅخه وپوښتل، دا ته څه کوې؟ هغه ورته وویل، ماته مې دین امرکړی دی، هغې بوډۍ ورته وویل، ایا نه شي کېدای لږ ناوخته راویښ شې، چې خوب دې پوره او بیا راپاڅېږې ؟ هغه ورته وویل، نه! ځکه زما رب راڅخه دا نه قبلوي چې زه لمونځ له خپل ټاکلي وخت څخه وروسته کړم، نوښځې خپل سر وخوځاوه، بیا یې وویل، دا خو یو داسې عزم دی چې اوسپنه ماتوي !! ﴿داسې سړي شته چې سوداګري، خرڅول او اخیستل یې د الله له یادولواو لمونځ کولوڅخه نه بې پروا کوي﴾.النور ۲۴:۳۷

دا د ایمان هوډ، د یقین زور او د توحید حاکمیت دی، همدا اراده وه چې د فرعون جادوګروته یې د دې الهام وکړ، چې پر الله تعالیٰ ایمان راوړي . کله چې د موسیٰ (علیه السلام) او د فرعون ترېوال جنګ تود و، په دې وخت کې منتریانو فرعون ته وویل: ﴿هغوی ځواب ورکړ چې موږ به هېڅکله تاپه هغو روښانه نښو، چې موږ ته ښکاره شوي او پرهغه ذات چې موږ یې پیدا کړي

یوغوره نه کړو، تا چې د کومې پرېکړې هوډ کړی وي هغه پوره کړه ﴿.
طٰه۲۰:۷۲

دا یوداسې قوي اخطار وچې پخوا هېڅ اورېدل شوی نه و، دوی ته د دې وخت رارسېدلی و، چې دا دحق پیغام په دغه وخت کې خلکوته ورسوي او دغه ظالم او بې دینه انسان ته دحق زوروره او رېښتونې خبره واوروي . د رسول الله (ﷺ) پیغام حبیب بن زید (رضي الله عنه) " مُسَیلمة الکذاب " ته ورساوه، خومسیلمه هغه په توره ټوټه ټوټه کړ، حبیب بن زید (رضي الله عنه) نه زیږروی اونه چغه وکړه، او نه ورېپېده، ترڅوچې خپل رب ته شهید ورغی . ﴿هغوکسانوته چې دخپل رب په لارکې شهیدان شوي ښه اجراو رڼاشته﴾ . الحدید ۱۹:۵۷

"خُبیب بن عدي"(رضي الله عنه) په دار وځړول شو اوبیا شهید شو، خوهغه په دغه حالت کې یو شعرزمزمه کړ: کله چې زه مسلمان ووژل شم، نوبیا زه د دې پرواه نه کوم چې په کوم اړخ دې زه د وژلوله پاره څملول شم،هغه چې مهمه ده (د الله تعالٰی رضا ده) .

***

## د الله (ﷻ) فطرت اوخلقت

کله چې تیارې سختې شي، له سخت غړ سره تندر را ولوېږي، نود انسان فطرت راویښ شي . ﴿ له هرلوري ورته د څپومخه شي، د بېړۍ سپرلۍ باوري شي چې اوس پاخه را ګیرشوي دي، نوهغه وخت ټول خپل دین د الله له پاره ځانګړی کړي﴾. العنکبوت ۲۹: ۶۵

خومسلمان په سختۍ او اسانۍ، خوښۍ اوکړاو کې خپل پالونکی رابولي : ﴿ که یونس (علیه السلام) له ثنا ویونکو څخه نه وای نو د قیامت تر ورځې پورې به یې د کب په خېټه کې ژوند کاوه ﴾ .الصّآفات۳۷: ۴۳-۴۴

ډېرکسان داسې وي چې کله اړ شي بیا الله ته زاري کوي، خوکله چې یې غوښتنه پوره شي بیامخ واړوي او الله تعالٰی ته شاکړي، حال دا چې د الله تعالٰی پرذات خو داسې لوبې نه شي کېدای، کومې چې له ماشومانوسره کیږي او یا د کوچني په څېردوکه کیږي . ﴿ دوی له الله سره ټګي کوي حال دا چې الله د دوی د ټګۍ په ترتیب پوه دی ﴾ . النّسآء ۱۴۲:۴

هغه کسان چې يواځې د خپلو اړتياوو پرمهال الله تعالٰی ته پنا وړي، نودا ډول کسان د هاغه ښېلاري او کوږلاري فرعون د زده کوونکوله ډلې څخه بل څوک نه دی، هاغه فرعون چې د ايمان د فرصت له لاسه ورکولووروسته ورته وويل شو﴿ ښـه! اوس ايمان راوړې! په داسې حال کې چې مخکې ـ له ډوبېدو ـ نه ته له ورانکارو څخه وې﴾ . يونس ۱۰:۹۱

هغه مهال چې کويټ دعراق له لوري ونيول شو، نوما د برېتانيي له راډيـو"بي بي سي" څخه واورېدل چې د دې پېښې د منځته راتلو په وخت کې د انګلستان پخوانۍ لومړی وزيره "چانسلر" د امريکا په "کلوراډو" ولايت کې وه کله يې چې دا خبر واورېده، نوسم دلاسه کليساته ولاړ اوهلته يې سجده وکړه ! زه خو دا ډول پېښه له دې پرته چې د خپل خالق په لورد دغه ډول کسانو د فطرت رابېدارېدل وبولم نور څه نشم انځورلی، ځکه دوی سره له دې چې کافر او بېلاري هم دي، خوټول انسانان په بنسټي ډول په فطري ايمان سره پيداشوي دي .

(( هرماشوم په فطري ايمان سره پيداکيږي، بيا يې نو د مور اوپلار خوښه ده، چې يهوديت ورزده کوي که نصرانيت اوکه مجوسيت )).

***

## د روزۍ په ځنډېدومه خفه کېږه، ځکه چې نېټه ورته ټاکل شوې ده

څوك چې دخپلي روزۍ په اړه له بيړې څخه کار اخلي، له ټاکلي وخت څخه يي مخکې غواړي او د تاخير له امله يې پرېشانه او غمجنيږي، نودا کس هغه لمونځ کوونکي ته ورته دی چې په لمانځه کې له خپل امام څخه مخکې مخکې کيږي او دا باور هم کوي چې له امام څخه به وروسته سلام اړوي ! لنډه دا چې د بنده ګانو رزق اوټول کارونه د الله تعالٰی له خوا ټاکل شوي دي، د انسانانوله پيدايښت څخه پنځوس زره کاله د مخه يې کارپای ته رسېدلی دی .
﴿ د الله حکم راروان دی، تاسوبېړه مه کوئ﴾ .النّحل ۱۶:۱

﴿که الله درته دکومې ښېګڼې اراده وکړي، بيا يې څوک د فضل مخه نه شي نيولای﴾ . يونس ۱۰:۱۰۷

عمر(رضي الله عنه) وايي : ( ای الله زه د فاجرد زور او د ساده مسلمان له کمزورۍ څخه پرتا ځان سپارم ). دا يوه لويه اوربښتينې ويناده، ماپه تاريخ کې يوځغلنده فکروکړ، په پای کې ما د الله تعالٰی ډېرداسې دښمنان وموندل، چې

په هغوی کې توانمندي، همت، هيلې، ثابت قدمي اوځان وياړنه پرته وه، خو ډېر داسې مسلمانان مې هم وموندل چې په هغوی کې دومره اندازه تمبلي، سستي، بې همتي او کمزوري پرته وه چې يو الله يې پرحال خبر دی، نوله دې وروسته زه د عمر( رضي الله عنه) د وينا حقيقت ته ورسېدم .

***

## په ګټورکارکې ځان بوخت کړه

وليدبن المغيره،اُميه بن خلف اوعاص بن وائل د اسلام د حق دين او پيغمبرۍ په مقابله اودښمنۍ کې خپل زيات مالونه ولګول. ﴿ ژر دی چې دوی به خپل مالونه د اسلام پرضد ولګوي، خووروستۍ پايله به يې پښېمانتيا اوبيابه له ماتې سره مخ شي﴾ .ألأنفال ۸:۳۶

خوډېرمسلمانان شته چې خپل مال د اسلام دسپېڅلې منارې اومانۍ په لوړولو کې نه لګوي : ﴿هرڅوك چې بخيلي کوي، نوپه حقيقت کې هغه په خپل ځان بخيلي کوي﴾. محمد ۴۷:۳۵

ښکاره ده چې دا دواړه حالتونه د فاجر په زور او د باوري مسلمان په کمزورۍ کې داخلېږي. ( او له دغو دواړو حالتونوڅخه عمر(رضي الله عنه) پناه غوښتې ده .

يوه يهودۍ چې"جولدامائير" نوميږي په خپلوخاطراتوکې د "کينې" تر سرليک لاندې داسې ليکلي، د خپل ژوند په ځينوپړاوونوکې داسې وخت هم راغلی چې شپاړس ساعتونه به يې د خپلو بېلارو بنستونوپه خدمت کې پرلپسې کارکاوه ، چې په پای کې يې د يوه بل يهودي "ګوريون" د زوی په ملتيا يوبېل دولت جوړکړ. که دچا خوښه وي نو د دغې مېرمنې کتاب دې ولولي . له بده مرغه موږ په زرګونو د مسلمانانو زامن وينو، چې هغوی په ټوله ورځ کې د يوه ساعت له پاره هم کارنه کوي، بلکې ټول ژوند په لهو، لعب، خوراك، څښاك، خوب او بې ګټو کارونوکې تېروي .

﴿ پرتاسو باندې څه شوي، چې کله درته د الله په لارکې د وتلوخبره وشي تاسو دځمکې په لور زوركوئ ﴾ . يعنې نه وځئ. التّوبه ۹:۳۸

**د اميرالمؤمنين عمربن الخطاب** (رضي الله عنه) **دا عادت و،چې هر وخت به په کاربوخت و، شپه او ورځ به يې په ځان يوه کړې وه، ډېرلږ خوب به يې کاوه،يوځل يې مېرمنې ورته وويل، خوب نه کوې ؟ هغه ځواب ورکړکه زه دشپې ويده شم نوځان به مې تباه شي يعنې (دشپې له عبادت څخه به بې برخې شم)، او که د ورځې ويده شم نو رعيت به مې زيانمن شي . "موشي ديان" چې يويهودی دی په خپلوتباه کوونکو يادابښتونوکي چې " توره اوحکومت " نومېږي يادونه کوي چې تل به يې شپه اوورځ، ښکاره اوپټ له يوه دولت څخه بل دولت ته او له يوه ښارڅخه به يې بل ښارته د هوا له لارې تګ راتګ کاوه، غونډو ته به يې وينا کوله، کنفرانسونه به يې برابرول، لوی لوی سوداګريز تړونونه به يې ترسره کول اوخاطرې به يې ليکلې .**

**نو، ما- ليکوال- وويل، د پښېمانتيا خبره ده چې دا د بېزوګانو او خوګانو ورونه (يهود اونصاریٰ) وګورئ، چې څومره له همت څخه کاراخلي او بيا زموږ ډېرمسلمانان وګورئ، چې څومره تنبلي يې کړې ده . لنډه دا چې دا هم د هماغه حالت يوه بېلګه ده چې مخکې يې يادونه وشوه، چې د فاجر- بې دينه - توانمندي او همت او د ساده مسلمان سستي ناوړه ده . شاعر وايي : که زه د "مازن" له قبيلې څخه وی، نو په لارکې موندل شويو زامنوبه چې د "ذهل بن شيبان" له قبيلې څخه دي زما اوښان روا نه ګڼل .**

**عمر**(رضي الله عنه) **دخپل خلافت په دورکې له بېکارۍ، وزګارتيا اوبې سرنوشتۍ سره سخته مقابله کړې ده، يوه ورځ يې څوځوانان له دې امله ووهل، چې هغوی په مسجدکې اوسېدل او وزګار وو، هغوی يې له جومات نه وتلوته اړايستل او ورته يې وويل بازارته ووځئ او روزي وګټئ ځکه چې له اسمانه سره اوسپين زر نه راورېږي .**

**دا يوڅرګند حقيقت دی چې له وزګارتيا سره تل اندېښنې، د مزاج خړوالی روحي ستونزه، نفسي اومغزي خرابتيا اوخفګان مل وي، خو له کار او خوځښت سره همېشه خوشحالي او نېکمرغي يوځای وي . له موږ څخه به هلته تړول غمونه، پرېشانۍ، روحي، عصبي اوعقلي ناروغۍ ورکې شي، چې موږ هريوپه خپل ژوند کې خپله دنده ترسره کړو، لکه کارځايونه اوکارخانې جوړې شي، مرستندويه، دعوتي اوټولنيزې ټولنې جوړې شي، ادبي، فرهنګي، اوعلمي سيمنارونه، پنډغالي اوغونډې په کارپېل وکړي او دې ته ورته نورې کړنې . ﴿ ای پيغمبره ! ووايه دوی ته چې کار وکړئ﴾. التّوبه ۹:۱۰۵ ﴿ په ځمکه کې خواره شئ﴾. الجمعه۶۲:۱۰**

رسول الله (ﷺ) وايي : (( ېښکه چې د الله پيغمبر داوود (عليه السلام) به دخپل لاس له ګټې څخه خوراك كاوه )).

"راشد" چې د "ژوند جوړول" په نامه يوكتاب يې ليكلى، د پورتنۍ موضوع په اړه څېړنه اوپلټنه کړې او ويلي يې دي، ډېر داسې خلك شته چې هغوى په خپل ژوندكې خپلې اصلي دندې سرته نه رسوي او ډېر داسې خلک هم شته چې ژوندي ښکاري، خوپه حقيقت كې هغوى د مړو په څېردي، ځكه چې نه د خپل ژوند په رازخبر دي، نه يې خپلوځانونو او راتلونكي ژوند ته او نه يې خپل اُمت ته څه خېر رسولى دى .

﴿ پر دې خوښ وو، چې د مخالفانوپه ډله کې پاتې شي﴾. التّوبه ٩:٨٧

﴿ ناست مؤمنان له هغومجاهدينوسره برابرنه دي،چې د الله په لاركې په خپلومالونواوځانونوجهاد كوي﴾ . النّسآء ٤:٩٥

هغه توره ښځه چې د رسول الله (ﷺ) په زمانه كى به يې مسجد نبوي جارو كاوه، هغې هم د خپل توان په كچه په ټولنه کې خپله دنده سرته رسولې او د همدغه مسؤليت پېژندنې له امله جنت ته داخله شوه . ﴿ ايمانداره وينځه له اصيلې مشركې ښځې څخه ډېره غوره ده، كه څه هم د مشركې ښځې ـ ظاهري لاملونو- تاسو هک پک کړي ياست ﴾. البقره ٢:٢٢١

هغه ځوان چې رسول الله (ﷺ) ته يې منبرجوړکړ، هغه هم خپله دنده سرته ورسوله چې په همدغه كار يې د الله تعالىٰ له اړخه ښه ثواب په برخه شو، ځكه چې د هغه پوهه په تركانۍ کې وه، يعنې همدا يې وس و . ﴿ هغه كسان چې له خپل كوښښ څخه بل څه نه لري ﴾. التّوبه ٩:٧٩

په ١٩٨٥ زېږيزكال کې د امريکې د ګڼو ولايتونو مسلمانو دين بلونكوته امريكايى زندانونوته له دې امله د ننوتلواجازه وركړه، چې كله مجرمان، وژونكي او د بدو اخلاقو خپروونكي داسلام دين ومني نوهغوى بيا په خپلوټولنوکې نېك عمله شي .

﴿ايا هغه څوك چې مړ و او موږ راژوندى كړ، هغه ته مو لارښوونه وكړه چې په دغه رڼا د خلكو منځ کې روان شي ﴾. ألأنعام ٦:١٢٢

دلته دهغه چا له پاره چې په خپلوکارونو کې د پېښواوستونزو پرمهال د ځان ټینګښت اوسمبښت غواړي، دوه سترې ګټورې دعاګانې شته :

لومړۍ دعاء : امام مسلم له علي (رضي الله عنه) څخه روایت کړی، چې رسول الله (ﷺ) ورته وویل : (( ووایه ای الله ! هدایت مې په برخه کړې او پر هدایت باندې د ټینګ پاتې کېدو توان راکړې)) .

دویمه دعاء : ابوداوود له "حصین بن عبید" څخه نقل کوي، چې پیغمبر (ﷺ) ورته وویل : (( ووایه! ای الله ماته په الهامي ډول د ښې لارې ښودنه وکړې او ما د خپل ځان له شرڅخه وساتې )) .

یو شاعر وایي : کله چې له یوه ځوان سره د الله تعالیٰ له لوري مرسته نه وي، نوبیا ډېرهغه څه چې ورته زیان پېښوي د هغه خپل اجتهادي فکر دی .

له ژوند سره زیاته مینه ساتل، اوږد عمرته لېواله کېدل او له مرګ څخه وېره دا ټول د بنده مزاج خرابوي، د سینې تنګوالی، بې خوبې، کړاو، اندېښنه او زړه تنګي ورته پیداکوي. الله (ﷻ) په قرآنکریم کې یهود له همدې امله غندي، چې له دنیایي ژوند سره یې خورا مینه درلوده،او فرمایي : ﴿ ته به هرومرو په دې حقیقت وپوهېږې، چې په ټولوخلکوکې یهود د دنیا ژوند ته ترمشرکانو ډېر لېواله دي،هریويې دا هیله لري چې کاشکې زرکاله ژوندی وي،خو زرکلونه عمربه یې هم له عذاب څخه ونه ژغوري، الله پاک د هغوی کړنېویني﴾.البقره ۲:۱۰۲

دلته څوقضیې دي، یوه داچې په دې ایت کې د- حیات- لفظ مطلق راغلی دی، موخه یې دا ده چې هغوی هرډول ژوندخوښوي، که د څارویو یا د یوه بې ارزښته اوپست انسان ژوند هم وي، لنډه دا چې هغوی د ژوند لېواله دي، بله قضیه دا ده چې دلته د زروکلنولفظ راغلی دی، له دې امله چې د یهودو دا عادت و چې یویهودی به کله له بل یهودي سره مخامخ شو، نو ورته به یې وویل : ( زرکاله ژوندی اوسې)، نوالله د دې یادونه وکړه چې دوی د دومره اوږد عمرهیله لري، خو که دوی دومره اوږد ژوند هم وکړي پایله به یې څه وي ؟ دوی به داسې اورته ولوېږي چې لمبې به یې بلېږي .

د آخرت عذاب ډېر رسوا کوونکی دی، او له هغوی سره به هلته هېڅ مرسته نه کېږي، دعاموخلکو یو ښه متل دی، چې وایی الله رابلل کیږي، نوهېڅ اندېښنه نشته ! موخه یې دا ده کله چې پاس پر سر داسې پالونکی شته چې بلل

کيږي او د خيرغوښتنه ورڅخه کيږي، نو بيا ته ولې په ځمکه کې انديښنه کوې؟ کله چې دې غم خپل رب ته وسپاره، نوهغه به يې درڅخه هرومرو لرې کوي .

﴿ څوك دى هغه ذات چې د اړ انسان دعا قبلوي﴾ . النّمل ٢٧:٦٣

﴿ کله چې زما بندګان له تاڅخه زما په اړه پوښتنه کوي، نو ورته ووايه چې زه نژدې يم، د هربلونکي بلنه منم کله چې ما راوبولي﴾. البقره ٢:١٨٦

شاعر وايى : د زغـــم له خاوندانوڅخه صبرزده کړه چې غوښتنه يې وررسيږي اوڅوک چې تل دروازې ټکوي يو وخت به ورننوزي !

***

## ستا په ژوند کې څو ارزښتناکې شېبې شته

د شيخ علي طنطاوي د ژوندپه خاطراتو- يادابښتونو- کې مې دوه اغېزمنې خاطرې وليدې! لومړۍ خاطره هغه دځان په اړه قېصه کوي چې يوه ورځ يې په بېروت کې دسمندرپه غاړه لامبووهله نژدې و، چې ډوب شي او مرګ يې وليد، بې هوښه يوړل شو، زياتوي چې په دغه حالت کې مې ډېرخپل رب ته پام شو او دا ارمان مې کاوه، چې يوساعت ولې نه وي کاشکې ژوندى پاتې شم، چې خپل ايمان اونېك عمل بيا تازه کړم، بلکې تردې چې ايمان مې وروستۍ کچې ته ورسوم .

دوهمه خاطره : هغه يادونه کوي چې يوکال له سوريې څخه په يوه کاروان کې بيت الله ته دحج په موخه روان شو، داسې وخت راغى چې د تبوك په دښته کې يې لاره ورکه کړه ،درې ورځې يې په دښته کې تېرې کړې ،ان تر دې چې د خوراك اوڅښاك ټول توکي يې ختم شول، نژدې وچې ومري، نوشيخ طنطاوي پورته شواو د دغه کاروان سترې ډلې ته يې يوه داسې وينا وکړه چې ګواکې د ژوند وروستۍ وينا يې ده، نوله توحيد څخه ډکه اغېزمنه، ژړوونکې او ګرمه ويناې وکړه، تردې پورې چې په ژړا شو او خلك يې هم وژړول . داسې يې انځورول لکه چې ايمان نور پورته روان دى او له الله پرته يې بل څوک ژغورونکى نشته . ﴿ هغه څه چې په اسمانونواوځمکوکې دي له الله څخه غوښتنه کوي، هره ورځ هغه ـ الله ـ په بېل بېل شان کې دى﴾ . الرّحمٰن ٥٥:٢٩

له ډېروپیغمبرانوسره یوځای الله پرستوخلکوجهادکړی دی، دهغو ستونزو له امله چې د الله په لارکې ورته رسېدلې وې، بې زړه، سست، کمزوري او سرټیټي شوي نه وو، الله صبرکوونکي خوښوي ﴾. آل عمران ۳:۱۴۶

بېشکه چې الله (ﷻ) په مؤمنانوکې قوي مسلمان خوښوي، چې دخپلو دښمنانومقابله په پوره صبر او قوت سره کوي، کمزوری کېږي نه، د ناهیلئ او کمزورئ ښکارکېږي نه، قوت یې له منځه نه ځي، ذلت، ناکامئ او ناتوانئ ته سرنه ټیټوي، بلکې په ټینګو پښو ولاړ وي، یوله بل سره اړیکي ټینګوي او نښلوي، او د دوی دغه کار پر خپل رب، پیغمبر او دین باندې د ایمان مالیه ده، چې دوی به یې ورکوي . حدیث شریف دی : (( الله ته قوي مؤمن د کمزوري مؤمن پرتله غوره دی او په ټولو کې خیر دی)). یعنې د ایمان قوت او کمزوري هدف دی، نه جسمي او بدني) . ژباړن .

یو وخت د پیغمبر(ﷺ) یوه ګوته د الله تعالی په لارکې زخمي شوه، نو ویې وویل : (( ته فقط یوه ګوته وی چې زخمي شوې یې او د الله تعالی په لاره کې له دې تکلیف سره مخ شوې یې )) .

د هجرت کولوپرمهال کله چې رسول الله (ﷺ) او ابوبکر(رضي الله عنه) سمڅې ته ننوتل، نوابوبکر(رضي الله عنه) په سمڅه کې په خپله ګوته یوسوری له دې امله بندکړ، چې له سوري نه لړم راونوځي او رسول الله (ﷺ) ونه چیچي، خو لړم راغی او ابوبکر(رضي الله عنه) یې وچیچه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغه دم کړ او د الله په حکم سره روغ رمټ شو . یوچا "عنتره " ته وویل ستا د اتلولئ او په نوروخلکوباندې د برياليتوب راز څه شی دی ؟ عنتره ورته وویل، ته دې خپله ګوته زماپه خوله کې او زما ګوته په خپله خوله کې کېږده، هغه همداسې وکړل بیا دواړو یو دبل ګوته په غاښونو وچېچله، نوهغه کس د درد له امله صبر او زغم ونشوکړای، له خولې څخه یې چیغه ووته، عنتره یې ګوته خوشې کړه او ورته یې وویل، چې زه له دې امله په نورواتلانو برلاسه شوی یم، یعنې زغم لرم .

بېشکه له هغو کارونوڅخه چې مؤمن خوشحالوي یو دا دی چې د الله تعالی رحمت، عفوه او مهرباني ورسره وي، چې له امله یې د خپل ایمان په اندازه د الله (ﷻ) پاملرنه او دوستي احساسوي، (انسان خولا څه کوې) چې ټول مخلوقات، ساکښ، څاروي، مرغان اوخوځنده دا شعورلري، چې یو داسې

پالونکی لري چې هغه یې پیدا کوونکی او روزي رسوونکی دی . ﴿ ټول شیان د الله ستاینه او ثناء وایې، خو تاسو پرې نه پوهېږئ﴾. ألإسراء۱۷:۴۴

شاعر وایی : ای ربه! ستا ستاینه کوم، پرته له تا بل څوك د ستاینې وړنشته، ای هغه ذاته چې ټول مخلوق ورته اړتیا لري !

زموږ دعامو بزګرانو داعادت دی چې د کرهنې په وخت کې کله تخم په خپل فصل کې شیندي، نو ورسره دا هم وایي، ای د ځمکو او اسمانونو خالقه! وچې دانې په وچه ځمکه اوستاپه حضورکې دي، یعنې زرغونول یې ستا په قدرت کې دي . ﴿ خبر راکړئ ماته په هغه څه چې تاسو یې کرئ ! ایا تاسو یې شنه کوئ که موږ یې زرغونونکي یو﴾ الواقعه ۵۶:۶۴

همدا د خالق ذات د توحید غوښتنه ده او الله ته د نفسونو د پام ورګرځېدلو معناهمدا ده . یوه ورځ د مصر غښتلی خطیب "عبدالحمید کشك" چې په سترګو وړوند و، منبرته وختـه اوله خپل جیب څخه یې د خورما یوه داسې پاڼه راوویسته، چې پرهغې باندې په ښکلي کوفي خط د الله نوم لیکل شوی و، نو بیا هغه کښېناست او ناست لوی ټولي ته یې وینا داسې پیل کړه : ته خو هغې ونې ته وګوره چې څومره تکې شنې څانګې لري، چا شنه کړې او په شین رنګ باندې یې ښکلا ورکړې ده ؟ دا کار دهماغه ذات صفت دی چې قدرت یې زورور دی .نوټول خلك یې په ژړا کړل، په رېښتیا چې الله عزوجل د اسمانونو او ځمکوپیداکوونکی دی، د قدرت نښې نښانې یې په ټولوکائناتوکې څرګندې او روښانه دي، کومې نښې چې دهغه د وحدانیت ـ یووالي ـ، ربوبیت ـ پالنې ـ، صمدیت ـ بې نیازۍ ـ او اُلوهیت ـ کارجوړونې ـ ښکارندوی دي .

﴿ ای زموږ ربه ! تا دا شیان عبث نه دي پیدا کړي﴾. آل عمران۳:۱۹۱

د خوښۍ او راحت له بنستونوڅخه دا هم شمېرل کیږي، چې بنده داسې وانګیري چې یوداسې رب شته چې پرانسان باندې مهربانه دی اود توبه ویستونکي توبه قبلوي چې الله ته توبه وباسي، نوته باید د خپل هغه رب په رحمت خوښ شې د چا رحمت چې له اسمانونواوځمکې څخه هم پراخ دی. ﴿ زما رحمت له هرشي څخه پراخ دی﴾. الأنعام۶:۱۵۶ ....... دا څومره د سترې مهربانۍ ښښتن دی !

صحیح حدیث دی چې یو باندېچي له رسول الله (ﷺ) سره یوځای لمونځ وکړ، کله چې تشهد ـ التحیات لله ـ یې پیل کړه، نو داسې یې وویل ( ای الله پرما او

محمد (ﷺ) باندې ورحمیږې او له موږ پرته پربل چاونه رحمیږی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل : (( بېشکه تا خو یوپراخه شی راتنګ کړ، د الله تعالی رحمت خودېرپراخه دی او هرچاته رسیږي)). الله(ﷻ) وایي:﴿الله پرمؤمنانومهربانه دی﴾.ألأحزاب ۳۳:۴۳

نبوي وېناده : (( الله (ﷻ) پرخپلوبندګانو د دغې (مرغۍ) پرتله چې پر خپلو بچومهربانه ده، هم زیات مهربان دی)).

صحیح حدیث دی یوه کس له دې امله ځان په اور وسوځوه، چې د الله (ﷻ) له عذاب څخه خلاص شي، نوالله (ﷻ) ( دهغه ایره شوی) بدن راټول کړ او ورڅخه یې پوښتنه وکړه، چې ای زما بنده! کوم لامل ته دې ته اړکړې چې ځان وسوځوې ؟ بنده ورته ځواب ورکړ: ای ربه ! زه د خپلوګناهونوله امله له تا څخه ډېر وېرېدم، نو الله (ﷻ) هغه جنت ته داخل کړ . الله (ﷻ) وایي : ﴿ څوك چې د خپل رب له مقام څخه په هیبت کې شی او ځان د نفس له هوس او هوا څخه وژغوري، نوجنت یې ځای دی﴾. النّازعات ۷۹:۴۰-۴۱

الله عزوجل له یوه ګناهګار مسلمان سره حساب وکړ، هېڅ نېکي یې نه درلوده، یواځې همدومره ووچې هغه یوسوداګر و نوله چا سره به یې چې راکړه ورکړه وه، چې وبه یې لیده دهغه لاس تنګ دی، نوله خپل حق څخه به ورته تېرشو، نوالله تعالی وویل چې موږ خوپه سخا کې له تا ډېرلومړي او مخکې یو،الله (ﷻ) پرېښتوته امر وکړ،چې تاسوهم ورسره له اسانۍڅخه کار واخلئ اوهغه یې جنت ته داخل کړ . الله (ﷻ) د ابراهیم (علیه السّلام) وینا داسې رانقلوي : ﴿ الله هغه ذات دی چې زه ترې د حساب په ورځ دګناهونود بخښلوهیله لرم﴾. الشّعرآء۲۶:۸۲

﴿ د الله له رحمت څخه ناامېده نه شئ﴾ .الزّمر۳۹:۵۳

امام مسلم (رحمه الله) روایت کوي، چې رسول الله (ﷺ) یوه ورځ خلکوته لمونځ ورکړ، له لمونځ څخه وروسته یوکس پاڅېده او(ﷺ) ته یې وویل: پر مابانډې(حد) ترسره کړه،رسول الله(ﷺ) ورڅخه وپوښتل، چې ایا تاله موږ سره لمونځ وکړ؟ هغه وویل هو! رسول الله (ﷺ) ورته وویل : ځه ولاړشه! بېشکه الله (ﷻ) تاته بخښنه وکړه. ﴿هرڅوك چې بد کاراویاپرځان ظلم وکړي بیا له الله څخه بخښنه وغواړي،نوالله پاك به بښه بخښونکی اورحم والا ومومي﴾.النّسآء ۴:۱۱۰

دلته یو داسې غیبي اوپټ لُطف شته چې بنده له هرارخه رانغاړي، له مخې، شا، ښي، چپ، پاس اولاندې اړخونوڅخه، د دې پټې مهربانۍ ځښتن الله پاک دی چې پیغمبر(ﷺ) یې په غارکې وژغوره، پراصحاب کهف باندي یې په غارکی رحم وکړ، هغو درو کسانوته یې د غارخوله پرانیستله، چې پرهغوی باندې بنده شوې وه . ابراهیم (علیه السلام) یې له اور، موسٰی (علیه السلام) یې له ډوبېدو، نـوح(علیه السلام) یې له طوفان څخه وژغوره، یوسف (علیه السلام) یې په ژور کوهي کې وساته، او ایوب (علیه السلام) ته یې له ناروغۍ څخه روغتیا ورپه برخه کړه .

***

## لنډه دمه

اُمّ سلمه (رضي الله عنها) وایي، چې له رسول الله (ﷺ) څخه مې اورېدلي دي : (( دا سې مسلمان به نه وي چې هغه ته غمیزه پېښه شي اوپه هغه وخت کې هغه الفاظ ووایي چې الله ورته پرې امرکړی، یعنې دا سې ووایي : بېشکه موږ د الله یو، خاص الله ته ورتلونکي یو، ای الله ماپه دغه غمیزه کې د اجر ځښتن کړې او ښه بدله یې راکړې، نوالله (ﷻ) به ورته ښه بدله ورکړي )) .

یوشاعر وایی : زما همرازو ملګرو! قسم پرالله چې پر ژوندي کس باندې یوه ستونزه که هرڅومره ستره هم وي راځي، خوتلپاتې نه وي، خو کله که ستونزه درپېښه شوه غاړه ورته شخه کړه، که دې ځپلې وښوېده نوفریاد ونه کړې، ډېرځله یوعزتمن انسان هم په کړاوونواخته کېږي، خو د صبرله امله یې ستونزه له منځه لاړه شي، یوڅو ورځې زما نفس پرما ډېرکبرجن و، یعنې ستونزې یی نه زغملې، خو کله یې چې زما زغم ولیده، نوهغه هم سرټیټی شو .

بل شاعر وایی : د یوې پېښې پرمهال مې غم سینه راتنګه کړي، خو ډېری وختونه ما په غم کې خیر لیدلی دی، ډېرځله د یوې ورځې په پیل کې غم وي خو په پای کې یې خوښي اوهوساینه وي، هېڅکله د یوې ستونزې د پېښېدو پر مهال لږ هم نه یم تنګ شوی، ځکه چې سمدستي یاڅه وخت وروسته له هغه غمه خلاص شوی یم .

***

## ښېګڼې د نېمکرغۍ لارې دي

د "حاتم طايي" د ديوان په پيل کې مې دهغه يوه ښکلې خبره ولوسته چې وايي : که د شر پرېښودل ستا له پاره کافي و، نوهغه پرېږده . معنا يې دا ده چې که کله له شرڅخه د خلاصون په موخه چپ پاتې کېدل او له هغه څخه ګوښه کېدل شوني وو، نوهمدا بس دی. ﴿ له دوی څخه مخ وګرځوه ﴾.حم السجده۳۲:۳۰

﴿ هغوي چې تا ځوروي پروا يې مه کوه ﴾. الأحزاب ۳۳:۴۸

خلکوته د خير رسولومينه يوه الٰـهي ورکړه ده، او د يوه او ستونزې حل کوونکي ذات له اړخه يوه مبارکه توښه ده . ابن عباس (رضي الله عنه) د الله تعالیٰ پر يونعمت شکر وباسي او وايی : زما درې خويونه دي، يو دا چې د ځمکې په هره برخه کې چې باران ووريږي زه د الله تعالیٰ ستاينه کوم اوخوښېږم، په داسې حال کې چې په هغه سيمه کې نه زما نه ګډې او نه اوښان وي، دويم دا چې کله مې د يو قاضي د عدالت خبر اورېدلی، نوهغه ته دعاء کوم حال دا چې کومه دوسيه مې هم ورپورې نه وي تړلې . درېيم دا کله چې د قرآنکريم په يوه ايت پوه شم، نو په دې خوښېږم چې خلک هم پرې داسې پوه شي لکه زه چې پرې پوه شوی يم . دې ته وايي خلکوته د خير رسولوشوق اومينه، او دې ته وايي د خلکوپه منځ کې د ښوکارونوخپرول، هغوی ته زړه صاف ساتل، اوپه پای کې د الله (ﷻ) مخلوق ته هراړخيزه خيرغوښتنه . شاعر وايی : ورېځې دې پرما او زما پرځمکه هغه باران هېڅکله نه راوروي، چې هغه ټول هېواد ته نه رسيږي. دا معنا چې کله عمومي ورېځې او باران ټولوخلکوته نه رسيږي، نوبيا يواځې ځان ته مې په کارنه دی ،ځکه چې زه د ځانځانۍ والا نه يم . ﴿هغه کسان هم نه خوښوي چې په خپله بخيلي کوي اونورو ته هم په بخيلۍ امرکوي اوهغوی هغه څه پټوي چې الله(ﷻ) ورته له خپلې پېرزوينې څخه ورکړي دي﴾. النّسآء۴:۳۷

ايا د "حاتم طايی" وينا تا ته ټکان نه درکوي، په کومه وينا کې چې د خپلولوړو اخلاقو او بهېدونکي روح په اړه وايي : قسم په هغه ذات دی چې له هغه پرته بل هېڅوك په غيبوخبرنه دی او هغه ذات چې سپين مېده شوي هډوکي بيا راژوندي کوي، بېشکه کله به داسې هم وشول چې مابه خپله ګېډه وتړله، حال دا چې خوراك، څښناك ته به ښه لېواله وم، خود دې خبرې له وېرې چې کومه ورځ ونه ويل شي (حاتم) بخيل دی .

***

## ګټور او زیانمن علم

دارو دې شه هاغه علم، چې تا له الله تعالی سره نښلوي او الله (ﷻ) ته د درسېدو لار درښايي :﴿هغوکسانوته چې علم اوايمان په برخه شوی و، هغوی ـ کافرانو۔ ته ویل چې د الله په لیکنه کې تاسو د بېرته ژوندون تر ورځې ځنډېدلي یاست ﴾ الرّوم۳۰: ۵۶

بېشکه ایماني علم هم شته اوکفرعلم هم، ځکه خوالله (ﷻ) د مخالفینوپه اړه وايي : ﴿ د خره په څېر دي چې پرخپله شاباندې کتابونه باروي﴾.الجمعه ۶۲:۵

الٰهي ویناوې : ﴿ دوی د دنیا په ژوند پوهیږي، خو له آخرت نه بې پروا دي ﴾. الرّوم۳۰:۷ ﴿ د آخرت د ژوند په اړه هغوی بېخي ناپوه، بلکې شکمن اوبلکې ړانده دي﴾. النّمل۲۷:۶۶ ﴿ د دوي پوهه همدومره ده﴾. النّجم ۵۳: ۳۰ ﴿ ای پیغمبره د هغه کس "بلعم بن باعورا" خبر دوی ته ولوله چا ته چې موږ د خپلو آیاتونوپوهه ورکړې وه، خوهغه له دغې پوهې اوعلم څخه ځان خالي کړ، شیطان ورپسې شو، تردې چې له سرکښانوڅخه وګرځېد، که زموږخوښه وای نو په دغه علم سره به موهغه لوړې پوړۍ ته رسولی وای، خوهغه دنیا غوره وګڼله اوپه نفسي غوښتنوپسې روان شو، نومثال يې د سپي په څېردی، که پرې برید وکړې هم ژبه را وباسي۔ غپیږي۔، اوکه همداسې يې پرېږدې هم ژبه را وباسي . دا د هغه قوم مثال هم دی، چې زموږ پرایاتونو دروغ وايي، نو دوی ته قېصې کوه کېدای شي چې فکر وکړي ﴾ . الاعراف۷: ۱۷۵-۱۷۶

د هغوی علم داسې علم دی، چې د حق لارښوونه نه کوي او داسې برهان اوحجت دی، چې نه درملنه، نه غوځول او نه ځیرې کول کوي، داسې نقل دی چې ریښتوني نه دی، داسې کلام دی چې له حق څخه لرې، د باطل، کږې او ورکې لارې لورته په کې لارښوونه شته .نو د دغه ډول پوهې څښتنان به څرنګه نېکمرغي ترلاسه کړي، حال دا چې دوی په خپله هغه لومړني کسان دي چې داعلم يې تریېښولاندې کړی دی .

﴿ خوهغوی د هدایت پرځای ړندوالی غوره کړل ﴾. فصّلت۴۱:۱۷

﴿ د دوی په وینا چې زړونه موپه پرده کې تاو دي، داسې نه ده بلکې دهغوی د کفر له امله الله پرې ټاپه لګولې ده ﴾. النّسآء۴:۱۵۵

په واشنګټن کې مې دکانګرس په کتابتون کې سلګونه زره حيرانوونکي کتابونه، چې په بېلابېلوعلومو اوڅانګوکې له هرقوم، اُمت، ډلګۍ، دود او دستور سره يې تړاو درلود وليدل، خوهغه ولس چې دغه سترکتابتون يې په غېږ کې نيولی دی پرخپل رب باندې کافردی، هغه ولس يواځې په مادي اوښکاره نړۍ باندې پوهېږي اوکوم شيان چې وروسته له دې ځرګندې نړۍ څخه شته د هغې په اړه نه غوږونه لري، نه سترګې، نه زړه او نه هم پوهه . ﴿هغوی ته موغوږونه، سترګې او زړونه هم ورکړي وو، خوغوږونو، سترګو او زړونو يې ورڅخه هېڅ دفاع ونه کړای شوه﴾. الاحقاف۴۶:۲۶

په رېښتيا چې بې زرغون دی خو مېږه ناروغه ده، خورما مقفزي ده، خو د " مروزي " بُخل هم ورسره مل دی، اوبه يخې اوخوږې دي، خو له بده مرغه خوله ترخه ده . ﴿ هغوی ته موږ څومره ښکاره نښې ورکړې وې﴾. البقره۲:۲۱۱ ﴿ چې کله هم هغوی ته د الله له نښانوڅخه کومه نښه راغلې ده، نومخ يې ترې اړولی دی﴾. الانعام۶:۴

***

## لوستل اوسنجش ډېره کوه

د زړه د خوشحالۍ اود سينې د پراخوالي له پاره يوهم د پوهې ډېروالی او دعلمي موادو ذخيره کول، دوديزاوتولنيزمعلومات پراخول، ژورفکراوفهم، وړاندې ليدل، د مسئلې په اصلي راز پوهېدل، د شيانوله حقيقتونواوموخوڅخه پرده لرې کول دي .﴿ يقيني خبره همداده چې په بنده ګانوکې يوازې علماء له الله څخه وېرېږي فاطر۲۸:۳۵. ﴿ په هغه څه چې نه پوهېدل هغه يې دروغ ګڼل﴾. يونس۱۰:۳۹

دا يوڅرګند حقيقت دی چې عالم انسان د پراخه فکر، خورا زغم، ډاډمن اوهوسا نفس څښتن وي .

شاعروايي : علم اوپوهه چې هرڅومره مصرف کړې نوره هم ډېرېږي، خوکه يې مصرف نه کړې نوهغه کمېږي . يو لويديځوال مفکر وايي، زه دخپل کار په الماری کې يوه ستره دوسيه لرم، چې پرهغې ليکل شوي دي، هغه حماقتونه چې ما ترسره کړي، په دې دوسيه کې زه هره هغه تېروتنه، ناوړه ګامونه ليکم

چې زه يې په خپله شپه او ورځ کې ترسره کوم، چې زه خپلوتېروتنوته ځيرشم اوجوړې يې کړم .

زه ـ ليکوال ـ وايم : زموږ د اسلامي اُمت پخوانيودينپوهانوله ځان سره دردوونکې اوسترې کوونکې پلټنه کې شېبه په شېبه حساب کې له تا څخه ډېرمخکې شوي دي . ﴿ قسم دی په ملامتګر نفس باندې﴾. القيامه ۷۵:۲

حسن بصري (رحمه الله) وايي : يومسلمان له خپل نفس سره په دومره اندازه حساب کوي، چې يوکاروباري سوداګر يې له خپل شريك سره هم نه کوي.

"ربيع بن خُثَيم"به له يوې جمعې څخه تربلې جمعې پورې خپلې خبرې ټولې له ځان سره ليکلې، بيا به يې کتل، که په هغوخبروکې به يې کومه ښه وموندله، نو د الله (ﷻ) ستاينه اوشکربه يې ترسره کړ،اوکه کومه به يې غلطه وموندله، نوله الله څخه به يې د هغې بخښنه غوښته. د پخوانيودينپوهانو څخه يوتن وايي: ما يوه ګناه کړې او له ځلويښتو کالو راهيسې زه له الله پاک څخه دهغې د بخښنې له پاره ډېرې زارۍ کوم ﴿مؤمنان هغه کسان دي چې د الله په لارکې هغه مال لګوي کوم چې ورته الله ورکړی، په داسې حال کې چې زړونه يې رپېږدي﴾. المؤمنون۶۰:۲۳

***

## له خپل ځان سره حساب وکړه

ځان سره يوه د يادابنت کتابچه وساته اودهغې له مخې د خپل نفس پر ټولوهغوبدو اړخونوحساب وکړه چې ستاعادت شوي دي، بيا د د دې ناوړو اړخونو په رغونه کې چې تاڅومره پرمختګ کړی وي د هغه يادونه هم وکړه . عمر(رضي الله عنه) وايي، مخکې له دې چې له تاسوسره په آخرت کې حساب وشي، تاسوله خپلوځانونوسره حساب وکړئ، اوخپل نفسونه مومخکې له دې چې په آخرت کې وتلل شي په خپله يې وتلئ، او د الله تعالٰی په مخکې ودرېدوته ځانونه ښايسته کړئ .   درې تېروتنې چې هره ورځ زموږ په ورځني ژوند کې تکرارېږي

۱ : د وخت په ارزښت نه پوهېدل .   ۲ : بې معناخبرې . حديث شريف دی چې : (( د انسان د ښه اسلام له نښوڅخه يوه دا ده، چې هغه کار پرېږدي چې ګټه ورته نه رسوي، يا ورپورې اړه نه لري )) .

۳ : دا چې وړو او بې ارزښته کارونو ته اهمیت نه ورکول، لکه، ډنډورچېانو، سودایانو، ویرونو، اندېښنو او تشویشونو ته پاملرنه اوغوږ نیول، چې دا په خپل ذات کې له بېړنۍ اندېښنې اوخفګان پرته نورڅه نه دي، چې دنېکمرغۍ او هوساینې له ستروخنډونوڅخه شمېرل کېږي .

د جاهلیت د زمانې نامتوشاعر" امروالقیس" وایي : ای هغو زړو کنډرو چې پخوا درکې محبوب استوګنه درلوده سهار مونېمکرغه اوسه ! ایا هغه خلک چې په پخوا وختونوکې تېرشوي، هغوی به خوښې لاس ته راوړې وي؟ هېڅکله به یې خوښې ترلاسه کړي نه وي، خوهغه څوك نېکمرغه، خوښ او د ښه ژوند څښتن دی چې غمونه او اندېښنې یې کمې وي، په خفګانونوکې شپې نه سبا کوي .

رسول الله (ﷺ) خپل تره عباس (رضي الله عنه) ته یوه داسې دعاء ښودلې چې د دنیا اوآخرت نېکمرغۍ په کې شته : (( ای الله ! زه له تا څخه بخښنه او روغتیا غواړم )) . دا هراړخیزه، بشپړه او روغوونکې دعاء ده چې د دنیا اوآخرت دواړو خیرپه کې شته .

﴿ الله پاك هغوی ته په دنیا کې بدله ورکړه او په آخرت کې یې ښه ثواب ورکړی دی﴾. آل عمران۳:۱۴۸ ﴿ نه به بېلارې کېږي اونه به بدبخته شي﴾ طٰه ۲۰ :۱۲۳

***

## له وسائلو اواحتیاط څخه کار واخلئ !

د انسان د نېکمرغۍ له پاره له وسایلو کار اخیستل اوله احتیاطي لارو چارو سنجولوسره سره پرالله تعالیٰ ځان سپارل په کاردي . رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې د الله (ﷻ) په بندګانوکې ترټولوسترمتوکل و، نوهغه هم په خپلو ځینوغزاګانوکې د جګړې پرمهال زغره اغوستله، یوه صحابي ورڅخه پوښتنه وکړه، چې زه خپله اوښه وتړم اوکه پر الله تعالیٰ توکل کړم همداسې یې پرېږدم، نوهغه ورته ځواب ورکړ چې اوښه وتړه بیا پرالله توکل وکړه.... لنډه دا چې پرالله (ﷻ) باندې له توکل سره سره له وسایلوڅخه کاراخیستل دتوحید متې دي او له اسبابو پرته پر الله تعالیٰ توکل په شریعت کې نقصان پیداکول دي، همدا ډول پرالله (ﷻ) له توکل پرته په وسایلوتکیه کول توحید زیانمنوي .

" ابن الجوزي " په دې اړه ويلي چې يو چا په خپلو نوکانوکې يونوك غلط پرې کړی و اوله احتياط څخه يې کار نه و اخيستی بيا هغه نوك خراب شواو سړی مړ شو . بل کس خپل خر له غوجلې څخه راويسته، نو غوجل ته له شا اړخه ورننوت، خره هغه د شا له خوا په لغته ووهه ګېډه يې ورته څيرې کړه اومړ شو . د مصر د نامتوليکوال " طه حسين " په اړه ويل شوي چې يوه ورځ يې خپل موټروان ته وويل تېز مه ځه، چې په وخت ورسيږو . او دا دهغه متل معنا ده چې وايي : ډېرځله بيړه په توښه کې ورسته والی راوړي .

شاعر وايی : کېدای شي په حوصلې سره کارکوونکی انسان خپلې ځينې اړتياوې سرته ورسوي، خو دا هم شونې ده ، چې له بيړې سره ښوييېدل هم نښتي وي .

لنډه دا چې دخطردمخنيوي له پاره د وسايلوکارول له الٰهي برخليک سره ټکرنه لري، بلکې داهم له برخليک څخه ګڼل کيږي . د اصحاب کهف دهوښيارۍ لفظ دا وچې : ﴿ وَلْيَتَلَطَّفْ: بيا دې نرم چلندوکړي ﴾ الکهف ۱۹:۱۸

﴿ تاسو به له ګرمۍ اوسختې ورځې څخه ساتي ﴾. النّحل ۸۱:۱۶

***

## خلک راخپل کړه

د بنده بله نېکمرغي دا ده چې خلک ځان خوا ته رامات کړي اودهغوی مينه اومهرباني ترلاسه کړي . په قرآنکريم د ابراهيم (عليه السلام) دعاء داسې رانقل شوی ده:﴿په راتلونکونسلونوکې مې په ښه نوم سره ياد کړه﴾.الشّعرآء۲۶:۸۴ (تفسيرپوهان وايی : ښه ستاينه يې مراد ده).

دارنګه الله تعالٰی د موسٰی (عليه السلام) په اړه وايي : ﴿ ما له خپله اړخه ته په مينه کې تاو کړې﴾ طٰه ۳۹:۲۰

ځينې تفسيرپوهان وايي : هرچا چې به موسٰی (عليه السلام) ليده، نومينه به يې ورسره کوله .په صحيح حديث سره روايت دی : (( تاسوپه ځمکه کې د الله تعالٰی ګواهان ياست او د خلکو ژبې په حقيقت کې دحق قلمونوته ورته دي)). صحيح حديث دی :(( جبريل(عليه السلام) به د اسمان په پربښتوغږ وکړي چې بېشکه فلانی کس د الله تعالٰی خوښ دی تاسوهم ورسره مينه وکړئ، نو د

اسمان ټول مخلوق به يې خوښ کړي او دې بلنې ته به په ځمکه کې هم د قبول لار پرانيستل شي چې دځمکي خلك به يې هم خوښوي )).

د تندي پراخوالی، خوږې خبرې، ښه خويونه او نېک چلند هم د مينې يا ګرانښت له لاملونو څخه شمېرل کېږي، او د زړونو د لاسته راوړلو ترټولوقوي لامل نرمښت او اساني ده . رسول الله (ﷺ) وايي : (( په هرشي کې چې نرمښت وي هغه ښايسته کوي او- نرمښت- چې له يوه شي څخه وويستل شي هغه شرموي. رسول الله (ﷺ) وايي : (( څوك چې له نرمۍ څخه بې برخې شو داسې وګڼه چې له ټول خيرڅخه بې برخې شوی وي )).

يو پوه وايي : نرمښت مار له سوړي څخه راوباسي. لوېديځوال وايي، عسل واخله خود مچيوچک مه خرابوه . رسول الله (ﷺ) وايي : (( مؤمن د عسلو دمچۍ په څېرده چې پاک شيان خوري او پاک شهد توليدوي اوکله چې د بوټي پر يوه ډنډرکي باندې کښېني نوهغه نه ماتوي)). صحيح حديث دی .

***

## په ځمکه کې وګرځه، چې د الله (ﷻ) د قدرت نښې وګورې

د الله تعالٰی په ځمکه کې له يوې سيمې نه بلې ته تلل اوګرځېدل او د ښارونو ليدل انسان ته خوښي او خوشحالي ورپه برخه کوي، د کتاب په پيل کې هم په دې اړه يادونه وشوه . الله (ﷻ) وايي : ﴿ ای پيغمبره هغوی ته ووايه چې په اسمانونواوځمکوکې ـ دقدرت ټولې نښې ـ په غورسره وګورئ ﴾. يونس۱۰:۱۰۱

﴿ ای پيغمبره! ورته ووايه چې په ځمکه کې وګرځئ او وګورئ ﴾.العنکبوت ۲۹:۲۰

﴿ ايا دوی په ځمکه کې نه دي ګرځېدلي چې وګوري﴾. محمد ۴۷:۱۰

يو شاعر وايي : داسې ځای کې مه ځنډېږه، چې هلته زړه ويلي کوونکی ظلم وي، مګرپه هغه حال کې که ته په زولنوکې تړل شوی وې، لوېديځ ته د ګټې له پاره لاړ شه او که ته د لمرپه څېرځلېدل غواړې، نوختيځ ته ولاړشه .

که څوك د " ابن بطوطه " د سفر قيصې ولولي، سره له دې چې په هغو کې به څه اندازه لافې اوله اندازې څخه تېرى هم وي، خوهغه کس به د الله پاک له حيرانوونکومخلوقاتوڅخه خبر او دا به ورته څرګنده شي چې الله تعالٰی د

کائناتو نظام څه ډول اړووي راړووي، او دې پایلې ته به ورسیږي، چې دا هرڅه د مؤمن بنده له پاره د ستروعبرتونواوپندونولامل دی، اوشوق به ورسره پیدا شي چې سفرونه وکړي، هوا اوځای ته تغیر ورکړي، ترڅو د الله تعالی دا پرانستې نړۍ وګوري اوعبرت ترېنه واخلي .

"ابوتمام" په بېلابېلو وطنونو کې د سیل اوګرځېدو په اړه وایي : کور مې په شام کې دی، بغداد مې د زړه مینه ده، زه په خپله د "رقمتین" په نوم یو ځای کې یم اوپه " فسطاط " کې مې ګاونډیان دي .

﴿ ای پیغمبره ورته ووایه چې په ځمکه کې وګورئ او وګرځئ ﴾. الانعام ۶:۱۱

﴿ ذی القرنین دومره وګرځېده، چې د لمرپرېوتوځای ته ورسېده﴾. الکهف۱۸:۸۶

﴿ زه به ترهغې پورې روان یم چې د دواړوسیندونو د یوځای کېدونقطې ته ورسیږم﴾. الکهف۱۸:۶۰

***

## تهجـد لمونځ کوه !

دنفسي خوشحالی له لاملونوڅخه یوهم تهجد لمونځ کول دي صحیح حدیث دی چې رسول الله (ﷺ) وایي: کله چې یوبنده دشپې پاڅیږي له اودس نه وروسته لمونځ وکړي د الله تعالی ذکروکړي،نوګهیځ به تازه، تکړه اونفس به یې خوشحاله وي. ﴿پرهېزګاران به د شپې ډېر لږ ویده کېدل﴾ . الذّاریات۵۱:۱۷

﴿ د شپې په څه برخه کې هم د قرآن په لوستلو ویښ اوسه، دا زیاتوالی یوازې ستا له پاره دی﴾ الإسراء ۱۷:۷۹

د شپې تهجد له بدن څخه ناروغي لرې کوي . ابوداوود (رحمه الله) صحیح حدیث روایت کوي چې رسول الله (ﷺ) یوصحابي ته وویل : (( ای عبدالله ته د فلاني غوندې مه کېږه، د تهجد لمونځ به یې کوه اوبیا یې پرېښوده)). بل حدیث دی چې : ((عبدالله ډېر ښه سړی دی، خوچې د شپې تهجد یې کولای)) .

په هغو شیانو مه خفه کېږه، چې له منځه ځي : ﴿ پرته له الله ټول شیان له منځه ځي او پناه کیږي ﴾. القصص۲۸:۸۸

﴿ دځمکې پر مخ هرڅه له منځه تلونکي دي او يوازې ستا د رب لوی اوعزتمن مخ به تلپاتې وي ﴾. الرحمن.۵۵:۲۶

کوم انسان چی دنيا پسې لاس مروړي د هغه ماشوم په څېردی، چې د لوبو شيان يې ورک کړي وي او ورپسې ژاړي .

***

## لنډه دمه

انديښنه اوخفګان يو له بل سره تړلي دوه ملګري دي چې روح ځورونکي اودردونکي دي، خو د دغو دواړوپه منځ کې توپيردا دی، چې په راتلونکي وخت کې د شرد پيښېدواتکل کولوته انديښنه اوپه تېر وخت کې پر خواشينئ باندې کړېدل او يا د يوه ښه شي د ورکېدو له امله چې پيښ شوی وي هغې ته خفګان ويل کيږي. خو دا دواړه هغه عذاب او درد دی چې روح ته پيښيږي، که يې تړاو له تېر وخت سره و، نوخفګان دی اوکه تړاو يې له راتلونکي وخت سره و انديښنه ده . رسول الله (ﷺ) په دعاء کوله : (( ای الله! زه له تا څخه په دنيا اوآخرت کې روغتيا غواړم . ای الله ! زه له تاڅخه د خپل دين، دنيا، اهل - کورنئ - او مال سلامتيا غواړم . ای الله ! زما عيبونه پټ کړې، وېرې مې په ډاډ بدلې کړې، ای الله! ته ما له مخې، شا، ښي، چپ، پاس او لاندې اړخونو څخه وساتې او ستا په لويوالي باندې له دې څخه پناه غواړم چې له لاندې خوا څخه له منځه لاړ نه شم)) . يو شاعر وايي : ايا ته نه ويني چې ستا د رب اوسني اوپخواني نعمتونه بېشمېره دي، اند ښښني دې هېرې کړه،ځکه چې هېڅ شی د تل له پاره پاتې کېدونکی نه دی او نه ستا انديښني همېشه پاتې کېدونکي دي، کېدای شي له دې وروسته الله تعالٰی تاته درحمت په نظر وګوري .

***

## ستا بدله جنت دی

يو شاعر وايی : زما نفس چې کوم شيان لري هغه ټول له منځه تلونکي دي، نوځرنګه به پرهغو شيانو ژاړم چې له منځه ځي .

دا دنيا د خپلوسرو اوسپينو زرو، لوړو پوړيو، کورونو اوماڼيوسره سره د يوه څاڅکي اوښکې تويولو ارزښت هم نه لري . امام ترمذي دا حديث

روایت کړی چې رسول الله (ﷺ) وایي : ((د الله (ﷻ) له ذکر، عبادت، عالم ـ دین ښوونکي او متعلم ـ دین زده کوونکي- پرته دنیا اوهغه څه چې په دنیا کي دي لعنت پرې ویل شوی دی)). شاعر " لبید" وایي : مال، مېرمن او اولاد یوامانت دی اوهرومروبه یوه ورځ امانتونه خپل څښتن ته تسلیمېږي. میلیاردونه، ځمکې اوموټرې دا ټول یوه شېبه هم دبنده د مرګ نېټه له ټاکلي وخت څخه نه شي وروسته کولای . حاتم طایي وایي : قسم دی چې انسان ته کله مرګ راشي نود زنکدن په وخت کې ورته شتمني هېڅ ګټه نه شي رسولای . له همدې امله علماوو ویلي،چې هرشي ته دهغه د ارزښت په کچه نرخ وټاکه، دنیا اوهغه څه چې په دنیا کې دي دمؤمن له نفس سره برابر نه دي .

﴿ د دنیا ژوند له مستۍ او وخت تېرۍ پرته بل څه نه دی﴾ . العنکبوت ۶۴:۲۹

" حسن بصري " (رحمه الله) وایي : ته خپل ځان له جنت پرته په بل شي مه قانع کوه، ځکه چې د مسلمان ځان خورا ارزښت لري، خوځینې خلك یې ډېر ارزانه پلوري، هغه کسان چې دخپلومالونو د له منځه تلو یا د کورونو د نړېدو او د موټرو د سوزېدو له امله ستیاني کوي، خو دخپلوایمانونود کمزوره کېدو، د ګناهونو او د رب په بنده ګۍ کې د نیمګړتیا له امله نه خفه کیږي، یوه ورځ به دوی پوه شي چې دخپلو دغه ډول کړنو له امله خوشې لګیا وو، ځکه چې دا کومه وړه خبره نه ده، بلکې خبره د اهدافو، اخلاقو، دریځونو اودندو پېژندلوده. ﴿ بېشکه چې دا خلك د دنیا ژوند خوښوي او د آخرت ورځ ورڅخه هېره ده ﴾. الانسان۷۶:۲۷

***

## رېښتیا مینه

که غواړې چې نېکمرغه شې، نود الله (ﷻ) له مینه والو اودوستانوڅخه شه، بېشکه ترټولونېکمرغه هغه څوک دی، چې موخه یې د الله (ﷻ) مینه اوخوښي لاسته راوړل وي . د الله تعالٰی دا ویناڅومره له مهربانۍ څخه ډکه ده : ﴿ الله ته دوی ګران دي او دوی ته الله ګران دی﴾. المآئده ۵ :۵۴

ځینودین پوهانو ویلي چې دا دحیرانتیا وړ نه ده چې دوی- مسلمانان- له الله سره محبت کوي، بلکې حیرانېدل دلته دي چې الله ته دوی ګران دي، حال دا

چې همدا الله دوی ته روزي ورکوي، پیدا کړي یې دي، پالنه یې هم کوي او بیامحبت هم ورسره کوي .

﴿ ای پیغمبره دوي ته ووایه ! که تاسوله الله سره په رېښتامینه کوئ، نو زما په لار روان شئ، الله به له تاسوسره مینه وکړي ﴾. آل عمران ۳ :۳۱

د دغه ډول محبت له بېلګوڅخه یوهغه درنښت دی، چې دعلي بن ابي طالب (رضي الله عنه) په برخه شوی او د سرتاج یې ګرځېدلی، محمد (صلی الله علیه وسلم) وایي : ((علي داسې شخص دی چې الله او پیغمبرسره مینه لري اوالله او رسول یې له علي سره مینه لري . د یوصحابي ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ اَحَدٌ ﴾ سورت خوښ و اود لمانځه په هررکعت کې به یې ویلو، د دې په لوستلوبه یې همدغه سورت سره مینه کوله، په خپله ژبه به یې باربار لوستلو، خپل زړه به یې پرې خوشحاله ساته، وجدان به یې پرې خوځاوه .... نو رسول الله (ﷺ) ورته وویل : (( له دغه سورت سره ستا محبت به تاجنت ته ننباسي ﴾ .

څه ښکلي دوه بیتونه وو چې پخوا به ما لوستل اوزه یې حیران کړی وم، هغه بیتونه د یوه عالم په پېژندګلوۍ کې ویل شوي وو : کله چې د لیلیٰ اوسلمٰی په څېرمخلوق باندې د عاشقانومینه د هغوی پوهه اوعقلونه له منځه وړي، نودهغه عاشق به څه حال وي چې د هغه زړه د پورته نړۍ ـ الله (ﷻ) ـ سره د شوق له امله خوځیږي .

﴿ یهود او نصارا وایي چې موږ د الله ځامن او دوستان یو، پیغمبره دوي ته ووایه چې الله پاک ولې تاسوته دخپلوګناهونوسزا درکوي﴾. المآئده ۵:۱۸

مجنون د لیلا مینې، قارون د مال مینې او فرعون دمنصب مینې مړه کړل، خو حمزه، جعفر اوحنظله (رضي الله عنهم) د الله تعالٰی اود هغه د رسول مینې مړه کړل، نو د دغو دواړو ډلوترمنځ ډېر واټن او توپیر دی .

***

## لنډه دمه

په امریکا کې د یوه کال په اوږدو کې د (۳۰۰) په شاوخوا کې د پولیسو مشران ځانونه وژني، چې له دې جملې څخه (۱۰) پېښې یواځې د نیویارك په ښارکې ترسره کیږي او له ( ۱۹۸۷ز) کال راهیسې هلته دا ډول ځانوژنې مخ په

لوړېدو دي . دې ستونزې داسې بڼه غوره کړې، چې چارواکي يې هم له پرېشانۍ سره مخ کړي دي، په همدې اساس د پوليسو د مشرانو ټولنې په دې اړه پلټنې او څېړنې وکړې، په پای کې دې پايلې ته ورسېدل چې د دې ستونزې ترټولوځرګند لامل د اعصابوهغه نا قراري ده، چې دغه خلک ورسره همېشه مخامخ دي . له دوی څخه هر وخت داغوښتنه کېږي چې دوی بايد په ستونزوکې کلک وي، بايد ټول هغه کړاوونه وزغمي، چې له مجرمانوسره د چلند پرمهال منځته راځي، يا د ماشومانو، ښځو او د پاخه عمرلرونکو خلکوپه څېرقربانيانو د ليدلو له امله ورته پېښېږي .

دويم لامل : له پوليسوسره په پرلپسې توګه وسلې وي، نو اسلحه هم ورسره د ځانوژنې په لارکې مرسته کوي او د ځانوژنې لار ورته برابروي .

اوداڅرګنده لاسته راوړنه ده چې اتيا-۸۰- سلنه د پوليسو ځانوژنه د دوی په خپلووسلوترسره شوي دي، درې ورځې سرپه سر درې ظابطانوپه خپلو"ميري" تفنګچوځانونه مړه کړي دي .

***

## مه خفه کېږه، ځکه چې دين اسانه دی

د هغولاملونوله جملې څخه چې د مسلمان زړه يخوي، هغه په اسلامي شريعت کې د اسانتيا او سوکالۍ ځانګړتيا ده . په دې اړه الـهي ويناوې :

﴿ ای محمده - دا قرآن موږ پرتا د دې له پاره نه دی نازل کړی چې تا په کړاو اخته کړو﴾ طٰه ۲۰: ۱-۲

﴿ تاته د شريعت اسانې لارې لاپسې اسانوو﴾. الأعلیٰ۸۷: ۸

﴿ الله هېڅ نفس ته له خپل زورڅخه پورته بار نه ورباروي﴾. آل عمران۳:۲۸۶

﴿ الله هر نفس د خپل توان په کچه ګوماري، هغه توانمندي څومره يې چې له خپله اړخه ورته ورکړی وي﴾. الطّلاق۶۵:۷

﴿ الله پرتاسو باندې په دين کې کومه ستونزه نه ده ايښې ﴾. الحج ۲۲:۷۸

﴿ پیغمبرله هغوی څخه هغه دروند پېټی اوزنځیرونه چې پرهغوی باندې وو لرې کوي﴾. الأعراف۷:۱۵۷

﴿ بېشکه چې له سختی سره اسانتیا شته، بېشکه چې له سختی سره اسانتیا شته ﴾. الشّرح۹۴:۵-۶

﴿ ای ربه موږ پرهغه شي مه نیسه، چې له موږ څخه په ناپامی یا هېره باندې شوی وي، ای زموږ ربه ! پرموږ هغه بار مه ږده چې موږ یې زور نه لرو، موږ ته عفوه وکړه، موږ ته بخښنه وکړه، پرموږ رحم وکړه، ته زموږ بادار او واکمن یې او پرکافرانو برلاسي راپه برخه کړې ﴾. آل عمران۳:۲۸۶

نبوي ویناوې : (( زما امت په غیر ارادي کار، هېره اوهغو کارونو نه نیول کیږي، چې پر زوره ورباندې منل شوې وي )) .

(( بېشکه چې دین اسانه دی اوهرڅوک چې دین سختوي، نوبیا پرې همدغه شریعت غالب شوی دی)) .

(( ناسم کارونه سم کړئ او یوبل ته نژدې او خوښ اوسئ)). (( زه په اسانه دین سره رالیږل شوی یم )). (( ستاسو غوره دین هغه دی چې هغه ترټولواسانه وي)).

په اوسنی زمانه کې یوشاعرته په خپل هېواد کې د وزارت د دندې منلو وړاندیز وشو، خو په دې شرط چې هغه به د دې دندې په بدل کې د خپلوښوهیلو، موخو او حق غوښتنې څخه لاس په سرکیږي، نو شاعر ورته په ځواب کې وویل : تاسوخپله ټوله دنیا واخلئ، خو زما زړه ازاد پرېږدئ، زه له تاسوڅخه د سترې پانګې خاوند یم، اګرکه تاسو مایواځې اوبې برخې ګڼئ .

***

## د هوساینې بنسټونه

د" اهلاًوسهلاً "مجلې په هغه ګڼه کې چې پر۳ / ٤/ ۱٤۱۵هـ ق نېټه خپره شوې وه، د پوهاند "حسان شمس باشا" یوه مقاله په کې چاپ شوې وه چې سرلیک یې داسې و ( له اندېښنې څخه د ځان ژغورنې شل سپاربښتنې)، نچوړ یې داسی دی، چې د هرانسان د اجل ټاکنې نېټه پای ته رسېدلې ده، په دنیا

کې هرڅه د الٰهي برخليک او پرېکړې پربنسټ سرته رسيږي، نوبنده بايد هېڅ ډول خفګان ونه کړي اونه پر پېښوباندې اندېښمن شي، د بنده روزي په اسمان کې ده، واك يې له الله تعالٰی سره دی، نه يې کومه ځانګړې ډله يا نژاد واک لري اونه يې کوم انسان مخنيوی کولا شي، تېر وخت له خپلوټولوغمونو او اندېښنوسره تېرشو،که د نړۍ ټول خلك د هغه د بېرته راګرځېدو له پاره راټول هم شي بيرته نه راګرځي . راتلونکی وخت لا د غيبي نړۍ يوه برخه ده، تر اوسه لانه دی راغلی او نه يې له تاڅخه د راتلو اجازه غوښتې ده، نو ترڅو چې هغه په خپله نه وي راغلی ته يې مه رابوله، له خلکوسره ښېګڼه، زړه ته خوښي اوسينې ته پراختيا وربخښي، ښېګڼه خپل خاوند ته ستر برکت، اجر او ثواب ورپه برخه کوي، اوپه همدغه وخت کې ورته د هغوخلکوله اړخه چې ده ورسره ښېګڼه کړې ده راحت اوډاډ په برخه کيږي . د مسلمان له خويونوڅخه يودا هم دی، چې کومې ناروا نيوکې ورته پېښيږي هغې ته هېڅ پاملرنه نه کوي، ځکه چې له کنځلو،سپکواو سپورو څخه د ټول مخلوق پالونکی هم نه دی خوندي شوی، چې هغه لا يو بشپړ ذات، د جلال، دبدبې، عظمت- لويوالي- او دسپېڅلو نومونوڅښتن دی . ما- ليکوال - په خپلوځو بيتونوکې داسې ويلي دي :   ولې ته دخفګان له امله خپلې پاکې اوښکې تويوې اوپه وېره باندې زړه پرېشانه کوې؟ دا هغه جليل رب ته وسپاره چې مخلوق کله دشپې له خوا ويده شي، نودرحمت دروازې يې پرانيستل شي .

***

## له نارواعشق څخه ځان وژغوره

پام کوه چې له عکسونوسره عشق - مينه - ونه کړې، ځکه چې دا کاريوه سمدلاسه اندېښنه او د مزاج له پاره دوامداره خړپړتياده . د مسلمان يوه نېکمرغي دا هم ده چې د شاعرانو له عشق، سختې مينې، لېونتوب، سودايي توب، د يوتون او بېلتون څخه د فرياد او له داسې نورو بېځايه خبروڅخه ډډه وکړي، ځکه چې له دغه کارسره ملتيا له تقوا څخه د خالي زړه نښه ده .

﴿ ايا تاهغه څوک ليدلی، چې له خپلو نفسي غوښتنو څخه يې خدای جوړ کړی وي او الله (ﷻ)هغه له پوهې سره سره بېلارې کړی وي، دهغه په غوږونواو زړه يې ټاپه وهلې اوپه سترګو يې ورته پردې غوړولي وي ﴾. الجاثيه ۴۵:۲۳

زه په خپله هغه کس یم چې خپلوسترګو مې مرګ راکش کړی دی، نو غوښتنه له چاڅخه کیږي، په داسې حال کې چې وژل شوی کس په حقیقت کې په خپله د ځان وژونکی دی . ( د ځانوژني لامل په خپله دی ). معنا یې دا ده، ماچې د کوم درد او پښېمانتیا مزه وڅکله زه یې ځکه جوګه او وړ وم، چې کومې پېښې ماته راپېښې شوي زه یې په خپله بنیادي لامل وم .

یو بل اندلسی شاعر په دې وياړي، چې هغه زیات عشق، محبت او ژوره مینه کړې ده، وایي چې : له ما څخه مخکې خلکو د بېلتون له درد څخه سرونه ټکولي، دېرژوندي اومړي د بېلتون په درد وېرول شوي دي، خو هغه څه چې زما پوښتنې یې راجوښتې کړي، نو دارنګه کارخو نه ما پخوا لیدلی او نه مې ورته په اړه څه اورېدلي . نو دغه شاعرکه دخپلوپوښتنیوپه منځ کې تقوا، د الله ذکر، روحپالنه او د بنده ګۍ تکلاره رانغاړلې وی، نوهرومرو به حق ته رسېدلی، دلیل به یې پېژندلی، سمه لاربه یې لیدلې اوپه روغه لاربه روان شوی وی .

﴿ که دشېطان له خوا کومه وسوسه درته پېښه شوه، نوله الله پاك څخه پناه وغواړه﴾. الأعراف ۷ : ۲۰۰

﴿ پرهېزګارانوته چې کله هم د شیطان له اړخه کومه وسوسه پېښه شي، نوهغوی ډېر ژر پند اخلي اوپه اسانۍ سره دحق لار ویني ﴾. الأعراف۷:۲۰۱

ابن القیم (رحمه الله) دا موضوع په خپلوکتابونو" الـدّآء والـدّوآء " رنځ او درمل " الجواب الکافي لمن سال عن الدواء الشافي " هغه څوک چې د رغوونکي درمل په اړه پوښتنه کوي - کې ښه څېړلي او څېړلې ده، په دغو دوو کتابونو کې ورته بشپړځواب شته . د عشق له لاملونو څخه یو څو په لاندې ډول دي :

۱ : د الله (ﷻ) له محبت، یادولو، شکر اوعبادت څخه د زړه خالي ساتل .

۲ : سترګې پرانیستي پرېښودل . ځکه چې همدا ناروا نظر زړه ته خفګانونه اوانديښنې راوړي . ﴿ ای پیغمبره! مؤمنانو ته ووایه چې خپلې سترګې ټيټې کړي اودخپلو فرجونو - شرم ځایونو- حفاظت وکړي ﴾. النّور۲۴:۳۰

(( سترګې جنګول د ابلیس له غشو څخه یوغشی دی)). شاعروایي : ته چې کله خپلې سترګې دخپل زړه له پاره لاربښود وګرځوې، نو د منظرونو لیدل به تاستړی

کړي، ځکه چې ته به ټول ترلاسه کولای نه شې، او له ځينو نوروڅخه به زړه صبرولای نه شې .

۳ : په عبادت، ذکر، دعاء اونفلونوکې سستي کول : ﴿ بېشکه چې لمونځ د بې حيايۍ اوناروا کارونومخه نيسي ﴾. العنكبوت۲۹:۴۵

دعشق درملنه اوله هغه څخه يوځودرمل : ﴿همدارنګه موږيوسف وژغوره، چې د بدو او ناوړو کارونومخه ورته بنده کړو، ځکه چې هغه زموږ له مخلصو بنده ګانوڅخه و﴾. يوسف۱۲:۲۴

۱ : د عبادت په درشلونوکې لوغړېدل، او له الله (ﷻ) څخه د سلامتيا او روغتياغوښتنه .

۲ : سترګې قابوکول اوفرج ـ شرمځای ـ خوندي ساتل : ﴿ مؤمنان خپل شرمځای پټ ساتي﴾. النّور۲۴:۳۰

﴿ مؤمنان هغه کسان دي چې خپل فرجونه خوندي ساتي ﴾.المؤمنون۲۳:۵

۳ : د هغه چامنطقه، کلی، وطن او يادونه پرېښودل، چې په هغه پورې زړه نښتی وي .

٤ : په نورونېکوعملونوځان بوختول : ﴿ بېشکه چې هغوی په ښېګڼوکې بېړه کوله او په هيلواو وېرې سره يې موږ ځانته بللو﴾. الأنبياء۲۱:۹۰

۵ : شرعي واده کول : ﴿ په ښځوکې له هغه چاسره واده وکړئ، چې خوښه مو وي ﴾. النّسآء ۴:۳

﴿ د الله (ﷻ) د قدرت له نښو څخه يوه دا ده چې ستاسوله ځانونوڅخه يې تاسوته مېرمنې پيداکړي، چې ورسره سوکاله اوسئ ﴾. الرّوم ۳۰:۲۱

رسول الله (ﷺ) وايي : (( ای د ځوانانوډلې ! په تاسو کې چې څوك د واده توان لري، نوهغه دې هرومرو واده وکړي )).

***

## د وروروليٰ حقونه

په دې خبره ستا مسلمان وروږخوشحاليږي چې په هغه نوم ورته غږ وکړې، چې ډېر يې خوښيږي . شاعر وايي : زه چې ورته کله غږکوم، نو له عزت نه په يوه ډک نوم ورته غږ کوم او په ناوړه لقب يې نه بولم، بل دا چې ته بايد له هغه سره د تل له پاره په خوشحاله او روڼ تندي مخامخ شې . حديث شريف دی چې : (( دا هم يوه صدقه ده که ته له خپل مسلمان وروږسره په روڼ تندي مخامخ شې)). (( مسلمان وروږته ستا مُسکا هم صدقه شمېرل کيږي)).

بله داچې ته بايدهغه وهڅوې، چې له تاسره خبرې وکړي او وخت هم ورته ورکړه، چې هغه د خپل ځان او احوال په اړه تا خبرکړي، ته بايدله هغه څخه د هغو ټولنيزو اوځانګړو کارونو پوښتنه وکړې، چې هغه ته ستونزه نه وي اوهمدا راز د هغه چارو ته بايد پاملرنه ولرې . (( چا چې د مؤمنانو په کارونو کې لېوالتيا ونه ښوده، نود هغوی له ډلې څخه نه دی . ﴿ مؤمنان سړي اومؤمنانې ښځې ځينې د ځينو نورو دوستان دي﴾ التّوبه ۹:۷۱

دا هم د وروروليٰ‌له حقوقوڅخه دي چې ته هغه د تېر وخت په کړنه ملامت نه کړې اونه يې وغندې او په ټوکواوملنډو يې مه ربړوه . (( ته له مسلمان ورور سره جګړه او ټوکه مه کوه او داسې ژمنه هم ورسره مه کوه چې بيا وروسته يې ماتوې)) .

***

## په ګناهونوکې رازونه ... خو ګناه مه کوه!

ځينو علماوُو ويلي دي، چې ګناه پربنده باندي مهرلګولو ته ورته ده، خو کله چې توبه وباسي بيا نو ډېر اسرار او حکمتونه لري چې ځيني يی په لاندي ډول دي : د بېځايه وياړ اوکبرختميدل، زياته بخښنه غوښتل، الله تعالیٰ ته رجوع، دهغه لورته پام ګرځول او توجه، عاجزي، پيښماني، د الٰهي تقديراو قضا سرته رسېدل او د الله تعالیٰ د تقدير او فيصلې په مقابل کی د تسليمی سرټيټول دي، له رازونواو حکمتونوڅخه يو هم د الله تعالیٰ د ښکلو نومونو او لوړو صفتونو، لکه رحيم، غفور او تواب په حقيقت ځان پوهول دي .

***

## روزي لټوه، خو حرص مه کوه

سبحان الله! الله څومره ښه روزي ورکوونکی دی، چینجي ته په خټه، ماهي ته په اوبو، مرغانوته په هوا او مېږي ته په تورو تیارو کې خپله ټاکلې روزي ورکوي . " ابن الجوزي " په خپل کتاب کې یوه نا اشناقېصه یاده کړې او وایي، چې یو وړوند مار د خورما ونې په سرکې اوسېده، یوې چینچنۍ - مرغۍ- به په خپله خوله کې هغه مارته غوښه راوړله، کله به چې مرغۍ مار ته ورنژدې شوه، نوخپل وزرونه به یې وخوځول او وبه چغېده، نو مار به خپله خوله پرانیسته، مرغۍ به ورته غوښه په خوله کې کېښوده، نو پاکي ده هغه ذات لره چې دا چینچنۍ یې دغه مارته تابع کړې وه . ﴿ داسې یومارغه نشته چې په خپلو وزرونو سره الوزي مګرهغه هم ستاسو په څېرمخلوق دی﴾. الانعام۶:۳۸

شاعر وایي : کله چې ته کوم مار ووینې چې خپل زهر شیندي، نوپوښتنه ورنه وکړه چې ته چا له زهرو څخه ډك کړی یې او دا هم ورڅخه وپوښته چې ای ماره ! خوله دې له زهرو ډکه ده ته څرنګه ژوند کوې ؟

مریم (علیها السلام) ته به سهاراوماښام محراب ته خوراک او څښاک وررسېده، زکریا(علیه السلام) ورته وویل : ﴿ دا له کومه ځایه دررسیږي، ورته یې وویل چې دا د الله له خوا ده، بېشکه د الله چې چاته خوښه شي پراخه رزق ورکوي﴾. آل عمران ۳:۳۷

مه خفه کېږه ځکه چې ستا د روزۍ ژمنه شوې ده ! ﴿ خپل بچي د نېستۍ له ډاره مه وژنئ، موږ هم تاسو ته اوهم هغوی ته روزي ورکوو﴾. الانعام۶:۱۵۱

بشریت باید په دې پوه شي چې د پلاراوبچې رازق هغه ذات دی، چې نه یې څوك زیږولی اونه ورڅخه څوك زیږېدلی دی . د سترو اولویوخزانوڅښتن تعالی د انسانانو د روزۍ ژمنه کړې ده، نوخفګان اواندېښنه د څه له پاره ؟

﴿ یوازې له یوه الله څخه روزي وغواړئ، عبادت یې وکړئ اوشکریې پرځای کړئ﴾. العنکبوت ۲۹:۱۷

﴿ الله هغه ذات دی چې خوراك اوڅښاك راکوي ﴾. الشّعرآء ۲۶:۷۹

***

## لنډه دمه

لمونځ د زړه په پاکولو، قوي کولو، پراخولو، خوشحالولو او خوند اخیستلو کې ستر اغېزلري، په لمانځه کې د زړه او روح اړیکې له الله (ﷻ) سره ټینګېږي او الله تعالىٰ ته بنده ورنږدي کوي، د الله (ﷻ) په ذکر او حضورکې د ودرېدو له امله هغه ته خوند اوخوښي ورپه برخه کوي، د لمانځه په واسطه د بنده ټول بدن، توان او آلات د رب په بنده ګۍ کې په کاراچول کېږي، د بدن هر اندام ته د الله تعالىٰ په عبادت کې ونډه ورپه برخه کېږي او د لمانځه په برکت د انسان تړاو، اړیکې، ناسته ولاړه او خبرې اترې له مخلوق څخه غوڅېږي، د زړه او اندامونو ټول توان يې د خپل خالق لورته ورګرځي، لمونځ بنده له خپل دښمن څخه خوندي ساتي، په داسې حال کې چې لمونځ د بنده له پاره ترټولوستره درملنه، خوشحالوونکی عمل او له هغو خوږوڅخه شمېرل کېږي، چې هغه له روغو زړونو پرته د بل څه له پاره وړ نه دي، خوهغه زړونه چې ناروغ دي هغه د بدنونو په څېردي، چې له ګټوروخوراکونوپرته ورته بل څه نه ښايي، نو لمونځ د دنيا او آخرت د ګټو ترلاسه کولو او د دواړو د زيانونود مخنيوي په برخه کې تر ټولوسترمرستندويه کاردی . لمونځ له ګناه کولوڅخه ژغورنکی، د زړونو د رنځونو مخنيونکی، له بدن څخه د ناروغۍ لرې کوونکی، زړه رڼا کوونکی، مخ سپينوونکی، نفس اواندام خوځوونکی، روزي راوړونکی، د تېري مخنيونکی، د مظلوم مرسته کوونکی، د ناروا شهوتونوځپوونکی، نعمت ساتونکی د عذاب مخنيونکی، د رحمت راوړونکی او د غم لرې کوونکی دی .

***

## اسانه شریعت

هغه څه چې مسلمان بنده خوشحالوي، هغه په اسلامي شريعت کې دډېرو ثوابونواو ډېرو ښو ورکړو شته والی دی او داپه هغو لسوکارونوکې چې ګناه رژوي په څرګند ډول ښکاري، لکه توحيد اوګناه رژونکي کارونه، نېکي، لمونځ، له يوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې دجمعې لمونځ، له يوې عمرې څخه تر بلې عمرې پورې عمره، حج، روژه او داسې نورنېک کارونه اوڅوچنده نور ثوابونه هم په نېکو کارونوکې شته، لکه : يوه نېکي په لسو نېکيو تر اووه سوه پورې اوڅوڅوچنده نورهم زيات ورکول کېږي، همدا راز توبه چې مخکېني ګناهونه پاکوي، غميزې هم ګناهونه رژوي، ځکه هر د ايمان خاوند ته چې څه غميزه پېښېږي، نو الله تعالىٰ يې دهغې غميزې له امله ګناهونه رژوي، ( د ګناه

رژېدو بل لامل)په غياب کې د يوه مسلمان بنده له پاره د نورو مسلمانانو دعاءکول، د زنکدن پرمهال ستونزه، د جنازې د لمانځه په صورت کې ورته د مسلمانانو دعاء او د محمد (ﷺ) شفاعت، چې د ټول مخلوق سردار او د ارحم الراحمين ذات رحمت دی .

﴿ که د الله يونعمت وشمېرئ، نو شمېرلی يې نه شئ ( يعني شکر يې پرځای کولای نه شئ ) النّحل۱۶:۱۸ ﴿ خپل ښکاره اوپټ ټول نعمتونه يې پرتاسو تمام کړي دي﴾ لقمان۳۱:۲۰

***

## مه وېرېږه ته برلاسی يې

درې ځله د موسیٰ (عليه السلام) په نفس کې وېره پيدا شوه : لومړی ځل چې کله د سرکښه فرعون شورئ ته ورننوت : ﴿ موسٰی وويل موږ وېرېږو چې پر موږ به تېری اويا سرکشي وکړي، الله (ﷻ) ورته وويل، تاسو دواړه مه وېرېږئ، بېشکه زه له تاسو سره يم، اورم او ګورم﴾. طٰه ۲۰: ۴۵-۴۶

مسلمان ته په کار دي، چې تل يې دا خبره په ذهن کې وي، چې مه وېرېږه بېشکه زه اورم او وينم .

دويم : کله چې کوډګرو خپلې امساګانې وغورځولې، نودغه مهال موسٰی (عليه السلام) په خپل نفس کې ووېرېده، الله تعالٰی ورته وويل : ﴿ مه وېرېږه بېشکه ته برلاسی يې ﴾ طٰه ۲۰:۶۸

درېيم : کله چې فرعون له خپل لښکرسره موسیٰ (عليه السلام) پسې روان شو، نوالله (ﷻ) موسٰی(عليه السلام) ته وويل : ﴿ په خپله امساباندې سمندر ووهه﴾. الشعرآء۲۶:۶۳

موسی (عليه السلام) وويل : ﴿ نه، هېڅکله داسې نه ده چې موږ به ګېرشو، بېشکه زما رب له ما سره دی، ماته لاره راښيي﴾. الشّعرآء ۲۶:۶۲

***

## له څلورو شیانو څخه ځان وژغوره

څلورشیان دي چې روزي کموي، زړه خفه کوي او مزاج خرابوي .

۱ : د الله (ﷻ) په پربکړه لیک اوبرخلیک خفګان کول او غصه کېدل .

۲ : پرته له توبې ویستلوپه ګناهونوکې لوېدل . ﴿ پیغمبره ورته ووایه دا ستاسود خپلونفسونوله اړخه دي﴾. آل عمران۳:۱۶۵

﴿ ستونزې تاسوته د خپلوکړنو له امله درپیښنی شوی﴾. الشّورىٰ۴۲:۳۰

۳ : له خلکوسره کینه کول او له هغوی څخه د غچ اخیستلومینه درلودل، پرهغو شیانوباندې کینه کول، چې الله تعالیٰ خلکوته له خپل فضل څخه ورکړي وي . ﴿ ایا له خلکو سره د دې له پاره کینه کوي، چې هغوی ته الله له خپل فضل څخه څه ورکړي دي﴾. النّسآء ۴:۵۴

٤ : د الله (ﷻ) له ذکرڅخه مخ ګرځول : ﴿ چاچې زما کتاب ته شا کړه، نو هرومرو به د هغه ژوند تنګ وي﴾. طٰه ۲۰:۱۲۴

***

## له خپل رب سره اوسېږه

بنده هلته هوسا شي چې خپل زړه له خپل رب سره وتړي، الله (ﷻ) د خپل کتاب په ځوځایونو کې د ډاډ بیان کړی دی: ﴿ الله په خپل رسول او مؤمنانو ډاډ یا د زړه سکون راولیږه﴾. التّوبه ۹:۲۶

﴿ الله پرهغوی باندې ارامتیا راوسته﴾. الفتح۴۸:۱۸

﴿ بیا الله (ﷻ) په خپل رسول باندې قراري راوسته ﴾. التّوبه۹:۲۶

﴿ الله (ﷻ) پرپیغمبرباندې ډاډ راولیږه﴾. التوبه ۹:۴۰

د الله (ﷻ) پرذات باندې د زړه قرار، ډاډ او پر رحمان ذات باندې د زړه ټینګوالي ته، پرقادر ذات باندې د توکل په بدرګه کې د خپل خیال او فکرقرارته، د نفس قرارولو، ورسره محبت کولو، چوپتیا اود نفس قابوکولوته سکینه- ډاډ -

وايي، چې همدا بيا د امن حالت دی، او د ايمان خاوندان ترې برخمن کيږي، چې په حيرانتيا اوپرېشانی کې يې له بنويېدلوڅخه ژغوري، له ګومان اوقهرڅخه يې خلاصوي اودا حالت د هربنده په الٰـهي محبت پورې تړلی دی، څومره چې خپل رب يادوی، شکريې پرځای کوي، پردين يې کلک ولاړ او د (ﷺ) پرقدم روان وي، د رسول الله(ﷺ) په لاربنوونو يې منګولې لګولې وي، له خپل خالق سره مينه ولري او په خپل کارکې پرخپل مالك باندې باوري، او له بل چا څخه بې پروا وي او د يوه الله عبادت کوي . ﴿ د دنيا او اخرت په ژوند کې الله هغه کسان په توحيد باندې ټينګوي چې ايمان يې راوړی دی﴾. ابراهيم ۱۴:۲۷

***

## دوه ستري خبرې

امام احمد (رحمه الله) وايي : د سختی پرمهال الله (ﷻ) ما ته په دوو خبروباندې ګټه راورسوله . لومړۍ خبره د هغه سړي وه چې د شرابوڅښلو له امله بندي شوی و، ما ته يې وويل، احمده ټينګ شه!! ځکه چې ته د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) د سنتو په ننګه کې په دورو وهل کيږې او زه څوځله په شرابوکې په دورو وهل شوی يم اوما صبر کړی دی .

﴿ که تاسو دردېږئ، نوهغوی ـ کفار ـ هم داسې دردېږي لکه تاسوچې دردېږئ او تاسو له الله څخه هيله کوئ د هغه څه چې هغوی ـ کافران ـ نه کوي﴾ .النّسآء۴:۱۰۴ ﴿ صبر وکړه ـ ای پيغمبره ـ بېشکه چې د الله وعده ريښتې ده ،او بې ايمانه کسان دې تا په تشويش کې وانه چوي. ﴾. الرّوم ۳۰:۶۰

دويمه خبره د هغه باندېچي وه کله چې امام احمد بنديخانې ته وړل کېده او په ځنځيرونوتړل شوی وهغه ورته وويل : ای احمده ! صبر وکړه ته په دې ځای کې وژل کيږي او له همدې ځای نه به جنت ته ځې .

﴿ د دوی رب دوی ته په خپل رحمت او رضا مندۍ اوجنتونوسره زېری ورکوي، دوی له پاره په دې جنت کې تلپاتي نعمتونه شته ﴾. التّوبه۹:۲۱

***

## د غمیزو ګټې

د دعاء له عبادت څخه د پټ راز راویستل : یونېک عمله شخص وایي، پاکي ده هغه ذات لره چې دعاء یې له مصیبت -غمیزې - څخه راوویسته . په یوه اثرکې داسې یادونه شوې چې، الله تعالىٰ یوصالح بنده په مصیبت - غمیزه - اخته کړ، بیا الله تعالىٰ پرښتو ته وویل دا د دې له پاره چې زه یې غږ واورم، یعنې په دعاء او زارۍ سره . له دې ګټوڅخه بله د نفس دسرکشۍ ماتول دي ، ځکه چې الله (ﷻ) وایي : ﴿ هېڅکله داسې نه ده ،بېشکه انسان ځکه سرکشي کوي چې خپل ځان یې بې پروا لیدلی دی﴾. العلق ۹۶: ۶-۷

په مصیبت کې د اخته کس له پاره بله ګټه د خلکومحبت او خواخوږي ده، ځکه چې خلك له غمځپلوسره همدردي او خواخوږي کوي، له دې فوایدو- ګټو- څخه د مصیبت په وړاندې د یوه داسې کارکول دي، چې غمیزه دهغه په مقابل کې ډېره کوچنۍ وي ، بیا نودا کارد غټواو وړوګناهونورژونکی اود الله (جل جلاله) په وړاندې په کې ثواب وي .کله چې بنده پوه شي چې دا ټولې د غمیزو مېوې دي، نوخوښ او هوسا شي، بیا ناهیلي نه مني . ﴿ بېشکه هرومرو به د زغم خاوندانوته بې حسابه اجرونه ورکول کیږي. ﴾. الزمر۳۹: ۱۰

***

## علم لاربنوونه او روغتیا ده

"ابن حزم" په خپل کتاب " مداواة النّفوس" کې دا یادونه کړې ده، چا چې علم ترلاسه کړ، نوله خپل نفس څخه یې وسوسه لرې کړه، غمونه او خفګانونه یې وشړل او دا یوحقیقت دی، په ځانګړې توګه د هغه چا له پاره چې له علم سره مینه لري، علم ترلاسه کوي، بیاپرې عمل کوي او دعلم اغېزه اوګټه څرګنده شي، خود علم په زده کوونکي لازم دي، چې خپل وخت په سم ډول ووېشي، د حفظ له پاره وخت، د تکراراوبیاکتنې، د لوستلواو قیاس، دجمع کولو اوترتیبولو او د سوچ او فکر له پاره بېل بېل وختونه وټاکي .

شاعر وایي : داسې شخص اوسه چې پښنه یې دځمکې په تل کې، او د همت کوپړی یې په ثریا کې وي . ( ثریا د ستوروغونچې ته وایي) . ژباړن

***

## کېدای شي چې خير وي

سيوطي په " الارجَ في الفرجِ " نومي کتاب چې د ډېرودېنپوهانوخبرې يې په کې رانقل کړي دي، نو دا ټولګه موږ ته دا راپه ګوته کوي، چې ډېرې خوښۍ په غميزوکې پرتې دي، اوکړاوونه کله ځينې داسې حيرانوونکي اوغوره حالات هم منځته راوړي چې بنده پرې ترهغې نه پوهېږي ترڅوهغه رابرسېره نه شي .

***

## نېکمرغي يوه الٰهي ورکړه ده

دا دحيرانتيا خبره نه ده، چې څوکسان د سرك په غاړه ناست وي، کارکوي او يو يې هم د يوې شپې او ورځې له پاره ډوډۍ نه لري، خوبياهم هغوی دغه ژوند ته خوشحاله وي، زړونه يې پراخ، بدنونه يې قوي او ډاډمن وي، دا ځکه چې هغوی ژوند د يوې ورځې په څېرپېژني اوخپل ژوند يې د تېر يا راتلونکي وخت په يادولوکې خوشې نه دی تېرکړی، بلکې هغوی دا خوښوي چې خپل عمرونه په خپلوکارونوکې تېرکړي .

شاعر وايي : زه د مړو او ژونديو د هيچا پروا نه لرم، ترهغې چې نفس مې د خلاصون په اړه زما لاره خپله کړي، د دغوخلکواوهاغه چا ترمنځ توپير وکړه چې هغوی په ماڼيوکې اوسېږي، خو د ماڼيو خاوندان حيران ګرځي، اندېښنو پسې اخيستي او په بېلا بېلولارو يې روانوي .

بل شاعر وايي : الله تعالیٰ دنيا د هرسپرېدونکي له پاره پراخه کړې ده، هرهغه څوك چې د اندېښنې څښتن وي هماغه به خپله پرېشانۍ کې کړېږي .

***

## په ښه نوم يادېدل اوږدعمردی

د مسلمان نېکمرغي به دا وي چې دوهم ژوند ولري، اوهغه داسې چې په ښه نوم ياد شي . حيرانتيا ده هغه چا ته چې ښکلی ياد په وړيا توګه په لاس ورشي، په مال، منصب او زيار يې وانه خلي، مخکې تېرشول چې ابراهيم (عليه السلام) له خپل رب څخه دا وغوښتل چې په خلکوکې دهغه نېك نوم پاتې شي هغه

چاته حيران يم چې په ښه عمل، درنښت ا وزيارسره يې وکړای شول خپل نېك نوم پرېږدي .

عمر(رضي الله عنه) د "هرم بن سنان" له زامنوڅخه وپوښتل، چې تاسوته "زهير" څه درکړي اوتاسو ورته څه ورکړي دي ؟ هغوی وويل هغه موږه وستايلو، نوموږ ورته مال ورکړ، عمر(رضي الله عنه) ورته وويل قسم دی هغه څه چې تاسو ورته ورکړي ووهغه له منځه ولاړل اوهغه څه يې چې تاسوته درکړي دي هغه پاتې دي، يعنې ښه نوم او ستاينه د ژوند په اوږدو کې پاتې شوه .

شاعر وايي :غوره خلك هغه دي چې ته ورسره په خوښۍ کې همکاري کوې اوهغه درسره د غم پرمهال همدردي کوي اواصيل خلك چې کله له غمونو او ستونزوڅخه خلاصون ومومي، بياهغه څوک نه هېروي چې د غريبۍ په جونګړه کې يې هغوی ته هرکلی وايه .

***

## سترې ميراثي قصيدې

درېيو قصيدو دهغه چا ياد د تل له پاره وساته د چا په اړه چې ويل شوي دي. نامتو"ابن بقيةالوزير" د "عضد الدوله" په لاس ووژل شو، بيا "ابوالحسن الانباري" د هغه په اړه ډېره ښکلې قصيده وويله، چې څه برخه يې په لاندې ډول ده : په مرګ او ژوندکې لوړتيا ده، بېشکه چې ته يوه معجزه يې، خلك له تاڅخه داسې چاپېرشوي وو، لکه دوی به چې ستا په ژوندانه ستا د ورکړو له پاره راټولېدل او يا لکه ته چې دوی ته د وېناوال په څېر ولاړ يې او دوی د لمانځه له پاره درېدلي وي . تاخپل لاسونه د دوی د عزت له پاره داسې اوږده کړي وو، لکه تا چې په ژوند کې د ورکړوله پاره هغوی ته غزول، کله چې دځمکې ګېډه له دې څخه تنګه شوه چې هغوی په کې ستا پېرزوينې پټې کړي، نوهغوی فضاء ستاپه قبربدله کړه، اوستا پرځای يې د وېرکوونکو مېرمنو ژړا راواخيسته، ته خوخاوره نه لرې چې زه ووايم هغه دې خړوبه شي، ته خو په خپله هرمهال ورېدونکی باران يې، د الله سلامونه دې پرله پسې پرتا وورېږي او پر تا دې د جنت ښايسته بويونه مبارک وي، دا چې د خلکوپه زړونوکې درنښت لرې، نوځکه ته د باوري کسانوپه ساتنه او څارنه کې شپه تېروی، له تاڅخه ګېرچاپېره هره شپه اورونه بليږي، لکه څرنګه به چې ستا په ژوند کې بلېدل .

ځومره ښايسته عبارتونه، ځومره ښايسته بيتونه، ځومره ښکلي ښېلګې او ځومره سترې معناګانې دي؟ کله چې " عضد الدوله " دا بيتونه واورېدل، نو له سترګو يې اوښکې وبهېدې او ويې ويل : کاشکې د ده پرځای زه وژل شوی وای او دا بيتونه زما په اړه ويل شوي وای . " محمد بن حميد الطوسي" چې کله د الله په لار کې ووژل شو، نو" ابوتمام " د هغه په حق کې ميراثي وينا وکړه : هرکا ردې دا ډول ستراوسخت وي، سترګوته هېڅ عذرنشته چې ونه ژړيږي، له محمد څخه وروسته هيلې مړې شوې، مسافرله سفرڅخه ايسارشول، سپين کفنونه سره شول، شپه لا نه وه رارسېدلې، چې کفنونه د شنو وربېښموشول، د دې خوندورې قصيدې ترپای پورې . "معتصم بالله"چې کله دا قصيده واورېده، نو ويې ويل : د هغه چاپه حق کې چې دا قصيده ويل شوې ده مړ نه دی . همدارنګه يوه بل سخي شخص چې د نامتوسپه سالار" قتيبه بن مسلم" له نسل څخه وخپل مال اومنصب يې د نېستمنو خلکوله پاره مصرف کړ، غمځپلو او اړوکسانوته يې مال او ولږې ځپلو ته يې خوراک ورکړ اوځوک چې په وېره اوترهه کې وو، دهغوی له پاره پناه ځای و، کله چې هغه مړشو نو يو شاعريې په اړه ووېل : کله چې "ابن سعيد" وفات شو، نو په ختيځ اولوېديځ کې داسې ځای پاتې نه شوچې هلته به د "ابن سعيد" ستايونکې نه وي د هغه د سخا لاسونه ما ترهغې پورې نه ووپېژندلي ترڅوچې هغه په ډېرو خلکوکې ورك شو، په تنګ لحد کې کېښودل شو، مخکې چې ژوندی وپراخ ميدانونه به پرې تنګ وو. ترهغې به پرتا ژاړم، چې په سترګوکې مې اوښکې وي او له دې وروسته ماته همدومره غمونه او دردونه بس دي، چې زما پښتيوېښ کړي دي، د پخوا په څېربه ستا له مرګ څخه وروسته نه دومره وکړيږم او نه به وخندېږم، پرته له تانه لکه چې بل هېڅ انسان مړشوی نه وي، او نه به پربل چا دومره ژړېدونکي ښځې راټولې شوې وي، ځومره چې ستا غميزه غټه ده همدومره ستا ستاينې هم سترې دي. "ابونواس"شاعرپه خپلو شعرونو کې د مصرد وخت امير"خصيب" داسې ياد ليکي، چې د وخت له تېرېدو سره سره د هغه نوم او تاريخ پاتې کيږي، ابو نواس وايي : که زموږ کاروان د "خصيب" د وطن ليدنه ونه کړه، نو له دې پرته به بيا بل کوم وطن ونه ګوري . سخا خو نه له ده څخه ببليږي اونه له ده پرته بل چېرې تميږي، بلکې دی يوداسې ځوان دی چې دخپل مال له لارې يې نېک نوم ترلاسه کړی او دی په دې پوهيږي چې ورځې اوړي را اوړي، يعنې حالات بدليږي. له دې وروسته خلك د "خصيب" د ژوند اوکارنامو په اړه له دې شعرپرته نورهېڅ معلومات نه لري .

***

## لنډه دمه

د پیغمبر(ﷺ) له دعاګانوڅخه : (( یا الله موږ ته ستا له خوف څخه هغه څه را په برخه کړې چې موږ له ګناهونو څخه وساتي، هغه طاعت راپه برخه کړې چې موږ جنت ته ورسوي، هغه یقین راکړې چې د دنیا غمیزې راباندې اسانه کړي، او ترهغې چې موږ ژوندي یو موږ ته په خپلوغوږونو، سترګو اوتولو قوتونوباندې خوند راپه برخه کړه، او دا له موږڅخه د میراث په شکل پاتې کړه یعنې د ژوندترپایه موهمداسې وساته ) او له هغه چاڅخه زموږ غچ واخله چې پرموږ یې تېری کړی دی، موږ ته په دین کې غم مه راپېښوه، دنیا موږ ته لویه موخه او دعلم پایله ونه ګرځوې، زموږ د ګناهونوله امله پرموږ هغه کسان مه واکمنوه چې پرموږ زړه نه سوځوي .

"علي بن مقله" وایي : کله چې زړونه ناهیلي او سینه له پراخۍ سره را تنګه شي او کړاوونه په ډاډه توګه ځای ونیسي، داسې چې د خلاصون مخ هېڅ نه لیدل کیږي اوهرغمځپلی بې اثرې شي، په دغه وخت کې ستا له نا امیدۍ سره سره د الله(ﷻ) له اړخه مرسته او د هغه احسان راورسیږي، تولې پېښې که سترې هم وي خو خلاصون هم ورسره ډېرنژدې ترلی وي .

***

## هغه رب چې نه تېری کوونکی او نه حق خوړونکی دی

ایا تاته په کار نه دي، چې نېکمرغي غوره کړې او د الله(ﷻ) ژمنو ته هغه وخت رامات او نرم شې کله چې ته په دې پوه شې چې په اسمان کې عادل رب او منصف حاکم شته، چې یوه ښځه یې له سپي سره د ښېګنې له امله جنت ته دننه کړه اوبله ښځه یې پرپیشوباندې د تېري له امله دوزخ ته وغورځوله . د بني اسرآئیلوهغه ښځه چې بدکاره وه، تږي سپي ته یې اوبه ورکړې، الله(ﷻ) ورته بخښنه وکړه اوجنت ته یې ننویسته، ځکه چې دهغې په زړه کې د الله(ﷻ) له پاره اخلاص و، اوهغې بلې ښځې پیشو په کوټه کې بنده کړې وه، خواړه او اوبه یې نه ورکول او دې ته یې هم نه پرېښوده چې د ځمکې ګیا وخوري، الله(ﷻ) هغه ښځه دوزخ ته ولیږله . نوهمدا قیصه به تا ته ګټه ورسوي او زړه به دې یخ کړي، ځکه چې ته پوهیږې الله(ﷻ) په لږعمل سره ډېره بدله ورکوي اوپه اندک شي باندې الله تعالیٰ بنده ته ډېرڅه ورکوي، په بخاري شریف کې په مرفوع حدیث سره نقل شوی چې:(( څلوېښت خویونه دي چې ترټولولوړ یې د یوې

اوزې یا مېړې بخشش کول دي، که هرڅوک په دغو خویونوکې په یوه باندې په دې خاطرعمل وکړي، چې جنت ته د داخلېدو د ژمنې ارزو لري او د ثواب په اړه یې باوري وي، نو الله (ﷻ) به یې جنت ته داخل کړي )) .

﴿ چا چې یوه ذره نېك عمل وکړدقیامت په ورځ به یې وګوري او که چا یوه ذره بد عمل وکړهم د قیامت په ورځ به یې وګوري ﴾. الزلزله ۹۹:۷ـ ۸

﴿ بېشکه نېکي چې ده بدي له منځه وړي﴾. هود۱۱:۱۱۴

له غمځپلي نه سختي لرې کړه، نېستمن ته څه ورکړه، له مظلوم سره مرسته وکړه، وږي ته ډوډۍ او تږي ته اوبه ورکړه، د ناروغ پوښتنه وکړه، جنازې پسې روان شه، وږوند له لاسه ونیسه، لار ورکي ته لاره وښایه، د مېلمه درنښت او له ګاونډي سره ښه سلوك وکړه، د مشراحترام اوپرکشر رحم وکړه، خپلې پیسې خیرات اوښکلې خبرې وکړه، خلکوته زیان مه رسوه اوهغوی وژغوره، چې په حقیقت کې دا ټول ستا له پاره صدقه ده . دا ښایسته معناګانې، اوچت صفتونه او کارونه دي چې د انسان له پاره نېکبختي راولي، سینه یې پراخوي، غمونه، خفګانونه پرېشاني یې له منځه وړي، ښه اخلاق څومره غوره او ښه شی دی !! که ښه اخلاق سړی وای، نو دا خو به د ډېر ښکلي، ښکلي بوي، ښه یاد او موسکا کوونکي مخ څښتن وی .

***

## خپل تاریخ په خپله ولیکه

زه په حرم کې ناست وم ډېره ګرمي وه، له ماسپښین یوساعت وړاندې یو سپین ږیری سړی اوچت شو او په خلکو یې یخې اوبه وېشل پیل کړل، یو ګیلاس یي په ښي او بل یی په کیڼ لاس کې و او د زم زم اوبه یې پرخلکوڅښنلې، چې یوکس اوبه وڅښې، نوترخوا یې بل ته اوبه ورکړي، تر دې پورې چې د ډېرو زیاتوکسانوتنده یې ماته کړه، خلك ناست دي او له دغه بوډا سړي څخه خولې بهیږي، هرچاخپل وار ته سترګې نیولي چې د دغه بوډا سړي له لاسه اوبه وڅښي، د دغه سړي کلکوالی، صبر او د خیرکارسره مینې درلودلو اوخلکو ته د موسکا په حالت کې اوبه ورکولوته حیران شوم، نوپوه شوم چې خیرهغه چاته اسانه دی چې الله تعالی ورته اسانه کړی وي، له الله (ﷻ) سره د خیر او احسان ډېرې خزانې دي چاته یې چې خوښه شي ورکوي یې، او الله تعالی د هغوخلکو په

لاس چې هغوی د الله (ﷻ) بنده ګانوته خیرخوښوي او شر ورته بد ګڼي ښه کارونه سرته رسوي، خوا که هغه لږ هم وي .

ابوبکر(رضي الله عنه) د پیغمبر(ﷺ) په حمایت ـ ساتنه- کې د هجرت په لارکې ځان خطرته مخامخ کړ، حاتم طایي په دې خاطرچې مېلمانه یې ماړه شي په ولږه ویده کېده . ابوعبیده بن جراح ټوله شپه د مسلمانانو دلښکر د راحت له پاره شپه ویښه سبا کوي، عمر(رضي الله عنه) په مدینه منوره کې دخلکودحالت د څرنګوالي له پاره په داسې حال کې چې خلك ویده وو د شپې ګرځېده اود "رماده " پرکال یې چې عامه قحطي وه خپله پرځان ولږه تېروله، ابوطلحه خپل ځان غشو ته مخامخوي، چې د الله پیغمبر وژغوري او ابن المبارك خلکو ته ډوډۍ ورکوي، خو په خپله روژه نیسي .

شاعر وایی : د ستورو په څېر بلکې له هغوی نه هم پورته مثالونه دي او ګهیځ غوندې روښانه معناګانې دي .

﴿ مال ورته ګران دی، خوبیا هم هغوی نېستمنو، یتیمانو- پلارمړو- او بندیانو ته ډوډۍ ورکوي ﴾. الانسان۷۶:۸

***

## قرآن ته غوږ شه

خپل اعصاب دې د الله تعالیٰ د کتاب په اورېدو سره قرارکړه، له تجوید سره سم تلاوت له هغه قاري څخه اورېدل چې ښه غږ ولري د الله تعالیٰ د رضا سبب ګرځي، ستا نفس ته ډاډ، زړه ته دې یخوالی او روغوالی ورکوي، پیغمبر (ﷺ) به دا خوښوله چې له بل چا څخه قرآن واوري او ډېر اغېزبه یې پرې کاوه، له خپلواصحابوڅخه به یې غوښتل چې قرآن ورته ولولي، نو د قرآن له اورېدلو به یې خوند واخیست او ارام به شو، حال دا چې پرهمدغه (ﷺ) قرآن نازل شوی دی، نو پیغمبر(ﷺ) ستا له پاره ډېرښه لارښود دی، که ته د ورځې او شپې څو دقیقې یا څه وخت لرې، چې راډیو یا ټیپ چالان کړې او د یوه ښه قاري تلاوت واورې دا غوره کار دی، د خلکو شور او تشویش ستا د ناخوښۍ ضامن او ستا د قوت له منځه وړونکی اوفکر دی شیندي، تاته په کې قرار او ډاډ نشته،بلکې په قرآن کې به ته ډاډه اوسې. هغوکسانوچې ایمان راوړی او زړه یې دالله تعالیٰ په یاد سره ډاډه کیږ ي،خبرشئ چې د الله په ذکرباندې زړونه ډاډ مومي .

ابن مسعود(رضي الله عنه) څخه پيغمبر(ﷺ) غوښتنه کوي چې قرآن ورته ولولي، نو د سورت "نسآء" څو ايتونه يې ورته ولوستل چې ورسره د پيغمبر(ﷺ) په غومبورو مبارکوباندې اوښکې راوبهېدې بيا يې ابن مسعود ته وويل چې اوس بس کړه !

پيغمبر(ﷺ) يوه ورځ د ابوموسیٰ الاشعري (رضي الله عنه) ترڅنګ په داسې حال کې تېرېږي چې هغه په مسجد کې د شپې قرآن لولي، پيغمبر(ﷺ) ورته غوږ نيسي، بيا ورته په سهار کې وايي چې تا بېګاه قرآن لوسته او ما درته غوږ نيولی و، ابوموسیٰ (رضي الله عنه) ورته وايي : ای د الله رسوله که زه خبر وی، چې تا راته غوږ نيولی دی، نو مابه درته خپل غږ لا پسې خوږ کړی وی .

له ابوحاتم څخه روايت دی چې رسول الله (ﷺ) د يوې سپين سرې ښځې د کورترڅنګ تېرېده چې د دروازې له شا يې د سورت "غاشيه" لومړی ايت واوريده چې لومړی ايت يې داسې و: ايا تاته د قيامت خبرراغلی دی؟ هغې بودۍ څوځله دا ايت تکرار کړ، نورسول الله (ﷺ) وويل : (( هو راغلی دی، هو راغلی دی)). بېشکه د قرآنکريم په اورېدو کې خوږوالی او په چوپتيا کې ورته ځانګړې مزه شته .

يو نامتوليکوال اروپا ته ولاړ او په يوه بېړۍ کې کېناست،په همدغه بېړۍ کې ورسره يوه مېرمن چې د يوګسلاويا تبعه وه هم سپره شوه، هغه يوه کمونيسته - له الله څخه منکره - ښځه وه، چې د " تيـتو" له ظلم څخه تښتېدلې وه د جمعې د لمانځه وخت پرې راورسېد، نوهغه ليکوال عالم پاڅېد، خطبه يې ولوسته اوبيا يې لمونځ وکړ، دجمعې د ورځې په لمانځه کې يې د "الغاشيه" او "الاعلیٰ" سورتونه ولوستل، دا ښځه په عربي نه پوهېده، خوقرآن ته يې غوږ نيولی و، له لمانځه وروسته يې له هغه عالم څخه ددغو آيتونوپه اړه پوښتنه وکړه هغه ورته وويل چې دا د الله تعالیٰ کلام دی، هغه ښځه هک پک او په دهشت کې پاتې شوه، هغه عالم وايي چې زه دهغې په ژبه نه پوهېدم چې اسلام ته مې رابللې وای .

﴿ووايه ای پيغمبره! که انسانان اوپېريان سره راټول شي چې ددې قرآن په څېرکلام راوړي، ان که يوله بل سره لاسونه هم يوکړي نو ناشونې ده،﴾.
الاسراء۱۷: ۸۸

قرآن پر زړونو باندې برلاسی او زورور دی، په روحونو باندې هيبت

او په نفسونو باندې اغېزناک قوت دی، د تېرو پېړيو نېکانوخلکو ته ډېرتعجب کوم، چې پرهغوی باندې قرآنکريم څومره اغېز درلود ؟ ﴿ که موږ دا قرآن په غره باندې نازل کړی وی، نوتابه هغه غر د الله له وېرې نه په عاجزی کې ټوټه ټوټه ليدلی وی﴾. الحشر٥٩: ٢١

علي بن الفضيل بن عياض(رحمه الله) چې کله يې له پلار څخه دا ايت واورېد،نومړشو: ﴿ نېغ يې ودروئ ! بېشکه له دوی څخه پوښتنه کيږي، بيا ورته ويل کيږي، ولې تاسويوله بل سره مرسته نه کوله﴾. الصّافات٣٧: ٢٤

حافظ ابن کثير(رحمه الله) وايي : عمر (رضي الله عنه) چې کله دا ايت اوري:﴿ که قرآن داسې وي چې غرونه د دې د حقانيت له پاره روان شي يا ځمکه پرې ټوټې ټوټې شي، يا پرې له مړو سره خبرې وشي ( نودا کافران به بياهم ايمان را نه وړي )﴾. الرّعد١٣: ٣١

نوپوره يوه مياشت داسې ناروغ شو، چې خلك يې بياپوښتنې ته ورتلل . امام ذهبي(رحمه الله) وايي، عبدالله ابن وهب د جمعې په ورځ په لاره تېرېده، چې يوه هلك دا ايت لوسته: ﴿هغه ورځ ياده کړه چې په اورکې به دوزخيان جګړه کوي﴾. الغافر ٤٠: ٤٧

نوعبد الله ابن وهب بې هوښه شو، درې ورځې په کور کې ناروغ پروت و او په څلورمه ورځ مړشو . يو دينېوه وايي، په مدينه منوره کې مې لمونځ کاوه، قاري صاحب سورت واقعه لوستله، زه داسې وېرې واخيستم چې په خپل ځای کې په رپېدوشوم او په بېواکه حرکت مې له ژړا او اوښکوسره پيل وکړ .﴿ له قرآن څخه به وروسته په کوم خبرباندې دوی ايمان راوړي ﴾. المرسلات ٧٧: ٥٠

خو داخبره زموږ دنېکمرغۍ له موضوع سره څه تړاولري؟ هغه اندېښنه چې انسان په کې څلرويشت ساعته ژوند تېروي، د دې خبرې ضامن دی چې د دغه انسان پوهه اوعقل له منځه يوسي، پرېشانه يې کړي او يا يې د ناکامۍ په فکر اخته کړي، خوکله چې د الله(ﷻ) کلام د يوه ښه غږ او مات زړه لرونکي قاري څخه واوري، غوږ ورته کېږدي، ځيرشي، نو پوهه به ورته بېرته راوګرځي، ناقراري به يې ختمه شي او نفسي غوښتنې به يې سړې شي . زه په دې خپله خبره تا له هغه چا څخه ايساروم چې د قرآنکريم پرځای هغوی دخپل نفس د سرښت له پاره ساز او سرود د ځان له پاره د نېکمرغۍ اوخوشحالۍ لاملونه ګڼي، په ساز او سرود يې کتابونه ليکلي، خپل غوږه اوښايسته وختونه

اوساعتونه هغه ګڼي چې سازاو سرود يې په کې اورېدلی وي، لکه د لوېديځ ليکوالان چې همدغه ساز او سرود د خپل ځان له پاره نېکمرغي بولي او د خپلو پرېشانيو د لرې کېدو لامل يې ګڼي . ﴿ د مشرکانوعبادت د کعبې په حرم کې له شپېلي او چکچکوپرته نور څه نه وو﴾. الانفال ۸:۳۵

﴿ د شپې د وخت تېرئ له پاره بدو کارونو ته کښېني﴾. المؤمنون ۲۳: ۶۷

دا د يوې ګناه قائم مقام اوحرام اورېدل دي، له موږ سره هغه خير شته، چې پرمحمد (ﷺ) باندې نازل شوی او رېښتينی ښه لارښود دی . ﴿ قرآن هغه کتاب دی چې مخکې او وروسته يې باطل نه شي راتلی، د حکيم ذات له اړخه نازل شوی دی ﴾. فصّلت ۴۱:۴۲-۴۳

قرآن ته زموږغوږ نيول يوه ايماني، شرعي، محمدي اوسنتي غوږنيونه ده.﴿ د اصحابوصفت دا وچې کله به يې قرآن واورېده او حق به يې وپېژنده، نو له سترګو څخه به يې اوښکې بهېدلې﴾. المآئده ۵ :۸۳

سازاوسرود ته غوږ نيول يوبېهوده کاردی داکارله احمقانو ، جاهلانو او بېعقلوخلکوڅخه بل څوک نه کوي .﴿ له خلکو څخه ځينې هغه څوك دي چې بې معنا خبرې اخلي، ترڅوخلك پرې د الله له لارې څخه بېلارې کړي ﴾. لقمان۳۱:۶ يعنې سازاوسرود يې مراد دی .

***

## هرڅوك د نېکمرغئ په لټه کی دي، خو...

يوعالم چې"اسکافي" نوميږي د "لطف التدبير" ترسرليک لاندي يې يو ډېرګټور، زړه راښکونکی کتاب ليکلی، چې د چلونو، نقشو، فرېبونواوځانګړو سياستونو په اړه په کې څېړنه شوی ده، چې ځينې پادشاهان، مشران، ليکوالان، شاعران او ځنيې علماء يې ددې له پاره ترسره کوي، چې نېکمرغي، مشري او واك لاسته راوړي، دوی هوسا، خوښ اوسي او خپلې موخې لاسته راوړي . د دغه کتاب ځينې سرليکونه په لاندې ډول دي .

نرم تدبير، د ګډوډئ مخنيوی، د شخړواو دښمنيو د روغې جوړې لارې، ماتې خوړونکي ته څه په کاردي، د دښمنانوپه دسيسوکې، د مشرپه وړاندې د کشر چلونه، د وينا له لارې د ناخوښه کارمخنيوی، په بدولارو چاروباندې د بدو

شیانو مخنیوی، په نرمښت سره د ناخوښه حالت مخنیوی، د ناخوښه شي د مخنیوي له پاره د نرمۍ لارې سنجول، د پادشاه خیال ساتل، د پادشاهۍ له چپه کوونکي څخه غچ اخیستل، له بدحالت څخه ځان ژغورنه، بې عزتي او له هغې څخه ځان ساتل، د یوکارد نه ځرګندولوپه موخه دبل کارځرګندول او دې ته ورته نورڅېرکي چې"اسکافي" په خپل کتاب کې ځېړلي دي، نو ومې وموندل چې هرڅوك د نېکمرغۍ په لټه کې دی، خو ډېرکم خلك ورته رسېدلي دي، له دې کتاب څخه مې درې غوره خبرې اوګټې را وویستې :

لومړی : چا چې الله تعالٰی خپل هدف اوهغه یې حاضر ونه ګڼه، نو ګټې به یې په زیانونو، خوشحالي به یې په غمونواو نېکۍ به یې په عذاب بدلې شي .

﴿ ژر دی چې دوی ته به زه په داسې طریقه مُهلت ـ وخت ـ ورکړم چې هغوی به نه پوهیږي ﴾. القلم ۶۸:۴۴

دوهمه : هغه سختې لارې چې شرعي نه دي اوډېر خلك له دغو لارو څخه سعادت ـ نېکمرغي- غواړي، نوهغه غلطې لارې دي، خو اساني اوسمې لارې د محمدي شریعت لارې دي، چې د دنیا اوآخرت خیرته پرې خلک رسیږي . ﴿ که دوی هغه کار وکړي، چې د هغه په اړه ورته وعظ کیږي نو د ابه ورته غوره او ډېره کلکه لار وی﴾. النّسآء۴: ۶۶

دریېمه : له ډېرو خلکوڅخه دنیا او آخرت دواړه ولاړل، خوهغوی تر اوسه په دې فکرکې دي چې موږ په سمه لار روان او نېکمرغه یو. دوی نه په دې دنیا اونه په آخرت کې بریالي شول، سبب یې دا دی چې هغوی له هغې لارې څخه مخ ګرځولی، پرکومه لارچې الله (ﷻ) پیغمبران رالیږلي اوکتابونه یې پرې نازل کړي دي . ﴿ ستا د رب ویناپه رېښتینولۍ او انصاف باندې پای ته رسېدلې ده، د الله (ﷻ) د خبرو بدلوونکی نه شته﴾ . الانعام ۶:۱۱۵

یو وزیرپه نېشو اوتماشو بوخت و، چې په یوه ستره اندېښنه اولوی غم ککړشو، نو چغې یې وهلې : ایا مرګ چېرته پلورل کیږي چې زه یې واخلم، زما دا ژوند خو داسې دی چې هېڅ خیرپه کې نشته، زه چې له ورایه قبر ووینم نو زړه مې غواړي چې زه په کې وی، کاشکې الله تعالٰی پر یو ازاد نفس ورحمیږي، تر څو خپل ورور ته خپل مرګ د خیرات په توګه ورکړي . مقصد یې خپل ځان دی .

***

## لنډه دمه

د سوکالۍ پر مهال باید ډېره دعاء وشي، دا معناچې په امن، ښه ژوند او روغتیا کې دعاء په کار ده، ځکه د شاکراو پوه مؤمن نښه دا وي، چې غشی له ویشتلومخکې راوباسي، له تنګلاسۍ څخه مخکې الله تعالیٰ ته ورګرځي او بدمرغه کافر او بېعقله مؤمن دا کا رنه کوي .

﴿ کله چې انسان ته کوم کړاو ورسیږي، نو په خورا زارۍ سره خپل رب رابولي، خوکله چې الله پرې له خپل اړخه پېرزو وکړي، نو بیاهغه څوک هېرکړي چې پخوا به یې ورته زاري کوله او د الله له پاره سیالان پیدا کوي﴾.یونس۱۲:۱۰

نوڅرګنده شوه چې که څوك له غمونو او سختیو څخه خلاصون غواړي ورته لازمه ده چې په زړه او ژبه له الله تعالیٰ څخه بې پروا نه شي، بلکې دهغه ذات پاکي بیان کړي او ستاینه او زاري ورته وکړي . لکه څرنګه چې امام "حلیمي" ویلي چې د سوکالۍ پرمهال له دعاء څخه مراد د شکر، ستاینې او پر نعمتونوباندې اقرارکول دي، د توفیق، مرستې او ملاترغوښتنه او له انسان څخه چې کوم کارشوی وي د هغه په اړه د بخښنې غوښتنه په پورتنۍ دعاء پورې اړه لري، ځکه چې بنده څومره کوښښ وکړي د الله تعالیٰ حقونه نه شي پوره کولای، څوك چې ورڅخه د روغتیا، امن او وزګارتیا په وخت کې بې پروا شو، نو د الله (ﷻ) دا قول پرې تصدیق کوي : ﴿ له حق څخه منکرین چې په بېړۍ کې کښېني په ډېراخلاص د الله تعالیٰ سره د توحید او کلک دین ژمنې کوي، خوکله یې چې الله په امن سره وچې ته وباسي،نوسمدلاسه الله سره شریک ونیسي﴾.العنکبوت ۲۹:۶۵

***

## جنت او دوزخ

تېروالو ورځپاڼودا خبرخپور کړی و، چې د فرانسې د ولسمشر"متران" لومړي وزیرځانوژنه کړې وه، لامل یې دا و چې ځینوفرانسوي ورځپاڼو پرې د نیوکو، ښکنځلو او بدنامولو یرغل کړی و، نوهغه بېچاره چې له ایمان او الٰهي ډاډ څخه بې برخې و او نه یې کوم ډاډمن ځای درلوده چې ورته ورغلی وای، نوبیره یې وکړه اوځان یې وواژه . هغه بېچاره انسان چې د خپلې ځانوژنې هوډ وکړ، نو په حقیقت کې له هغه الٰهي هدایت څخه بې برخې و، چې د الله(ﷻ) په کلام کې شته. ﴿ دهغوی چلونو ته مه خفه کېږه﴾. النّحل ۱۶:۱۲۷

بېشکه چې هغه ځانمرګي وزيرد هدايت کيلي ورکه کړې وه : ﴿ تاته له ستونزې پرته نورزيان نه شي در رسولای﴾. آل عمران۳:۱۱۱

﴿د کافرانو په وينا باندې صبروکړه اوپه ښه توګه ورڅخه لرې شه﴾.المزمّل ۷۳:۱۰

﴿ الله چې څوک بېلارې کړي، نو بل لارښود نه لري ﴾ الاعراف ۷:۱۸۶

هرغمجن اوخفه انسان ته د بې دينه خلکو وصيت دا وي، چې هغه دې د نهرپرغاړه کېښېني، ساز او سرود دې واوري يا دې د شطرنج لوبه وکړي او يا دې په واورو کې خويندي اويخمالک وکړي .خود اسلام او رېښتينو بنده ګانو لارښوونه دا وي، چې د اذان اواقامت ترمنځ د جنت په ښونو کې کېښېني، د الله تعالٰی په ياد غږ وکړي، الٰهي برخليک او پرېکړوته ځان وسپاري، د الله (ﷻ) په وېش باندې خوښ شي او پر الله (ﷻ) تکيه وکړي .

***

## ايا ستا سينه موږ ونه څېرله

سورت "شرح" چې پرپيغمبر(ﷺ) باندې نازل شو، نو پرمبارك وجود يې دغه ايت ښخ شو، خاطريې خوشحاله اوسينه يې پراخه شوه. پيغمبر(ﷺ) نېکپال، زړونه خوشحالونکی، د ولولو ژوندی کوونکی، د کارونو اسانونکی، زړونو ته نژدې، له شان او شوکت سره سره ساده، د هيبت په لرلو خلکوته نژدې، د درنښت په فضاکې د شونډو په سرخندېدونکی، په لوړ شان کې خلکو ته ګران، ښاري او کليوال ته اشنا اونېک خويه، تندی به يې راروان کس ته ورين و، راتګ به يې روښانه، حيا ناك، او ريښتيا تو‌کو ته خوښېدونکی او د الله تعالٰی په ورکړه به خوښ و، نا هيلي او ذلت يې نه منل، ډېرې خبرې، سخت الفاظ کارول يې بدګڼل لويي يې نه خوښوله، څکه چې د پيغمبرۍ څښتن، د اصولو خاوند، د اُمت لارښود، د نسلونومشر، د قومونو ښوونکی، د کورنۍ پالونکی، تولوونکی، مثالي زېرمه، بشپړ شخصيت، د ښوخويونو تولنځی، د سخاوت سمندر، او د رڼا ختيځ و . لنډه دا چې د اسانۍ له پاره اسانوونکی و. ﴿ دا پيغمبر له هغوی څخه هغه بارونه او ګناهونه لرې کوي، چې د هغوی پر اوږو پراتــه وو ﴾. الاعراف۷:۱۵۷

رسول الله (ﷺ) د تول عالم له پاره رحمت دی اوهمدا بس دی . ﴿ بېشکه چې موږ ته لېږلی يې - ای پيغمبره - زېری ورکوونکی - پرجنت - وېروونکی- له

دوزخ نه ـ او د الله په لور بلونکی او روښانوونکی څراغ ﴾. الاحزاب۳۳:۴۵-۴۶

هغه څه چې له اسانه رسالت سره په ټکر کې دي، هغه په دين کې د خوارجو بېځايه سخت دريځي، د منطقيانو زندقيت، د صوفيانو ناپوهي، د کبرجنو ځيرکي، د شاعرانو بېعقلي او د سندرغاړوعشق او لېونتوب، د دنياپالو بې خيري او په پيچکاري شويوفکرونو پسې تلل دي .

﴿ الله هغوکسانوته چې ايمان يې راوړی و د خپلې مهربانۍ له مخې هغه ريښتنې خبره وروښوده، چې دوی په کې فکري بېلتون درلود اوچاته چې د الله خوښه شي نو نېغه لار ورته ښايي ﴾. البقره۲ :۲۱۳

***

## د ښه ژوند معنا

يوزيرك انګرېز داسې وايي : ستا له توانه دا پوره ده چې د زندان د اوسپنيزو پنجرو له شا څخه د اسمان ځنډو ته وګورې، او له خپل جېب څخه يو ګل را وباسې، بوی يې کړې او وخاندې او په خپل ځای کې خوشحاله شې، خوکه ته په ماڼۍ کې پر ورېښمين فرش ناست يې، ښايي را وپارېږې، په قهراو نارامه شې، نو نېکمرغي په کوم ځانګړي وخت او ځای پورې اړه نه لري، بلکې دا په ايمان او د الله تعالٰی په طاعت کې پرته ده . سعادت په زړه کې وي او زړه د الله تعالٰی د ليدو ځای دی، کله چې يقين په زړه کې پوخ شي، نونېکمرغي راپورته شي، په روح او نفس باندې د خوښۍ اونېکمرغۍ هوا وچليږي، بيايې اغېز پر کاڼو، بوټو، کندو اونورو هم پرېوځي .

امام احمد بن حنبل په هغو سپينو پيوندي جاموکې د نېکمرغۍ ژوند تېرکړ، چې په خپله يې ګنډلې وې، درې ختينې کوټې يې درلودې، يوه ټوټه ډوډۍ به يې له غوړو سره خوړله، د امام يوجوړبوټان وو، او تاريخ ليکونکي دهغه په اړه وايي چې تر-۱۷- کلنو پورې يې هماغه يو جوړبوټان په پښو کړل، کله به چې وشکېدل بيا به يې پيوند وروګنډه . په مياشت کې به يې يو وار غوښه خوړله، ډېرې ورځې به روژه و، ځمکه به يې د احاديثو دعلم په پسې ګز او ګام کوله، نود دغوټولو ستونزو له ګاللوسره سره هغه سوکاله، ډاډه، ثابت قدم او د لوړ همت خاوند و . د ثواب غوښتونکی و، د خير په کار کې مخکښ او د اخرت له پاره يې کارکاوه . د الله تعالٰی جنتونو ته لېواله و او په هغه زمانه کې خلفاء

هغه خلك وو، چې پرېنړی یې حکومت کاوه، لکه مامون الرشید، واثق، معتصم او متوکل . هغوی مانۍ، کورونه، سره او سپین، لښکرې، ځمکې او شتمنۍ درلودې او ټولې غوښتنې یې پوره کېدې، خو له دغو ټولوسره سره هغوی په کړاو،غم اوخفگان کې اوسېدل، اوخپل ژوند یې په اندېښنو، غمونو، تشویشونو، جنگونو، انقلابونو او شور او شر کې تېرکړ، ځینې نور یې لا داسې هم وو، چې د زنکدن پرمهال به یې په خپلو ناوړه کړنو او د الله د حق د نه پرځای کولو له امله پښېمانتیا ښرگندوله .

ابن تیمیه (رحمه الله) نه کور، نه کورنۍ، نه مال، نه خپلوان او نه منصب درلود، د بني اُمیه جامع مسجد ترڅنګ په یوه کوټه کې اوسېده . د ورځې یې یوه ډوډۍ په برخه وه، دوه جوړه جامې یې لرلې، کله به په مسجد کې ویده کېده، خو له دغو ټولو سره سره لکه څرنګه چې دخپل ځان په اړه په خپله ویلي دي، جنت یې په سینه کې، مرګ یې د شهادت او زندان ورته دعبادت ځای و، له وطن څخه شړل ورته چکر ښکارېده، دا ځکه چې د ایمان ونه یې په زړه کې وه، چې ښانګې یې هرمهال د الله په امر ښایسته مېوه ورکوي او د الله تعالی له طرفه د پاملرنې تېل یې ښارنه کوي . ﴿ له اور لګېدو پرته په خپله رڼا کوي او د رڼا له پاسه رڼا ده، چاته چې د الله خوښه شي دخپل نور په لور ورته لاره ښيي ﴾. النّور۲۴:۳۵

﴿ الله تعالی یې ټولې بدې کړنې ورژولې او دهغوی حال یې ښه کړ﴾. محمد ۴۷:۲

﴿هغه کسان چې سمه لارې غوره کړه، الله به یې لاپسې هدایت قوي او نوره ډېره پرهېزګاري ورپه برخه کړي ﴾. محمد۴۷:۱۷

﴿ ته به یې په څېرو کې د نعمتونو تازه والی پېژنې ﴾. المطففین ۸۳: ۲۴

ابو ذر(رضي الله عنه) "ربذې" سېمې ته ولاړ، هلته یې خیمه ودروله، خپله ښځه او لونې یې هلته له ځان سره مېشت کړل، ډېر وخت به یې روژې نیولې، د الله تعالی ذکر یې کاوه، دخپل خالق ثناء او پاکي یې بیانوله، عبادت او تلاوت به یې کاوه، په فکرکې به ډوب و، په دنیا کې یې یواځې یوه خیمه، یوه رمه ګډې، یو غوری، یوه کاسه او یوه امسا درلوده . یوه ورځ یې ملګري لیدلو ته ورغلل، ورته یې وویل دنیا چېرته ده !؟ هغه ورته وویل : څومره چې زه ورته اړتیا لرم هغومره دنیا زما په کورکې ده، موږ ته پیغمبر(ﷺ) خبرراکړی، چې زموږ مخې ته یوسخت بند دی، چې اووښتی ترې نه شی، بلکې هغه څوك به

ترې تېرېږي، چې پېټې يې سپك وي ( ګناهونه يې کم وي ). ابوذرد پراخې سينې او سړې خوا څښتن و، څه يې چې غوښتل هغه ورسره وو، خوکوم شيان چې ورسره له اړتيا نه زيات ووهغه يې په فکرکې کارونه، غمونه، ستړتياوې او انديښنې ښکارېدې . يوشعر چې سرليک يې دی "ابو ذر په پنځلسمه پېړۍ کې" په دې شعر کې د ابوذر د بې کسۍ، نېکمرغۍ، هجرت او اصولو انځور وړاندې شوی چې په دې ډول دی : د هغوی پرما زړه وسوزېده، ماهغوی ته ګوته وځنډله، بيا ماته هغوی د مرګ اخطار راکړ، نو زه نرم شوم تردې چې هغوی پوه شول، نو زه يې سپورکړم، خو زه کوز شوم اوپرخپل عزم سپورشوم، بيايې ښکته کړم بيا زه دحق په لارکې پرنفس سپورشوم ( يعنې حق مې ونيو) زه مرګ لوري ته منډې وهم او مرګ راته شاکړه، هرڅومره چې مرګونه راپاڅوم هغوی ويده دي . زما بې کسۍ ته شکې په ژړاشوې، ويې ويل : ای ابو ذره مه وېرېږه، له صبرڅخه کار واخله!! ما ورته وويل : وېره نشته زه لا تراوسه د يقين په ځوانۍ کې يم، لا خومړنه يم، تر څو چې ترخاورو لاندې پټ نه شم ما له خپل ملګري محمد (ﷺ) سره ژمنه کړې او د هغه له ارمانونوڅخه مې درس اخيستی دی .

***

## اوس نېکمرغي څه شی ده

حديث مبارک دی چې : (( په دنيا کې د لاروي په څېرژوند کوه )) .

(( خوښي ده د بې کسه لارويانو له پاره)) . نېکمرغي دعبدالملك بن مروان په ماڼۍ، د هارون رشيد په لښکر، د ابن جصاص په کورونو، د قارون په خزانو، د ابن سينا د شفا په کتاب، د متنبي په ديوان او د قرطبې په باغونوکې نه ده . د اصحابو په اند  نېکمرغي له تنګ لاسۍ، سخت ژوند، د مال د لاسته راوړنې د پاکو لارو د کارولو او د دنيايي لګښتونوله کمښت سره يوځای ده . نېکمرغي له سعيد ابن المسيب سره په دينپالنه، امام بخاري سره دهغه په صحيح البخاري، حسن بصري سره په رېښتيا، امام شافعي سره د احکامو په راويستلو، امام مالك سره د هغه په زهد، امام احمد سره په الـهي خوف او له ثابت البناني سره په عبادت کې وه . الله (ﷻ) وايي : ﴿ دا ځکه چې دوی ته د الله په لارکې هېڅ تنده، ستوماني او ولږه نه رسيږي، نه دوی داسې څه اخلي چې کافران پرې په قهرېږي اونه له دښمن څخه څه ګټه ترلاسه کوي، خو په بدل کې به يې دوی ته نېك عمل ليکل کيږي ﴾. التّوبه ۹:۱۲۰

نېکمرغي کوم نغد چك- پربانک حواله- نه ده چې په نغدو روپوبدلیږي، نه کوم حیوان دی چې پلورل کیږي، نه ګلاب دی چې بوی کیږي، نه غنم دي چې تلل کیږي اونه لباس دی چې اغوستل کیږي، بلکې سعادت- نېکمرغي- د مزاج تسلي، د زړه د هغه مرام له پاره پراختیا ده چې ورته ژوند کوي، اوهغه قلبي راحت دی چې د ده په څنګ کې وي . موږ دا فکر کاوه، چې موږ خپل کورونه پراخ او ډېرکړو، شیان ډېرشي، د ژوند ټول وسایل راکړل شي، نوموږ به نېکمرغه او خوشحاله شو، خو ومو لیدل چې هغه لاپسې د غم، پرېشانۍ او خپړتیا لاملونه وو، ځکه چې هرشی بېل بېل غم، جدا ستونزه او باج لري .

﴿ ته خپلې سترګې هغه شیانو ته مه غړوه، پرکوموشیانوچې موږ د الله د دښمنانو بېلابېلې ډلې ته پرې هوسا کړي دی، چې هغه د دنیا د لږ ژوند تشه ښکلا ده، دا د دې له پاره چې موږ پرې دوی وازمایو﴾. طٰه ۲۰:۱۳۱

بېشکه محمد (ﷺ) په نړۍ کې سترمصلح و، چې د لارښوونې استازی و، خوخپل ژوند یې په فقرکې تېرکړی دی، له ولږې څخه به تاوېده، ادنی خورما یې هم نه درلوده چې خپله ولږه یې پرې درمل کړې وای، خوبیاهم هغه په نعمتونو کې اوسېده اوهغه نعمتونه له الله تعالیٰ څخه پرته بل چاته معلوم نه وو، په پراخه سینه راحت او خوښۍ کې ډاډه او ارام و . ﴿ له تا څخه موهغه دروند پېټی لرې کړ، چې ستا شایې درنده کړې وه﴾. الشّرح۹۴: ۱-۲

﴿ د الله تعالیٰ پرتا لویه مهرباني وه﴾. النّسآء ۴:۱۱۳

﴿ الله پاك ښه پوهیږي چې پیغمبري او رسالت چاته ورکړي ﴾. الانعام ۶:۱۳۴

صحیح حدیث دی چې : (( ښایسته اخلاق نېکي ده اوګناه هغه شی دی چې ستا سینه پرې تنګه شي او تاته دا بده ښکاره شي چې خلك پرې خبرنه شي )) .

نېکي د زړه له پاره راحت او د نفس له پاره کرښت دی، شاعروايي : نېکي تلپاتې ده ان که ډېر وخت پرې تېرشي اوګناه بدترینه هغه توښه ده چې تا ساتلې ده . نبوي وینا ده : (( نېکي ډاډګېرنه او ګناه شك اونارامي ده )) .

نېك انسان همېشه په راحت او سکون کې وي او شکمن او ګناه ګار همېشه په حیرانۍ، پریشانۍ او خطرونو کې وخت تېروي . ﴿ ګومان کوي چې هره چېغه د دوی پر خلاف ده﴾. المنافقون۶۳:۴

سبب دا دی چې دوی ګناه کړې ده، نو ګناهګار اوبدکاره انسان باید په پریشانۍ، شك او خفګان کې وي اوباید ووېرېږي . شاعر وايي : کله چې انسان بدکاره شي، نوبدګومانه شي اوخپل هغه خيالي اټکل ته چې ورباندې عادت شوی وي د ريښتياپه سترګه ګوري .

څوك چې نېکمرغي غواړي حل يې دا دی چې نېکي وکړي، له بدۍ نه ځان لرې وساتي، چې په امن کې شي . ﴿ چاچې ايمان راوړ، خپل ايمانونه يې له کفرسره ګډ نه کړل هغوی له پاره هدايت او امن دی﴾. الانعام۶:۸۲

يوسړی په سورلۍ سپورپه بېړه را روان دی پر سر يې دوړې باديږي، غواړی چې سعد بن ابي وقاص ته ځان ورسوي، سعد (رضي الله عنه) خپله خېمه د يوې دښتې په منځ کې لګولې، له شورځخه ګوښه، له بېځايه کارونواو دنيوي زينت څخه وړاندې، له خپلې کورنۍ سره په خېمه کې ځانته، يوڅو ګډې هم ورسره دي، نو سړی چې کله را نژدې شو، ګوري چې هغه يې خپل زوی عمر و، خپل پلار ته وايي : ای پلاره خلك په مشرۍ باندې شخړه کوي اوته خپلې ګډې څروې! نو سعد (رضي الله عنه) ورته ووېل، ستا له شرڅخه په الله باندې پناه غواړم، پرما چې اوس کوم څادرګورې له دې څخه زه د خلافت لومړی حقداريم، خو ما له رسول الله (ﷺ) څخه اورېدلي دي چې: (( الله تعالی مينه کوي له هغه چا سره چې په زړه موړ، پرهېزګاره اوپه خلکو کې ورک وي، يعنې له خلکونه ګوښه وي )) .

انسان چې په خپل دين ثابت وي د فارس او روم له پاچاهۍ څخه ورته غوره ده، ځکه چې دين له تاسره همېشه وي، ترهغې چې ته په جنتونوکې د استوګنې جوګه شې، خوپاچاهي اومنصب ـ لوړې پوړۍ ـ له منځه تلونکي دي .

﴿ بېشکه موږ د زمکې اوڅوك چې پرې اوسيږي وارثان يو او موږ ته به راګرځي﴾. مريم ۱۹: ۴۰

***

## پاکې خبرې الله ته خېژي

الله تعالی ته ښايسته خبرې ورخېژي، له اصحابوسره د پاکو اوبرکتناکو خبروهغه خزانې وې، چې ترټولوغوره انسان محمد (ﷺ) ورته ښودلې وې، هغه خبرې چې دوی به د دنيا اوڅه چې په دنياکې دي له هغې نه هم ښې ګڼلې . د

هغوی د درنښت له نښوڅخه داهم وې، چې د شیانوکچه او ارزښت یې پېژنده ابوبکرصدیق له پیغمبر(ﷺ) څخه وغوښتل چې دعاء ورته وښايي، پیغمبر(ﷺ) ورته وویل، ووایه : (( ای ربه! بېشکه ماپرخپل ځان ډېرتېری کړی او له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلای،ماته بخښنه وکړې، راباندې ورحمېږې، بېشکه چې ته بخښونکی اود رحم څښتن یی)) .

پیغمبر(ﷺ) خپل کاکاعباس (رضي الله عنه) ته وايي : (( له الله تعالیٰ څخه عفوه او روغتیاغواړه. علي (رضي الله عنه) ته وايي چې ووایه : (( ای الله ماته دهدایت لاره وښایه او ما پرې برابر کړه )).عبید بن حصین(رضي الله عنه) ته یې دا دعاء وښودوله، ووایه : (( ای الله ته ماته هدایت را په برخه کړې او د نفس له شر څخه مې وساتې )). شدّاد بن اوس (رضي الله عنه) ته دعاء: (( ای الله زه له تا څخه په نېغه لار د ټینګ ګام د عزم، ستا د نعمتونود شکر، ستا د ښایسته عبادت، د روغ زړه او ریښتینې ژبې غوښتنه کوم، هغه خیردرڅخه غواړم چې ته پرې پوهېږې او له هغه شرڅخه تاته پناه دروړم، چې ته پرې پوه یې او د هغه څه د بخښنې غوښتنه کوم، چې ته پرې پوهېږې، بېشکه ته په پټوشیانو ډېرپوه یې )) . معاذ (رضي الله عنه) ته وايي، ووایه : (( ای الله له ماسره ستا په ذکر شکراوښه عبادت کې مرسته وکړه)) .عائشه (رضي الله عنها) ته وايي، ووایه : (( ای الله بېشکه ته د ډېرې بخښنې خاوند یی، عفوه دې خوښه ده ماته عفوه وکړه )) .

د دغو ټولو دعاګانوموخه په آخرت کې د الله تعالیٰ د خوښۍ او رحمت غوښتنه ده، له قهراو سخت عذاب څخه یې دخلاصون دعاء، په عبادت کې یې د مرستې، توفیق اود هغه شکر پرځای کولوغوښتنې دي، او اصلي نښلونکې نقطه په کې دا ده، چې له الله (ﷻ) څخه د هغونعمتونوغوښتنه ده، چې خزانې یې ډکې او له دنیایي شیانوڅخه مخ اړول دي، په پورتنیودعاګانوکې د دنیا د ورکېدونکي مال، د فاني دنیا له منځه تلونکو شیانواو د هغې د بې ارزښته سینګارونو دعاء نشته .

***

## ستا رب چې تېري کوونکي سیمې ونیسي، نوبیایې نه پرېږدي

بېشکه د بنده هلاکت، پېښې خوېېدل، یا له منصب څخه غورځېدل یې په دې کې دي، چې د الله پاک پرمخلوق باندې ظلم وکړي، د هغوی حقوق اوبرخې